شهامت

د شهامت د لسمې کلیزې پر ویاړ
د نړیوالې سوداګریزې میډیا کردار په اړه څو پوښتنې!

لسم کال، شپږمه، پرلپسې ٦٢مه گڼه، رجب ١٤٣٨هق، اپریل٢٠١٧م

د افغانستان د اسلامي امارت
د تأسیس د یوویشتمې کلیزې په مناسبت

- کرزی له چا وطن آزادول غوښتل...؟!
- امریکا له افغانستانه څه ترلاسه او څه یې ورکړل ...!؟
- د جېمز متیس تر سیوري لاندې ظهور
- د طالبانو سیاسي خوځښت
- نړۍ بیا د ستر جنګ په مورګه ...
- د امریکایي ښکېلاک، د نویو وسلو تجربه ګاه...!

طالبان د اردو عسکر ولې وژني؟؟

پشت پرده‌ای پرتاب «مادر بمب»
از سوی مادر تروریزم

د هند په نیمه وچه کې د دیني علماوو او روحانیونو
د علمي، جهادي او سیاسي مبارزې تاریخ ته یوه ځغلنده کتنه!

آن ابر مرد آشنا...
(یاد بودی از ملا صاحب کبیر-رحمه الله-)

شهامت
د تېر یوه کال په رڼایې بهیر کې

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

لسم کال، شپږمه، پرلپسې ۶۲مه ګڼه، رجب المرجب۱۴۳۸هق، اپریل۲۰۱۷م

لـــړلیـــک

مخ	عـــنـــوان	ګـڼـه
۱	سرلیکنه..........................	۱
۳	شهامت د تېر یوه کال په رسنیز بهیر کې..................	۲
۵	آن ابرمرد آشنا..........................	۳
۷	طالبان د اردو عسکر ولې وژني؟..................	٤
۹	کرزی له چا وطن آزدول غواړي؟!..................	۵
۱۱	د افغانستان اسلامي امارت د تأسیس یوویشتمې کلیزې په ...	٦
۱۳	امریکا له افغانستانه څه ترلاسه کړل او څه یې ورکړل؟..........	۷
۱۵	د نوي کال عملیاتي بریدونه څرنګه باید عملي شي..........	۸
۱۸	د سنګین فتحه او د غربي مطبوعاتو تبصرې..................	۹
۲۰	په ۲۰۹ شاهین قول اردو برید کوونکي څوک وو؟..................	۱۰
۲۲	اې په سرولاړ اسمانه ولې نه ژاړې په چیغو؟!..................	۱۱
۲۳	نړۍ بیا د ستر جنګ په مورګه..................	۱۲
۲۸	د جیمز میټس تر سیوري لاندې ظهور..................	۱۳
۲۹	د طالبانو سیاسي خوځښت..................	۱٤
۳۰	د ماشومانو روزنه څنګه وکړو؟..................	۱۵
۳۵	د اسلامي هیوادونو طبیعي شتمنۍ د نړیوال استکبار هدف....	۱٦
۳٦	ګلورینې پاڼې..................	۱۷
۳۸	دې ته وایي چاپه!..................	۱۸
۴۰	د جمعیت علماء اسلام سلیزه..................	۱۹
۴۲	د هند په نیمه وچه کې د علماو علمي، جهادي سیاسي مبارزې..	۲۰
۵۱	اسلامپالو ته یوه ترخه یادونه..................	۲۱
۵۳	پشت پرده ای پرتاب (مادر بمب) از سوی مادر تروریزم.......	۲۲
۵۵	او به په نهاره څښل..................	۲۳
۵۸	د امریکا ښکېلاک د نویو وسلو تجربه ګاه..................	۲٤
٦۱	عربي نړۍ او پر ضد یې یو بل شوم پلان..................	۲۵
٦۵	[illegible]	۲٦
٦۸		
٦۹	امام عبدالرحمن ابن الجوزي رحمه الله..................	۲۹

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیـر :

ابو ظهیر

کتـنـپـلاوی :

شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن "علوي" بلال "وحید"
نعیم "صافی" عابد مجاهد
قاري حبیب

بـیــه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یـــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د شهامت د لسمي کليزې پر ويار

د نړيوالې سوداګريزې ميډيا کردار په اړه څو پوښتنې!

په رښتيا هم د مطبوعاتي چارو سرته رسول نازک، باريک او حساس مسؤليت دی ،په خاصه توګه اوسني عصر-يا دور کې چې يو پلو مطبوعاتو او رسنيوته دولسونو دپوهاوي او و ښتابه د فکري قيادت او منصب په سترګه کتل کېږي او بل لورته ته د اخلاقي زوايې له ليده دولسونو دهلاکت ، بربادۍ اوتباهۍ زريعه هم ګڼل کېږي!په دې توګه هر د شعور اوپوهې خاوند پوهيږي چې نن سبا د ولسونو ، نظامونو او هېوادونو په تعمير او تخريب دواړو کې ميډيا څومره مهمه ونډه اوکردار لري!!

هم دا لامل دی چې نن سبا په هرځای ، هرهېواد او هرښار کې ورځپاڼې، مجلې او بريښنايې رسنۍ دژوندانه دومره مهمه اړتيا ګرځيدلې چې هيڅ لوستی انسان ترې ځان خلاص او بې پروا نه حسوي!دشک پرته په دې مهم اومؤثر ميدان کې دمجاهدو ليکوالو اوقلموالو شتون اودهغوی لخوا د مطبوعاتي مبارزې لړ کې دګټورو مطبوعاتي فنپارو پنځولوته اړتيا له پخوا څخه زياته ليدل کېږي.

ولې که مونږ په نړيوال ډګر او خصوصاً اسلامي هېوادو کې دميډيا کردار وڅيړو، راته د ناهيليو اومايوسيو پرته بل څه په نظر نه رازي او وينو چې غربي هېوادونه او ځواکونه دميډيا له نړيوال ستيجه په ګټه ګرده نړۍ کې دلويديځ په پلوۍ دخلکو دذهنونو اړولو سربيره د مسلمانانو حيا ،عفت ،ننګ او ابرو هم لوټوي او داسلامي هېوادو دننه دهغوی نقالان په سپين سترګۍ سره دکفر ، الحاد او لادينيت مفکوره خوروي.

هو! دميډيا دازادۍ شعار نه په ناوړه ګټه اخيستو دنړۍ ځواکمن هېوادونه دمسلمانانو ديني او اخلاقي ارزښتونه ترپښو لاندې کوي ، دمسلمانانو مقدسات توهينوي او ځوان کهول يې فکري او عقيدوي انحراف ته بولي

جوته ده چې دنړيوالې ميډيا دازادۍ شعار هيڅ حقيقت نلري، ځکه داسلامي ارزښتونو پايمالول او دمسلمانانو توهينول ازادي نده ؟ دتروريست او بنسټ پال په نومونو دمسلمانانو تورنول او دهغوی دفکر او ضمير زندۍ کول ازادي نده!

ښکاره ده نړيواله میډيا يرغمال شوې او مالکان يې دامريکا او نورو ابرقدرتو هېوادو له لوري دخرو پشان په بيه پيرل - او پلورل کېږي، دنړۍ بدمعاش هېوادونه دهمدې میډ يا يې چينلونو له لارې دخپلو گټو خوندي کولو لپاره خپله تبليغاتي مفکوره (ترهگرې) تبليغوي، دمثال په ډول نن چې ټوله نړيواله ميډيا امريکايانو او لويديځ کرايه کړې او په هرهېواد او هرځای کې يې خپل د کرايې ليکوالان ، تحليل گران او شناندي گومارلي، هغوی يواځي هغه مواد نشر- ته سپاري دکومو دنشر په اړه چې د امريکا اولويديځ د ځارگرۍ ادارو لخوا فرمايش ورکول کېږي، لکه امريکا او لويديځ نړۍ کې يوې داسې پلمې ته اړتيالري چې نړيوال وډاروي اوترمنځو يې ترهه خوره کړې ، هغه دی وينو نړيواله ميډيا دامريکا او غرب دځارگرۍ ادارو په ځار اوفرمايش د دنامرئي ترهگرۍ خيالي مفکوره دومره ډېره تبليغ کړې چې په نړۍ کې هر سړی د دې خيالي عفريت له ډاره په وهم او ډار کې مبتلی دی.

دمبالغې پرته بايد موږاومنو او هم دکوم ډار پرته بايد ووايو چې په نړۍ کې داوسني ډار او ترهې اوياسلنه نړيواله ميډيا خوروي او هم دلويديځ ځارگرۍ نړيوالو ادارو په ملتيا ميډيا کوښښ کوي چې په راتلونکي کې هم دترهگرۍ پلمه اوشوشه دنړيوالو په اذهانو کې ژوندۍ وساتي؟ ځومغرضو هېوادوته هروخت په ازادو هېوادو کې د پوځي مداخلو او لاسوهنو چانس برابر وي، په خاصه توگه هغه هېوادونه چې له امريکا سره د خپلو ديني او ملي ارزښتونو په سر معاملې او سوداته غاړه نه ږدي لکه دافغانستان اسلامي امارت چې دامريکا سره دخپلو ملي او ديني ارزښتونو په سر هيڅ کومي معاملې ته حاضر نشو په ضد يې دنړيوالې ميډيا دپراخ تبليغ وروسته امريکا پخپله مشرۍ د ۴۹ هېوادو د هرډول ملاتړ په بدرگا پوځي يرغل وکړ، دادی شپاړس کلو تيريدو وروسته هم امريکا دخپلې نړيوالې اجندا سره سم جگړې ته دوام ورکوي او نړيواله ميډيا قدم په قدم دامريکا سره ولاړه ده او دامريکايانو په گټه دترهگرۍ دخيالي عفريت د ډار مفکوره خوروي

هم دا سبب دی چې په اسلامي هېوادو کې ډيری ځوانان دنړيوالې ميډيا کردار ته دشک په نظر گوري او ټول کړه وړه يې داشتباه وړبولي.

د نړۍ يوشمير بيطرفه سياسي اوپوځي کارپوهان زيرک او هوښيار انسانان هم په کلکه نړيوالې ميډيا ته د واگو اچولو غوښتنه کوي !او د نړيوالې ميډيا له مالکانو او چلو و نکو پوښتنه کوي چې دوی ولې دنړيوالو ځارگرو اداروترځار لاندې دنړۍ د ځواکمنو هېواد دگټو لپاره کارکوي؟ او ولې دنړيوالو ځارگرو ادارو دجهان نيولو مفکوره شيندي؟

بل د نړيوالې ميډيا نه پوښتنه کوي چې نړيوال سوداگر ولې دترهگرۍ دخيالي عفريت په پلمه اوبهانه په نړۍ کې دازادو هېوادو دطبعي زيرمو او شتمنيو قبضه کولو اړتيا حسوي؟

په لنډو ټکيو کې وايو چې دنړيوالې ميډيا دازادۍ او بې پرېتوب شعار حقيقت ندی، ښکاره دوکه او فريب دی ، هيځکله نړيواله ميډيا دنړيوالو سوداگرو او زبرځواکو له منگلو ازاده نده! دبيطرفه کتونکو په اند: نړيواله ميډيا خام استعدادونه او تنکي ځوان صلاحيتونه دخپلو سوداگريزو اهدافو لپاره گوماري، چې دا کار دسوداگرۍ په نوم يو مذموم اوکرکجن حرکت دی.

دفرصت نه په گټه شهامت؛ او شهامتپال قلموال يو ځل بيا خپل تير کړی عهد تجديدوي چې تورته د تور - سپين ته د سپين ويلو اصل ته په پام به دنړيوالې سوداگريزې ميډيا مغرضانه او تير ايستونکي نشرات او تبليغات که خدای کول ننگوي او هم به يې مکر او فريب ټولې مطبوعاتي دسيسې په نطفی کې شنډوي انشاء الله .

شهامت

د تېرېوه کال په رسنيز بهيرکې

د عابد ليکنه

پرهيواد دغربي تاړاک په وړاندې زمونږ دمبارزې په لړکې فرهنګي مبارزې هغه ځای خپل کړی،چې دظاهري اسبابوله مخې يې خپلول ناممکن و اوداهغه حقيقت دی، چې دښمن ورباندې اعتراف کولوته باربار اړشوی، نو په ټوله کې دمجاهدينو فرهنګي مبارزه همداسې روڼه او سپېڅلې ده لکه دهغوی سياسي او نظامي مبارزه .

په دې ډګرکې که چاپي خپرونو کوم ځای نيولی وي، دشهامت دوزينې مجلې سياسي، علمي، اوفني محتواته په کتو ويلې شو چې هغه به دشهامت مجله وي .

دتېرېوه کال په بهيرکې يې چې څومره خپرونې کړې ټولې يې دستايلودي په تېره ددې مجلې علمي اوتحقيقي ليکنې چې خورا په زړه پورې او ددې لارې دڅېړونکو تنده يې سيراب کړې.

ددې ربښتونې ستاينې سره په ځنګ کې هغه څه هم دليکلو دي چې شاوخوا اوربدل کيږي اوشايد ګنګوسې يې دمجلې ترچلوونکو هم رسيدلی وي، هغه داچې : دتجدد اوتحدث په دې نړۍ کې دبرېښنايي وسايلوډېرچټک پرمختګ په ټوله کې په ټولو چاپي خپرونو اغېزکړی اونورې يې دمؤثريت له رويه ترخپل سيوري لاندې راوستي دي، ترڅو چې داسې فکر کيږي يواځې ورځپاڼې به تريوه حده له دې اغېزڅخه مصؤنې وي اوبل هيڅ راز چاپي خپرونه له دې اغېزڅخه پاته نه ده.

دې حقيقت ته په پام اودکالګڼې له فرصت څخه په ګټه دشهامت د درنې مجلې چلوونکو او ليکپلاوي ته يوڅو نيکې مشورې او وړانديزونه په مخکې ږدم، هيله ده دخواخوږۍ اوصميميت له مخې يې ومنلي:

لومړی :

دابايد ومنو چې دهرې رسنۍ دبريا رمز دلوستونکو په راخپلولو اوجذب کې پروت دی، داسې چې دهغوی غوښتنوته ځواب ووايي اوتنده يې خړوب کړي، يواځې ترخلکو لاس رسی هم دبري رمز نه دی چې ترهرڅا خپل غږ رسول دې دمقبوليت اساس شي، داځانګړتيا که څه هم په برېښنايي رسنيوکې شته ولې بياهم مونږډېرې برېښنايي رسنۍ او ويبپاڼې وينوچې له يوځل ليدو پرته يې بل ځل چامخ هم نه دی ليدلی .

بل لورته داسې چاپي خپرونې شته چې په اوونۍ يامياشت کې يوځل خپريږي، خولوستونکي پرې سرماتوي اوترځمکې نه پاته کيږي، شايددلته يوداسې عنصر-وي چې خپلول يې يوه خپرونه دعصرله عصري وسايلو هم بې پرواکولی شي .همدلته ده چې په رسنيزبهيرکې زمونږ مسيرپه نښه کيږي اوهدف ته د رسيدو رازمو په ګوته کوي .

دویم :

دیوې مجلې یاخپرونې استقلال که په هرڅومره قیمت وي بایدوساتل شي:

لوستونکي له بهرڅخه په یوه خپرونه په قضاوت کې خپلواک وي، ترهغو ستاپه قضاوت حکم نه کوي، ترڅو چې ستاخپلواکي اونشراتي استقلال عملاونه ویني، استقلال په دې معنی نه چې هرڅوک هرڅه غواړي هغه دې ولیکي اوپه هیڅ چوکاټ کې دې پابند نه وي، بلکې مجله به یې منسوبه وي، مسیربه یې معلوم وي، اودفکر په لحاظ به یې نسبت هم ځرگند وي، خو بیا هم ستالوستونکی په دې باوري وي چې په رسنۍ کې خپرونې اولیکنې دچا دفشار نتیجه نه ده اونه هم دتملق او دبل دخوښۍ اثر دی .

دیوه اړخ ټولې کړنې مثبتې ارزول او یاهم یواځې مثبت یې نشرول او منفي نکتې یې له پامه غورځول هم درسنۍ استقلال ته زیان رسوي، بلکې په کارده چې داصلاح او ابلاغ په نیت په منفي داهم کار ولرل شي اودحق په لاره کې جرئت له لاسه ورنکړل شي .

دریم :

دمنسوب لوري له راز سره همرازه کېدل:

دکوم جهت له سنگر څخه چې یوه رسنۍ په مطبوعاتي دفاع کې قرار لري ، ضروري ده چې دهغه جهت په رازکې شریکه وي اوداسې څه نشرته وسپاري، ترڅو دخلکو باور پرې ترلاسه کړای شي، یواځې نسبت دهغه لوري نمایندگي نه شي کولای اونه هم څوک پرې باور کوي .

داپه دې معنی نه چې دمنسوب لوري اسرار وپاشل شي، بلکې په خپلو تبصرو، سرلیکنو، قضایاوو او سیاسي لیکنو کې یې داسې څه وي چې استناد او اعتمادپرې وشي، دامفهوم به په یوه مثال کې هم وړاندې کړم. مثلاً : دیوې قضیې په اړه درسمي ویاند له لوري سیاسي موقف څرگند شي، خو که ځینې جزئیات دمنسوب جهت په مطبوعاتو کې نشرشي (لکه څنگه چې دود هم دی) نو په دې سره ددغو مطبوعاتو ارزښت لوړیږي اودخلکو باور پرې ترلاسه کېدای شي .

څلورم :

نشراتي معیاردې تل په پام کې ونیول شي :

هره خپرونه دخپلو خپرونو دنشر لپاره یومعیارلري اوپه ډېره سخته اړتیاکې هم له دغه معیارڅخه پښه نه اړوي، ترټولو مهم اوهغه ټکی چې دخپرونې حیثیت ته ډېرزیان رسوي دادی چې دلیکنې په ځای لیکونکي ته وکتل شي اوشخصي مراعت داصولو دمراعت ځای ونیسي .

هیڅکله ضروري نه ده چې یوې نشریې ته لیکنې پوره نه وي، خودوخت په پوره کېدو دې چې هرڅه وي بایدخپاره کړي .

دغه یوڅو ټکي مې له پخوا په ذهن کې ول، دموقع اوفرصت په انتظاروم، ځکه دې ټولې دشهامت ترخپورنې نه تخصیص کیږي،هیله ده چې ددې وزینې مجلې پراداره هم درانه تمام نه شي، بلکې دمطلق خپرونې دبقااو پایښت لپاره یوڅو اړین توکي دي چې وجود یې زما په ذهن کې له پخواخونشر- یې ددې کالگڼې دفرصت برابرېده شول .

دټولو جهادي خپرونو دلابریا په هیله .

آن ابرمرد آشنا...

(یاد بودی از ملا صاحب کبیر - رحمه الله-)

ابو صهیب حقانی

چهارم ثور (۱۳۹۲/۲/۴هـ‌ش) برگی زرین و نو در تاریخ ماست روزی که مصادف با رحلت جانگداز رهبر عالیقدر امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد - رحمه الله - است؛ قائد پر افتخار و فرمانده دلیر اسلام، موسس امارت اسلامی افغانستان در چنین روزی داعی اجل را لبیک گفت و پس از عمری مبارزه و جانفشانی در راه دین حق، و گذاشتن میراث گرانبهاء و پر ارزش (امارت اسلامی) و تاریخ پر افتخار جهاد، جان به جان آفرین سپرد.

انا لله و انا الیه راجعون.

او رهبری عالیقدر، فرمانده ای دلیر، احیاءگر مجد و عزت اسلام، سمبل استقامت و بیداری، نماد وحدت و یکپارچگی، مردی از جنس عدالت و تقوی، علمبردار بیداری و رشادت، بت شکن دوران، کفرستیز زمان و بزرگمردی که با قیام خود یاد و خاطره خلفای راشد صدر اسلام را احیاء کرد؛ مردی که افتخار آفرید و سرزمین افغانستان را یکبار دیگر از ورطه ذلالت و سقوط تاریخی نجات بخشید.

آن ابرمرد آشنا ...

نام او آشناست به تمام اهل عصر، اسم او زمزمه ای زبان هر ایمانداری است که قلب اش برای اسلام و دین می تپد، او که غم و غصه ای جز اسلام نداشت، و جز به ذات الله متعال به هیچ کسی در بشر تن نداد.

آن ابرمرد آشنا...

وقتی کلام پاک رب خود را تلاوت نمود و این آیه را «قُلْ إِنَّ صَلَاتِی وَ نُسُکِی وَ مَحْیَایَ وَ مَمَاتِی لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ» در عمل مصداق بخشید که قیام، قربانی، زندگی و مرگ او فقط خالصانه برای الله و در رضای الله رب العالمین است و لاغیر.

آن ابرمرد آشنا ...

هر کسی که تاریخ خلفاء راشدین و جهانگشایان صدر اسلام را در کتاب های تاریخی خوانده بود؛ اما مصداق عملی اش را در زندگی خود ندیده بود وقتی به زندگی ملامحمد عمر مجاهد - رحمه الله - نگاه می

افکند بدون اغراق مصداق عملی آن بزرگمردان - رضوان الله عنهم اجمعین - را در زندگی این ابردمرد آشنا در می یافت.

آن ابرمرد آشنا...

ساده زیست، بی آلایش، عاری از کبر و غرور، بدور از تشریفات حکومتی و شاهی، خاکی و متواضع، شکسته و با وقار، بی تکلف و عاجز؛ اما در عین حال شجاع و با غیرت، رادمرد و با هیبت، با جلال و بزرگمنش ملامحمد عمر مجاهد - رحمه الله - بود که روز خود را به خلق خدا و تحقق عدالت اختصاص داده و شب خود را در خلوت با ذات الهی با گریه و دعاء آراسته و مزین می فرمود.

آن ابردمرد آشنا...

وقتی دنیا صدا به نابودی اسلام و نظام اسلامی کشید و تهدید به اشغال و حمله نمود؛ بجای ترسیدن و لرزیدن، سکوت و خموشی؛ شامخ تر از کوه ایستاد و زمانی که دنیای کفر به تانگ و توپ و تجهیزات و ارتش خود می بالید او قرآن شریف به کف گرفته و به داشته های ایمانی و قدرت لایزال الهی تکیه کرده و چنان با وقار در مقابل طواغیت عصر قیام نمود که کافه اهل عزت و تقوای بر ایمان آن مرد مومن آفرین گفته و بر غیرت و مردانگی اش تحسین نمودند و کافه اهل شرک و کفر از عظمت و هیبت آن مرد بزرگ لرزه بر اندام شده و مثل افعی های زخمی در خود پیچیدند.

آن ابرمرد آشنا...

کسی که عرب و عجم مسلمان به حکومت او افتخار، به عدالت او تحسین، به مبارزه اش اعتراف، به تقوای او باور، به ایستادگی اش یقین، به نترسی و غیرت او تصدیق و به ایمان و توکل او به خداوند متعال یقین و باور کرده و بر روح و روان او در حیات و بعد از ممات درود و سلام فرستادند.

و اینک که مبارزه با کفر صلیبی به سر منزل مقصود رسیده و بوی نظام عمری به مشام می رسد واقعا جای آن بزرگمرد؛ یعنی همان ابرمرد آشنا بیش از وقت دیگری خالی احساس می شود؛ اما با چشمی اشکبار و قلبی حزین با افتخار زمزمه می کنیم:

روحت شاد ای مرد بزرگ که روحیه امتی را شاد و به نسل های آتی به حیث الگویی از غیرت و به نمادی از ایمان و مبارزه تبدیل گردیدی.

❊ ❊ ❊

طالبان ولې د اردو عسکر وژني؟؟

بشیر ارمان

د تیرې جمعې په ورځ وړاندې د بلخ شاهین قول اردو دننه طالبانو دیو هدفمن، کامیاب او حیرانوونکي برید په کولو سره د کابل لاسپوڅي رژیم نیږدې څوسوه عسکر مړه او ټپیان کړل، ددې برید جټکې دومره قوي او زورې وې چې آن په کابل او واشنګټن دواړو کې یې هم ټکانونه محسوس شول

دبلخ دکامیاب برید له امله کابل کې داشرف غني او عبد الله د دوه سرې امریکا پلوي حکومت ددفاع وزیر او لوی درستیز دخپلو دندو څخه مستعفي شول او په ورته توګه دملي امنیت رئس معصوم ستانکزي هم خپله استعفا اعلان کړه دارګ دننه اوبیرون یوه نه پټیدونکې ورخطائي خوره ده، د پارلمان دننه هم د نویو نانندریو او بحثونو شور اوزوږ پورته شو داسې بریښي چې دکابل امریکا ئي رژیم نور یومخ دسقوط سره مواجه دی او که دطالبانو له لوري وړاندې یوه بله داسې قوې جټکه یې وخوړه نو ټول رژیم به مستعفي شي.

ددې جریان اغیزې په واشنګټن کې هم ولیدل شوې دامریکا ټولو سترو ورځپاڼو او اژانسونو دکابل دړژیم دبشپړ سقوط په اړه لیکنې او مضامین خپاره کړل امریکا حکومت ددې لپاره چې دلته خپلو ګوډاګیانو ته روحیه ورکړې او دنورو استعفاګانو مخه ونیسي سملاسي ددفاع وزیر جمیز ماتیس چې په سپي مشهور دی په نا اعلان شوي سفر کابل ته راغی او اشرف غني او نورو ته یې ډاډ ورکړ چې مونږ درسره یو او هم یې دنورو مستعفي کیدونکو قوماندانانو او چاروواکو ته پخپلو دندو دکار کولو حکم اوکړ اوهم یې ځینو هېوادوته مستقیماً اوویل چې دطالبانو دملاتړ څخه دې لاس په سر شي.

خوحقیقت دادی چې طالبانوته دهیڅ هېواده وسلې او کومکونه نه راځي اونه طالبانو په هېواد کې روان کړی جهاد دبهرنیو هېوادو په مرسته روان دی، دا ددې پیړۍ ترټولو لوی دروغ دي چې طالبان کله، یو هېواد او کله بل هېواد ته منسوبولی شي چې ګواکي هغوی یې ملاتړ کوي ځکه که دطالبانو سره دبهرنیو هېوادو دحکومتونو لخوا مرستې کېدای نو هرو مرو به په دې شپاړس کلو کې امریکا او دهغې ملګرو ته په اړه یې شواهد او اسناد په لاس ورغلي وو حال داچې نه تراوسه امریکا داسې کوم شواهد نړیوالوته وښودل چې فلانی هېواد طالبانوته دا، دا شیان ورکوي ! امریکا یانو په لوی شمیر طالبان په مخامخ جنګونو کې شهیدان کړل په لوی شمیرې ټپیان او اسیران کړل چې نن هم په بګرام، ګونتانامو او څرخي کې په زرګونو طالبان بندیان دي خو تر اوسه دیو طالب نه دکوم بهرني هېواد توپنچه یې هم نده ترلاسه کړې، که واقعاً طالبانوته دبهنرینو هېوادونه مرستې ، وسلې او کومکونه راځي نو بیا ولې امریکا او اجیر رژیم دطالبانو له زرهاوو بندیانو څخه تراوسه اسناد او شواهد ترلاسه نکړل؟

خو په دې هر څوک پوهیږي چې طالبان دهیڅ کوم بهرني هېواد لخوا نه تقویه کېږي که کېدای بیا ولې د ۱۶ کلو په اوږده موده کې امریکایانو په دې اړه شواهد او ا سناد

اومندل ؟دلته دهغوی دځار ګرو ادارو حیثیت ترلاسوال لاندې ؟ کومو چې په څلورکونجه نړۍ کې یدجنګونو اورونه بل کړي او دګردې نړۍهېوادو په کورنیو معاملو کې لاسوهنې کوي ایا هغوی نشي کولی له بیرونه طالبانوسره په مرسته کوونکو هېوادو شواهد او اسناد پیدا کړي ؟

او رازو دیته چې طالبانو ولې په بلخ کې په سوونو عسکر ووژل؟

په دې اړه پیسبوک او خواله رسنیو کې ځینې خلک دطالبانو دغه کار خیانت بولي، ظلم یې ګڼي او ورباندې بد وایي چې طالبانو ډېرې کورنۍ دویرپه ټغرکینولې دا، او ها یې وکړل!!

دغو خلکوته عرض دی چې ګورئ تاسو طالبان ولې ګرموئ؟ هغې امریکا ته ولې دېرې ګوته نه نیسئ دکومې عسکر چې دګودر په غاړه زما اوستا دخویندو څخه تلاشیانې اخلي؟ هغه امریکایان ولې ملامت نه بولئ چې هغه دافغانانو حیا، عفت، ننګ ، ناموس او ابرو لوټوي ؟ هغه امریکا ولې ددې ټولو ناخوالو ، ظلمونو، وحشتونو او نارواوو اصلي لامل او عامل نه ګڼې چا چې زمونږ خاوره نیولې چاچې زمونږ ازادې غصب کړې چاچې زمونږ خپلواکې غلاکړې؟

هو! طالب هغه غیرتي او میرنی افغان دی چې نن پخپلو وینو زما ستا دخور حیا، عفت او ابرو خوندي کوي او دغه عسکر چې په بلخ کې او ووژل شول دا هغه افغانان دي چې دامریکایانو مدافعین او ملګري دي ، طالب غواړي مخامخ دامریکا په هډو او مر کزونو تندریز بریدونه وکړي خو په مخکې یې هم دغه غلام عسکر او اردو خنډ ده! طالب مجبور دی چې خپل هدف ته درسیدو لپاره دافغانانو دننګ او ناموس خوندي کولو لپاره هغه افغان چې دامریکا ددفاع لپاره راوتی او دطالب دجهاد دبري په مخکې خنډ ګرځي له منځه یوسي او ل هغه د مخې حخه لرې کړي څو ځان ته لار خلاصه کړي.

زه حیران یم چې کوم خلک طالبان داردو عسکرو دوژلو له امله ملامتوي ولې هغه اردو او عسکر چې دامریکا په ملاتړ ولاړدي دامریکایې اشغال د دوام لپاره جګړه کوي ملامت نه بولي ولې ورباندې لعنت نه وایي چې افغاني غرور یې دڅو پیسو په بدل کې پلورلی ، دافغانانو ننګ او ناموس په امریکایانو پلوري ؟

باید افغانان دوکه نشي دملعونې امریکا دارادو شنډولو په غرض طالب ته لاس ورکړي طالب سره مرسته او کومک وکړي نه داچې سرچپه په طالب نیوکې وکړي دابه داسلام سره خیانت وي، دافغانانو دملي ارزښتونو سره به جفا وي دافغاني ننګ، غیرت او همت نه به لاس په سر کېدل وي.

په همدې بلخ کې دطالبانو درې نیم زره کسان په یوځای اووژل شول او هم داسې زرهاوو طالبان په دښتي لیلي کې شهیدان کړای شول په زرګونو طالبان په کنتینرونو کې دتنفس نشتوالي له امله په شهادت ورسیدل ولې دغه خلک چې نن دبلخ په پیښه غمجن دي ولې دهغو مظلومو طالبانو دکورنیو اوښکې چا پاکې نکړې؟ ولې دامریکا او دوستم دغه نه بښونکي جنایتونه چا تقبیح نکړل؟ ایا هغوی افغانان نه وو؟

پښتو متل دی : چې څه کري هغه به ریبي!

هو!...

کرزی له چا وطن آزادول غواړي...؟!

لیکنه: موسی فرهاد

امریکا هغه ورځې پر آچین د نیمه آټوم بم ازمایښتي برید وکړ. چې د امریکایي جاسوس سنوډن په خبره ، یاد بم ۳٦۰ میلیون ډالره قیمت او۲۱ زره پاؤنډه وزن درلود. دغه برید افغانان ډېر زهیر کړل، د ارګ له دفتردارانو پرته نور ټول ولس او په نړۍ کې ډېری نور هغه وګړي چې په انسانیت او بشریت یې په رښتیا خوا بدیږي؛ خفه کړل. ټولو عکس العمل وښود او دا یې یو نه بخښونکی جنایت وباله.

تر دې چې حامد کرزي هم وینا وکړه او د یرغلګرو کفارو دا عمل یې تر زغم پورته وګاڼه. ورپسې یې هوډ څرګند کړ چې له دې پس به امریکایان له افغانستانه باسي او خپل وطن به آزادوي.

رښتیا چې د ښاغلي کرزي څرګندوني ښې دي ، هغه ښه ویلي دي چې د جانکیري ګډسری حکومت مې نور نماینده نه دی ، او نه پرې باور لرم ، ځکه هغوی د امریکایي عسکرو بشري جنایت وستایه ، هغوی پرخپلې خاورې ، پر خپل ولس هیڅ رحم ونکړ او نه یې په دې کې کوم شرم او عار احساس کړ چې په حیث د یو حکومت یې پر خپل ولس د دومره ستر جنایت ننګه وکړه چې له غربه تر شرقه په نوم بشري مخلوق ورته بد رد وایی.

کرزي بده خبره نه ده کړي چې پس له ۱۷ کالو یې امریکایان جانیان ، تیري کوونکي ، اشغالګر او ظالمان وګڼل.

کرزي ډېره ښه اراده کړي چې نور به د امریکایانو پرخلاف دریږي او وطن به تري آزادوي.

مګر سوالونه بیا هم ټول پرځای پاتي دي چې دا ښاغلی له چا وطن آزادول غواړي.؟

آیا له هغو محسنینو، چې نوموړی یې له برکته څه باندي یوه لسیزه د کابل باچا و،؟

آیا له هغو خلکو به وطن آزادوي چې پوره ۱۷ کاله د هغوی لپاره له خپل ولس سره په جنګ دی.؟

آیا کرزی په زړه کې پر دې خبره قانع وو چې دا ۱۷ کاله یې وطن د ده د دوستو قواوو لخوا اشغال ؤ.؟

نو سوال دا پیدا کیږي چې ښه نو بیا یې د افغان نومیالیو مډالونه ولي د بوش او د هغه د عسکري جنرالانو په اوږو کې ورځوړول. هغوی خو پردي اشغالگر وو ، مډال خو د آزادۍ د لارې اتلانو ته ورځوړول کیږي.

بله پوښتنه دا را ولاړیږي چې امریکا خو دا یو بم نه دی غورځولی ، هغوی خو بیخي ډېر بمونه او میزائیل را توغولي دي څه باندې ۲سوه زره بې گناه افغانان یې د دوی پخپل اعتراف، په شهادت رسولي دي. مگر په پروني بم کې خو تراوسه دا لا څرگنده نه ده چې فی الحال یې څومره مرگ کړی او څومره زیان یې اړولی؟

دریمه پوښتنه دا کیږي چې ښاغلي کرزي دا ۱۷ کاله ولي هغه خلک ترووریستان گڼل چې د ده له دوستانو اشغالگرو څخه یې د وطن آزادي غوښته او په دې لاره کې یې د خپلو هغو نیکونو په څیر د قربانۍ میدان ته را دانگلي، چې تراوسه یې نامه ته منسوب مډالونه کرزي اشغالگرو ته ورځوړول.؟

بل سوال دا مطرح کیږي، چې نوموړی ولي د امریکا خلاف جهاد ته وهڅول شو، ولي د امریکایانو احسان فراموشي کوي؟ امریکایانو خو د ده او د ده په څیر نورو ځوانانو په هلو ځلو او همکارۍ سره، دلته راتللو ته زړه ښه کړ. کنه نو د کرزي د یو بل امریکایی دوست خلیل زاد کتاب خو له سره ترپایه په دې شواهدو ډک دی چې تر ۲۰۰۱م کال وړاندي ده، ښاغلی د امریکایانو د راتللو او پر افغانستان هغوی ته د تجاوز لپاره څومره منډې ترړې کړې دي.؟ نو آیا له دې خبرو نه خو به یې اهداف، سیاسي نه وي ؟ آیا په دې خبرو سره خو به ځان، د امریکایانو پرځای بل چا ته نژدې کول نه غواړي ؟! ولي چې اعتبار دي هم په خپله ټولنه او په امریکا کې له گوانښ سره مخ دی.

دا او دې ته ورته نورې ډېرې ... پوښتنې شته چې میستر کرزی یې باید ځواب کړي.

د روسانو وروستي ملگری، نجیب هم هغه مهال چې له روسانو مایوسه شو؛ د هغوی پرضد یې ورته څرگندوني کولې، هغه هم ویل چې روسان مې نور له خپله وطنه وایستل، وطن مې آزاد کړ.

هغه هم گمان کاوه چې دا ډول بې گټې او بې وخته اظهارات به یې د ملت له قهر او غصې نه وژغوري. دی نه پوهیدی چې تېرې تېروتنې یې تر وروستیو غوړو څرگندونو ډېرې زیاتې دي. خپل ناراضه خدای په تشو خبرو نشم راضي کولای او نه مې خپل خفه ولس په یوازې خبرپاڼو تېر ایستلای شم.

پای ...!

د افغانستان اسلامي امارت

د تأسیس د یوویشتمې کلیزې په مناسبت

شاهـد (غزنیوال)

۲۱ کاله وړاندې پـه همـدې نــن ورځ د هیــواد ۱۵۰۰ شرعــي علماو، روحـانینو او د کمونسـتانو په خلاف د جهاد مؤسسینو په یوه کــلي اجـماع سره د افغانســتان د طالبــانو د اســلامي تحریـــک مؤسس ملامحمد عمـر (مجاهـد)د امیر المؤمنین په حیث وټاکه.

دا ورځ زمــونږ د هیــواد پــه تاریخ کې له تــاریخي اړخــه یــوه خواره با اهمیته ورځ ده.

ځکه پــه همـدې ورځ کــې د اسلامي شریعت یــوهیرکړل شــوی اصل (اسلامي امارت) د شرعــي علماوو لخوا احیاء کړل شو.

له دې ورځې وروسته یوځل بیا مسلمانان د اسلامي امـارت او امیــر المــؤمنین لــه شرعــي مصطلحاتو سره بلد شول، او په افغانستان کې د واکمنۍ طرز او طریقـه د اسـلامي امارت له شرعي مقتضیاتو سره سم عیار کړل شول.

په ۱۹۲۴ کې د کمال اتاترک په لاس په ترکیه کې د عثماني خلافت تر سـقوط وروسته په ټوله نړۍ کې مسلمانانو د اسلامي خلافت اویا اسلامي امارت پـه نـوم داسې ځواک او قوت نه درلـود چـې د هغـه تـر سـیوري لانـدې سره راټـول او پـه خپلواک او مطمئن ډول اسلامي شعائر عملي کړي؛ ځکه په درسـته اسـلامي نـړۍ کې د اسلام د مقدس دین هغه اهـم احکـام (شرعـي حـدود) چـې پـه هغـو پـوري د اسلامي ټولنې امن او ثبات تړلی دی ټول ځنډول شوي وو.

د شوروي اشغالگرو په خلاف د افغانستان د مسلمان ملت مقدس جهـاد چـې د یونیم میلیون شهیدانو په قربانیو سره د کامیابي درشل ته ورسیدو اصلي هدف یې په افغانستان کې د یوه داسـې اسـلامي نظـام رامنځتـه کـول و چـې پـه هغـه کـې مسلمانان وکولای شي د اسلام د مقدس دین ټول ځنډول شوي احکام بیرته احیاء او د قرآني مقرراتو مطابق عملي کړي.

امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد چې خپله هم د جهـادي قـافلې یـو هدفمنـد لاروی و د نورو ټولـو مجاهـدینو تـر څنـگ یـې د همـدې آرمـان پـه لاره کـې ډیـر زحمتونه وگالل او د جهاد په مورچلونو کې یې خپلې وینې وبهولې.

سره له دې چې یوشمیر په قدرت مینو پست فطرته عناصرو د جهاد د شهیدانو له قربانیو سره سخته جفا وکړه او د تنظیمي ناراوا جگړو په پیلولو سره یې د افغـان

مجاهد ولس د قربانیو بې احترامي وکړه خو امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد له جهادي آرمانونو سره د وفاداري په غرض د فساد د له منځه وړلو او په هیواد کې د شرعي حاکمیت د پلي کولو په لاره کې خپلې مبارزې او مجاهدې ته تر هغو ادامه ورکړه ترڅو یې د توکل محض په برکت د هیواد په ۹۵٪ خاوره کې د جهاد د شهیدانو د آرمانونو ممثل نظام اسلامي شریعت نافذ کړ.

دا یوه ډېره ستره کارنامه وه چې د امیر المؤمنین په قوي عزم سره ایجاد شوه.

د دې کارنامې په ترسره کیدو سره د مسلمانانو د حاکمیت هغه کړې چې د تاریخ په بیلا بیلو برخو کې په اسلامي امت د کافرانو د یرغلونو په نتیجه کې یو له بله سره جلاشوې او له منځه تللې وې بیرته سره پیوند او له کلونو وروسته یوځل بیا په افغانستان کې د حاکمیت مرجع کتاب الله او سنت الرسول شوه او د نظام ټولې پریکړې د قرآن او حدیث په رڼا کې صادرې او مرعي الاجراء شوې.

نن د امیر المؤمنین ملامحمد عمر (مجاهد) په لاس د امارت د تأسیس یوویشتمه کلیزه مونږ په داسې حال کې لمانځو چې هیواد مو تر امریکایي اشغال لاندې او سربښندونکې مجاهدین د اشغالگرو د شړلو، خپل هیواد آزادولو او په هغه کې د اسلامي حاکمیت د پلي کولو لپاره په مشروعې جهادي فریضې لگیا دي.

هغوي هم په دې لاره کې خپلې قیمتي ارواگانې د دې لپاره قربانه وې چې هیواد یې د اشغالگرانو له لوثه پاک او د اسلامي امارت د تأسیسي- مشر- مرحوم امیرالمؤمنین په شمول د ټولو شهیدانو نیمگړي آرمان (د اسلامي شریعت تنفیذ) په ټول هیواد کې عملي شي.

د همداسې یوې ورځې په هیله

لقمان حکیم فرمایي:

- ✓ کوم کار چې د الله د رضا لپاره کوې په هغه کې د انسانانو نه ویره مه کوې.
- ✓ په کوم نعمت کې چې شکر وي د هغې پای نشته او په کوم نعمت کې چې ناشکري وي د هغه پایښت نه شته.
- ✓ له ناپوهانو سره ډېره ناسته ولاړه مه کوې چیري تا سو به هم جاهلان کړي.
- ✓ ډیر اوري او لږ غږیږي.
- ✓ الله او مرگ هیڅکله له یاده مه باسې ، خپله ښیگړه او د بل بد گړه هیره کړئ.
- ✓ په هر مجلس کې چه د الله جَلَّجَلَالُهُ ذکر کیږي گډون پکې کوي او د بدانو له ناستې نه ځان لیرې ساتئ.
- ✓ که د ژبې له زیان نه ځان ژغورل غواړې نو چوپ (غلي) اوسئ.
- ✓ په لمنځه کې د زړه ، په مخفل کې د ژبې ، په غصه کې د لاس او په دسترخوان د گیډې ساتنه کوئ.
- ✓ ریښتا خبره مه پټوي او دروغ خبر له سره مه کوئ.
- ✓ په علم سره زړه داسې ژوندي کیږي لکه وچه ځمکه چې پر باران.
- ✓ د عقل په څیر هیڅ دولت نشته او د جهالت په څیر هیڅ غربت.
- ✓ سهار د لمر ختو په وخت کې مه ویده کیږي ځکه دا د عبادت وخت دي پدي وخت کې خوب د بدبختئ نه ډک وي.

امریکا له افغانستانه څه ترلاسه، او څه یې ورکړل ...!؟

م فرهاد

په دې وروستیو کې کله چې د امریکا زوړ حکومت په نوي د بدلیدو په حال کې و ؛ له همغه راهیسي لویدیځوال شنونکي او کارپوهان امریکایي واکمنو ته مشورې ورکوي چې د افغانستان په اړه دې خپله روانه جګړه ایزه ستراتیژي ژر تر ژره بدله کړي.

دوی وایي کـه چیـري امریکـایي چـارواکي همـدغي ناکامي پالیسۍ ته نورهم دوام ورکړي ؛ نو لیـري نـه ده چـې امریکا دې په افغانستان کې د شکست له امله پـه ټوله نـړۍ کې لـه سیاسي او نظامي مـاتي سره مـخ شي او بـالآخره بـه امریکا د خپلو نړیوالو دښمنانو د سیاسي، نظامي او اقتصـادي فشار په وجه په کور دننه کې هم دړي وړي شي.

د لویدیځوالو کارپوهانو دغه ډول مشورې او نظریـات وخت پر وخت د غربي میډیا په وسیله خپـري شـوي، خلکـو لوستي او اوریدلي دي. د دوی په وینا د امریکا روانه کـړنلاره له څو بنسټیزو وجوهاتو ناکامه بریښي :

۱- امریکا چې د کومو اهدافو لپاره پر افغانستان پـوځي یرغـل کـړی وو ؛ کـه څـه هـم د دوی نـاقص اټکـل دا وو چـې جنګ به یې د څو ورځو او یـا اکـثراً د څـو میاشتو لپاره وي ؛ خو دا دی پوره ۱۷ کاله تیریږي چې د همغو اهدافو له جملې نه یو هم ترلاسه شوی نه دی، مګرجنګ لا جریان لري.

۲- امریکا دا ګڼلې وه چې پر افغانستان باندې د یرغـل په وجه به په نړیواله کچـه د امریکـا رعب او هیبـت نـور هـم زیات شي ، سلطه به یې پراخه شي ، د نړۍ ټولو برخـو تـه بـه یې د مداخلې لاس رسی ډېر آسانه شي، بـالآخره چـې د نـړۍ واکمني به یې په برخه شي. ولې برعکس امریکا د افغانستان د جګړې له امله په نړۍ کې هغه شته حیثیت او رعب هم لـه لاسه ورکړ. اوس موږ او تاسو وینو چې نه یوازې ستر قدرتونه، بلکې کمزوري هیوادونه هم د امریکا په وړاندې جدي مواقف نیسي.

۳- امریکا او جګړه ایزو ائتلافیانو یې فکـر کـاوه چـې د تروریزم په نوم جګـړه یـې یـو ډېـر ښـه سرپـوښ مونـدلی، تـر همدې پوښ لاندې بـه دوی هغـه اسلامي هیوادونـه، احـزاب، شخصیتونه، مراکز او دینـي ښـونځایونه پـه نښـه کـوي چـې د لویـدیځ، خصوصـاً د امریکـا لپـاره بالفعلـه او یـا بـالقوه خطـر وي. خو امریکا په افغانستان کې د نـاروا جګـړې لـه املـه نـه یوازې دا چې پورتني کارونه یې ترسره نشوای کړای، بلکه دغه د دوی مزعومه خطرات اوس د امریکا او لویدیځ پـه زړه کـې هم په داسې پراخـه پیمانـه را ټوکیـدلي چـې د دوی لپـاره پـه واقعي جدي خطر بدل شوي دي.

٤- امریکایي واکمنو د جګړې ترپیلیدلو وړانـدې داسـې ګمان کړی وو چې پر افغانستان او بیا وروسته پرعـراق حملـې به د امریکا اقتصاد ته نقصان ونه رسوي ځکه چې دوی ویـل دا جګړه یې د ناټو د نظامي ائتلاف په ملاتړ پیل کـړې، طبعي ده چـې مـالي بـوج بـه یـې هـم هغـوی ورسره اوچتـوي. خـو بـرعکس د یـادو جګـړو لـه املـه د امریکـا اقتصـاد تـه پـه ټریلیونونو ډالرو زیان ورسید ، ولې ائتلافیانو یې تنهـا د خپلـو څو زرو یا څو سوو عسکرو چې پـه افغانسـتان کـې یـې ځـای، ځـای میشـت کـړي وو ؛ د اعاشې او اباتې تـر حـده مصارف

وکړل. نور ټول مصارف د امریکا له غاړي شول . چې په دې توګه یې خورا درنه ضربه ولیدله.

۵ - د پخواني شوروي فدراسیون په مشرۍ د وارسا د نظامي تړون تر ړنګیدلو وروسته، دا لومړی ځل وو چې د امریکا په مشرۍ د ناټو پیمان یوې ناځرګندې جګړې ته ورداخلیږي او د نورې نړۍ په وړاندې د خپل ځواک ښودنه کوي. نو د دوی په ګمان ډېره ممکنه وه چې د ناټو پوځي اتحاد دې نورهم مضبوط شوی وای ، نه داچې د کمزورۍ ځرک دې ورکې لیګیدلی وای. مګر اوس موږ او تاسو ګورو چې د ناټو پخوانی برم د تبلیغاتو ترحده پاتی دی ، حتی چې امریکایان خپله ورباندې بې باوره دي.

د دې پورتنیو دواړو خبرو د ثبوت لپاره د امریکا د اوسني مشر ډونالډ ټرمپ ځرګندوني کافي دي چې ویې ویل: ناټو یو بې ګټې او پرسوده پروژه ده چې امریکا ته یې یوازې مالي بوج زیات کړی ، پکار ده چې له دې وروسته د ناټو نور ائتلافیان هم په لګښتونو کې زیاتوالی راولي ، کنه نو امریکا باید خپلې پیسې د خپل هیواد پر زیربناوو ولګوي.

کله چې امریکایان په دې کې پاتې راغلل چې د یرغل څخه مطلوب اهداف په لاس راوړي؛ نو لویدیځوال کارپوهان په افغانستان کې د امریکا پالیسي هرو مرو ناکامه ګڼي ، د دوی په اند، اړینه ده چې ژرترژره امریکا خپله تګلاره بدله کړي او نور د افغانستان له ګوریلایي او نه ګټونکې جګړې نه خپلې پښې سپکې کړي.

د اشغالګرو ځواکونو کارنامه...

اوس راځو دې خبرې ته چې امریکا پخپل ټول تاریخ کې له دې دومره اوږدې او پرمصرفه جګړې سره سره افغانستان ته څه ورکړل او څه یې ځیني واخیستل ؟

امریکا د خپل یرغل په وسیله ترهرڅه وړاندې افغانستان له یو داسې مسلط نظام څخه بې برخې کړ چې هغه مهال د افغانستان ورته اشد ترین ضرورت وو. چې هغه د طالبانو په لاس رامنځ ته شوی اسلامي حکومت و. تر طالبانو وړاندې چې افغانستان له کومې انارشۍ او ناورین سره مخ وو؛ قریباً هرڅوک ورباندې خبر دي. طالبان راپاځیدل ، ګډوډې یې ختمه کړه ، امن او ثبات یې قایم کړ ، هیواد یې له تجزیې وژغوره ، مخدرات یې ختم کړل ، وسلې یې ټولې کړې، رشوت ، غلا او فساد یې له منځه یوووړل. چې دا د یو ولس بنیادي اړتیاوې دي.

خو په بدل کې یې امریکا داسې یو نظام ورباندې مسلط کړ چې که څه هم په ظاهره خو د ټوپکي دور په پرتله په ساټ او باټ کې برابر دی ، ډیموکراټ سیټپ ګڼل کیږي ، انتخابات دي، پوځ او پولیس دي، میډیا ده، سفارتونه، وزارتونه او کنفرانسونه دي. مګر دا هرڅه د تلویزون د سکرین ترپردې پورې محدود دي. ولې د انارشیزم لومړۍ نښه یې دا ده چې پر یوه کابل دوه حکومتونه واکمني کوي.

امریکایي او نور غربي ځارونکې پخپله اعترافات کوي چې د کابل حکومت په فساد کې نړیوال ریکارډ مات کړ، او په افغانستان کې مخدرات ترپخوا شپیته سلنه زیات شوي، د امن او ثبات خو تصور کول د خلکو لپاره ګران شوي دي.

دا هغه نظام دی چې امریکایانو افغانستان ته ورکړ او په بدل کې یې هم له یو صالح نظام څخه بې برخې کړل او هم یې په سلګونو زره بې ګناه مسلمان افغانان په شهادت ورسول.

متاسفانه چې روان ناورین او ویجاړ وضعیت بیا هم د امریکایې حکمرانانو لپاره قابل افسوس نه ښکاري، بلکې لا هم خپلو غلطو پالیسیو ته په ناکام او شکست خورده حالت کې ادامه ورکوي.

په همدې آساس موږ د هغو بې پرې لویدیځوالو کارپوهانو مشورې او طرحې تائیداً تکرارو چې دوی یې اوسنیو امریکایي واکمنو ته ورکوي . موږ ویلای شو چې امریکا د افغانستان په اشغال کې هم ځان تباه کوي او هم یې افغانستان له تباهي سره مخ کړی. پکار ده چې هغوی نور له تعقل نه کار واخلي.

پای ....!

احمد مختار

د نوي کال عملیاتي بریدونه

څرنگه باید عملي شي

هرکال د ژمي په تیریدو سره مجاهدین د یرغلگر او د هغوی د ملاتړو په خلاف جهادي عملیات اعلانوي .

اوس چې بیا مونږ د نوي کال په پیل کې قرار لرو او ورځ په ورځ په سرد سیره مناطقو کې هم د جهادي عملیاتو لپاره زمینه مساعده کیږي نو باید مجاهدین سږني عملیات هم د تیر په شان د یوه منظم عملیاتي پلان له مخې شروع کړي.

په یاد عملیاتي پلان کې تر ټولو وړاندې مجاهدین د جذب او جلب ، دعوت او ارشاد کمیسون لخوا د رژیم له لیکو څخه د هغو تیر ایستل شویو ځوانانو د رابیلولو دعوت پیل کړي.

ځکه همدا کسان د کومې مفکورې او نظریې له مخې نه بلکې همداسې د ناعلمي او جهالت له مخې تیر ایستل شوي او د ملي اردو، محلي پولیسو او یاهم اربکیو تر شرمونکو نومونو لاندې د هغوي په لیکو کې جذب شوي.

مجاهدین باید د خپلو مذهبي او نشراتي ارگانونو له لارې د دې تیر ایستل شویو ځوانانو د فکرونو د تنویر لپاره کار وکړي ، هغوی تنویر کړي او دا روحیه ور تفهیم کړي چې د دښمن په صف کې دریدل د اسلامي عقیدې او اسلامي ارشاداتو خلاف عمل دی ، په فکري او مذهبي لحاظ د همدې ځوانانو تنویرول او پوهول د ټول وخت لپاره د دښمن له توطیو څخه د هغو د ژغورنې په معنی ده .

زمونږ ټولنه یوه مذهبي مسلمانه ټولنه ده ، ښایي په همدې تیر ایستل شویو ځوانانو ، ملي اردو ، محلي پولیسو او اربکیانو کې ډیر داسې څوک وي چې د هغوي پلرونه له شوروي اشغالگرو سره د جهاد په سنگرونو کې شهیدان شوي یې .

ښايي ډېر داسې کسان هم وي ورکې چې پلرونه يې د کمونيستانو لخوا د جهاد او هيواد د دفاع په خاطر په بنديخانو کې په شهادت رسيدلي وي او دوي همداسې بې سرپرسته پاتې شوي و چې اوس دښمن د تبليغاتو په مټ تير ايستلي او د ديرغلگرو امريکايانو په دفاع کې درولي وي.

نو دهمدې ځوانانو پوهاوی او توعيه او تثقيف د مجاهدينو مسؤليت دی ، بايد د دې کار لپاره خپل ځانگړي مسؤلين ډيره توجه وکړي او د تهديدولو ، بنديانولو او وژلو په ځای د هغوی د پوهاوي او تثقيف کار وکړي.

دوهم مجاهدين بايد حتی الوسع کوښښ وکړي چې په خپلو عملياتي پلانونو کې تر بل هرڅه وړاندې د ولسي خلگو د ځان او مال تحفظ ته توجه او د لومړيتوب حق ورکړي.

يعني که مجاهدين پوهيږي چې سل په سلو کې د دوي په بريد کې د دښمن پوځي هدف له منځه ځي او دښمن ته زيان رسيږي نو خپل پلان هلته بايد عملي کړي.

او که دوي پوهيږي چې د دښمن د دې پوځي هدف ترڅنگ ولسي خلگ هم زيانمن کيږي ، هغوي وژل کيږي، کلي او ممتلکات يې د امريکايانو لخوا بمبار کيږي بيا بايد له دې هدفه تير شي .

ځکه په دغسي ځای کې د مجاهدينو تر احتمالي بريالیتوب د ولسيـ خلگو وژل کيدل او د هغوي زيانمن کيدل يقيني او متحقق دی ، نو مجاهدين بايد د خپل احتمالي بريالیتوب په ځای د ولسي خلگو متحقق تلفات په پام کې ونيسيـ او هغه لاره دې غوره کړي په کومه کې چې د ولسيـ خلگو نجات او تحفظ متحقق وي .

دريم مجاهدين په خپل عملياتي پلان کې بايد د ښاري جگړې تکتيک ته ځای ور نه کړي ، ځکه دا تکتيک له نظامي پلوه ولسيـ خلگو ته ډير زيان رسوونکی تکتيک دی.

د ښارونو په جگړې کې خامخا ولسي ځاني او مالي تلفات ډير وي ځکه دښمن کوښښ کوي ډير وحشت وکاروي ، خلگ ډير ووژني، مالونه يې چور او تلف کړي او دا چې بريد لومړی د مجاهدينو لخوا پيل شوی وي نو د جنگ د تلفاتو ټول نسبت همدوي ته کيږي ، دښمن هم ته هم د تبليغاتو دا زمينه مساعده کيږي چې که مجاهدينو پرموږ بريد نه وای کړی موږ به ولي سيمې بمبارولي.

په تيرو ١٦ کلونو کې د مجاهدينو ټول بريالیتوب په چريکي جنگونو ، ماينونو او ډله ييزو بريدونو کې وه ، په کومو ځايونو کې چې مجاهدينو معين سنگرونه او ياهم جنگي کرښې جوړې کړې هلته هم د مجاهدينو تلفات او هم ولسي او مالي تلفات ډير زيات دي چې ښکاره يې مثالونه يې هلمند او د کندهار هغه سيمې دي چې مجاهدينو ورکې ښکاره او ثابت وجود لرلي، هلته دښمن د مجاهدينو دشتون په پلمه بسته کلي وران او د هغوی باغونه يې سرکونه کړل ،

چې دا په حقیقت کې بیرته خپله د مجاهدینو تاوان دی ځکه مجاهدین ولسي- خلګ او د ثقل مرکز یې اصلا ولس دی.

نو دا چې ولس د مجاهدینو حمایت کوي مجاهدین هم باید حتی الامکان داسې جهادي تکتیکونه غوره کړي چې دښمن ته ډیره ضربه او ولس له تلفاتو وژغوري.

په سوریه او عراق کې چې په کومو سیمو کې د مجاهدینو لخوا د ښاري جګړو تکتیک کاریدلی اوس هغه مکلې سیمې په ویرانو بدلې او هیڅ د انسانانو د اوسیدنې وړ نه دي .

د ټولو همدې سیمو خلګ یا په هوایي بمبریو کې وژل شوي او یاهم تري نورو سیمو ته په ډله اییزه توګه په هجرت کولو مجبورشوي او هغه سیمې ټولې اوس تخلیه شوې دي.

زمونږ په هیواد کې چې د امریکا تر مشرۍ لاندې د ۴۸ یرغلګرو هیوادونو له څواکونو سره مجاهدینو پوره ۱۶ کاله تاریخي مقابله وکړه او هغوی ته یې تاریخي ماته ورکړه علت یې دا وه چې مجاهدینو د یرغلګرو په مقابل کې یواځې د ترپ اوخرپ عملیاتو ، د سرک غاړي ماینونو او ډله اییزو بریدونو څخه کار اخیستي ، هماغه ده چې په تنیجه کې یې هم امریکا او هم ناټو ماتې وخوړه او هم مو هیواد داسې روغ پاتې دی چې څوک فکر نه کوي دلته دې یوکال جنګ تیرشوی وي ، خو په سوریه کې چې له تیرو ٦ کلونو راهیسې په ښاري سیمو کې د ښارې جګړو تکتیک کاریدلی هلته یې په نتیجه کې مکمل ولایتونه تخریب شوي او تقریبا اوس د سوریې ۱۰ په سلو کې ښارونه له تخریب او تباهي روغ پاتې دي.

که چیري مجاهدین په خپل عملیاتي پلان کې د ښارونو د جګړې تکتیک ځای کړي دښمن به حتما د ځان د دفاع په خاطر هغه ولسي سیمي بمباروي لکه په هلمند، قندوزاو بغلان کې چې تیر او سږکال ډیری ولسي- سیمې بمبار کړې نتیجه به یې دا کیږي چې د دې سیمو خلګ به د سیمو پریښودو او کډه والي ته مجبوره کیږي او کلي به تخلیه کوي، کلي چې تخلیه شي نو به د حلب او موصل په څیر هغه د امریکایي بمبار په وسیله په خرابو بدلیږي چې نه به مجاهدین ورکې اوسیدلی شي او نه ولسي خلګ.

او چې کله ولسي خلګ بل ځای ته مهاجرشي نو هلته به له یوې خوا دښمن د مجاهدینو په خلاف تري تبلیغاتي استفاده کوي او له بلې خوا به دوی په سل ډوله مشکلاتو، فقر، بي علمي ، اخلاقي انحرافاتو ، ناروغیو او نورو ستونزو اخته کیږي فقط په دې جرم چې د مجاهدینو حمایت یې کړی ...

لهذا مجاهدین باید په هیڅ صورت په خپل عملیاتي پلان کې د ښاري جګړې تکتیک ځای نه کړي ، بلکې که دښمن د دې کار هڅه کوي مجاهدین یې باید د هغوي دا دسیسه د هغوی په پوځي مرکزونو په چریکي بریدونو سره ورشنډه کړي.

د الله نصرت او بیا ولسي حمایت هغه څه دی چې مجاهدین یي په تش لاس په ناټو او امریکا غالبه کړل ، مجاهدین هم باید نورهم هغه لارې چارې غوره کړي چې هم د الهي نصرت موجب کیږي او هم دولسي حمایت لامل .



د سنګين فتحه

او د غربي مطبوعاتو تبصرې

حبيب مجاهد

د ۱۳۹۶ هجري شمسي کال د لومړۍ مياشتې په درېيمه نېټه د اسلامي امارت مجاهدينو د هلمند ولايت تر ټولو مهمه ولسوالي سنګين په بشپړه توګه تر خپل کنټرول لاندې راوسته. امريکايي او ورسره همکار داخلي ځواکونه چې په دې ولسوالۍ کې يې درانه تلفات ورکړي و له سنګين څخه د وتلو په مهال يې د سنګين بازار او حکومتي ودانۍ بمبار او تر ډېره حده تخريب کړي او په دې سره يې وښوده چې بيا ځل دې سيمې ته د راغبرګيدو هوس نلري.

د سنګين سقوط لکه څومره چې د کابل ګوډاګي رژيم ته ټکان ورکړ د هغه څو برابره يې په لندن او واشنګټن کې ناست پوځي پلان جوړونکي وبوړنول، ځکه سنګين هغه سيمه ده چې تر ټولو ډېرې امريکايي او انګليسي ککرۍ په کې رغښتې او بهرنيو اشغالګرو ترې ډېرې ترخې خاطرې وړې دي. اوس چې دا د امريکايي او برتانوي عسکرو په وينو خړوبه سيمه يو ځل بيا د طالبانو لاس ته لوېږي نو د اشغالګرو لپاره دغه خبر شايد د کال تر ټولو بد خبر وي.

د سنګين ولسوالۍ له سقوط څو ورځې بعد د انګلستان تر ټولو مشهورې ورځپاڼې ټيلګراف وليکل چې: د طالبانو د واکمنۍ له نړېدلو شپاړس کاله وروسته په لومړي ځل دا ډله د افغانستان په لويو ښارونو باندې د واک ټينګولو لپاره چمتو والي نيسي. ورځپاڼې د هلمند ولايت د سنګين ولسوالۍ سقوط ته اشاره وکړه، هغه يې د طالبانو د بيرته راتګ يو مثال وباله او زياته يې کړه .واک ته د طالبانو د بيرته رسيدلو غوره بېلګه په هلمند ولايت کې د هغې ستراتيژيکې ولسوالۍ سقوط دی، چې ۱۰۰ برتانوي عسکرو يې د ساتلو لپاره خپل ژوند له لاسه ورکړ، خو د تېرې پنجشنبې په ورځ د طالبانو لاس ته ولوېده».

ياده برتانوي ورځپاڼه ليکي چې که څه هم سنګين ولسوالۍ له سقوط پرته بله چاره نه درلوده او هلته دولت هميشه په ډېر کمزوري حالت کې و، خو دا چې دغه ولسوالۍ د افغانستان مرکزي او لويديځو ولايتونو ته د دروازې حيثيت لري، نو ستراتيژيک موقعيت ته په کتلو يې سقوط يو «دروند ګوزار» دی. تلګراف ورځپاڼې سنګين ولسوالۍ د طالبانو لپاره د «خېز تخته» ګڼلې او زياته کړې يې ده چې طالبان به وکولای شي چې له دې ځايه په اسانۍ لښکرګاه ښار ته ورخېز کړي. ورځپاڼه ليکي چې د سنګين ولسوالۍ سقوط دا وښوده چې دولت نه يوازې د لرې پرتو سيمو د ساتنې توان نه لري، هغه سيمې هم نه شي ساتلی چې ستراتيژيک او اقتصادي اهميت لري.

يوې بلې برتانوي مشهورې ادارې بي بي سي هم د سنګين د سقوط په اړه خپل د زړه درد پټ نه کړای شو دغې ادارې په خپله انګليسي ويب پاڼه کې د سنګين د سقوط په اړه اوږده مقاله نشر کړه چې په يوه برخه کې يې راغلي دي. سنګين د افغانستان د جنګ د ښکيلو اړخونو لپاره تر ټولو مرګونې او مهمه سيمه بلل کيږي د افغانستان د څه باندې څلور سوه ولسواليو له جملې

امریکایانو او برتانویانو خپل تر ټولو ډیر عسکر په سنګین ولسوالۍ کې له لاسه ورکړي، په خاص ډول برتانوي عسکر چې په سنګین کې یې سخت تلفات لیدلي دي. د طالبانو په لاس د سنګین سقوط د دې علامه ده چې سږنی جنګي فصل به تر تیرو کلونو سخت وي ځکه طالبانو داسې پلانونه تر لاس لاندې نیولي چې غواړي د سنګین په شان مهمو مرکزي علاقو باندې نور فشار هم وارد کړي طالبان همدا اوس په تیرو پنځلسو کلنو کې د هر وخت به پرتله ډیرې سیمې تر خپل کنټرول لاندې لري په داسې حال کې د سنګین له لاسه وتل هغه ګوابښ نور هم برجسته کوي چې د امریکا پوځیان او د اشرف غني په مشرۍ د کابل اداره ورسره مخامخ ده او دوی یې په جګړه ایز بن بست سره تعبیروي.

همدا راز د امریکا معتبري ورځپاڼې وال سټریټ ژورنال هم د سنګین ولسوالۍ په اړه تبصره وکړه چې په یوه برخه کې یې لیکلي: وسله والو طالبانو د پسرلي ترعملیاتو مخکې په سنګین باندې خپل برید سره د افغانستان پر حکومت خپل فشار ته زور ورکړ. طالبان ادعا کوي چې دغه ولسوالۍ یې نیولې ده. د هلمند سنګین هغه ولسوالۍ ده چې امریکایي او بریتانوي ځواکونو په افغانستان کې د جنګ د پیل راهیسې تر ټولو درانه تلفات په کې ګاللي دي. په دغې سیمه کې د ناټو د تلفاتو تر ټولو زیاته شمېره په ۲۰۱۰ کال کې وه چې درې سوه کسانو ته ورسېده خو په تېریوه کال کې د امریکا د ځانګړو ځواکونو لږترلږه دوه سربازان په دې سیمه کې وژل شوي دي.

ورځپاڼه لیکي چې په روان میلادي کال کې امریکایي پوځیانو د افغاني ځواکونو د پرش زره خیالي سربازان له لېسته بهر کړل چې تر ټولو زیات شمېر یې په هلمند کې وو. خیالي سربازان هغو عسکرو ته ویل کېږي چې یوازې نوم یې په لېست کې دی خو دوی خپله وجود نه لري او تنخواه یې اخیستل کېږي. وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه لیکي چې امریکایي سربازان درې کاله مخکې له هلمند ه ستانه شول خو تر یوه کال کمه موده کې بېرته ورغلل.

د امریکا یوه بله ورځپاڼه واشنګټن پوست لیکلي: د سنګین ولسوالۍ د سقوط خبر په افغانستان کې ګڼ شمېر څارونکي حیران کړي دي. د افغانستان د اردو متقاعد جنرال او پوځي کارپوه عتیق الله امرخېل ورځپاڼې ته ویلي چې دا ډېره عجیبه خبره ده چې د سنګین د بیا نیولو لپاره تر ټولو دغو تلفاتو وروسته دغه ولسوالۍ یو ځل بیا د طالبانو لاس ته پریوځي. هغه ویلي چې سنګین ولسوالي څه چې حکومت تر ټولو وړو کې سیمه هم باید مخالفینو ته پرېنږدي.

واشنګټن پوسټ زیاتوي: لس کاله مخکې په دغې ولسوالۍ کې د طالبانو او امریکایي او بریتانوي ځواکونو ترمنځ سخت جنګونه وشول. جګړو د ۲۰۰۶ کال له اوړي د ۲۰۰۷ کال تر پسرلي دوام وکړ. په پای کې نړیوال ځواکونه وتوانېدل چې طالبان له دغې ولسوالۍ لېرې کړي. واشنګټن پوست لیکي چې ناټو ځواکونو هغه مهال دغه جګړه د کوریا جګړې ته ورته ګڼلې وه. او بریتانوي عسکرو هغو درنو جګړو ته په اشاره چې د دوهمې نړیوالې جګړې په مهال د شوروي اتحاد په ستالین ګراد کې شوي سنګین باندې د سنګین ګراد نوم ایښی و. مګر له هماغو سختو جګړو او درنو تلفاتو سره سره اوس دا سیمه یو ځل بیا د طالبانو تر کنټرول لاندې ده.

د غربي مطبوعاتو له لوړو تبصرو او څرګندونو ښکاري چې سنګین ولسوالي یرغلګرو ته تر اټکل لوړ ستراتیژیک اهمیت درلود مګر اوس چې دا سیمه یو ځل بیا د اسلامي امارت د مجاهدینو تر واک لاندې راغلې معلومیږي چې د یرغلګرو زوال پیل شوی او اوس ورته تر ټولو مهمې سیمې هم نه شي ساتلی.

اسلامپالو ته

یوه ترخه یادونه

جیلاني پښتون

اسلام پالو او خصوصا د فیسبوک جهادي او دعوتي مبارزینو!

تاسو به خبر نه یاست چې د مارچ په اتلسمه شپه په کابل کې د جنوبي اسیا د هیوادونو د سیکولر ځوانانو اوومه غونډه ترسره شوه، له بنګال، هند، پاکستان،سریلانکا، افغانستان او ګنو نورو هیوادونو څخه تر سلو زیاتو نجونو او هلکانو په کې ګډون وکړ. د غونډې په وروستیو شیبو کې ددې ټولو هیوادونو د سیکولر ځوانانو او پیغلو یو ګډ مست اتڼ هم ترسره شوه،چې پاکستانی بې دینه زلمی په کې له هندی نجلی سره غیږ په غیږ شو او افغان سیکولر په کې له پنجابۍ سیکولرې سره نڅا وکړه. په غونډه کې د ټولو هیوادونواو نژادونو سیکولرانو پرته له سیاسي،وطني، قومي او نژادي تبعیضونو یوازې د فکري وحدت په معتبر بللو سره خپل یووالی ثابت کړ، په ګډه سره ونڅیدل، په ګډه یې د شرابو جامونه پورته کړل او بیا د صمیمانه اوښکو په بدرګه یو له بله رخصت شول. د غونډې په اړه د بي بي سي اریا احمدزۍ یو ویډیویي راپور جوړ کړ او ددغه مختلف النژاده خو متحد الفکره ځوانانو او پیغلو خپل منځي تړون او یووالی یې ټولې نړۍ ته وښود.

د فیسبوک اسلام پالو! تاسو دې په دې خبر یاست چې د جنوبي اسیا د سیکولرانو تر منځ نه خو د ډیورند موضوع د ملګرتیا مانع شوه او نه هم د پاک - افغان دودیز اختلاف. نه خو دهند او پاکستان تاریخی دښمنۍ د هندي او پاکستاني سیکولر ترمنځ جنجال پیښ کړ او نه هم د بنګله دیش او پاکستان بې دینانو له یوه بل نه خار وخوړ. دوی ټولو د خپل فکر او عقیدې په درناوي سیاسي او تاریخي ملاحظات یوې خوا ته وغورځول نو ځکه یې د یووالي او همغږۍ یوه مثالي بیلګه موږ تاسو ته وښودله.

پنجابي او افغاني دغه راز هندي او پاکستاني سیکولرانو په داسې حال کې یو بل سره وځېل،چې دوه اونۍ وړاندې کله چې د پیښور په زاخیلو کې د سیمې په سطحه د دینپالو تر ټولو ستره دری ملیوني غونډه جوړه شوې وه، هغه چې په سیمه او نړۍ کې ددین تر ټولو پیژندل شویو مراجعو (له کعبې ونیسه تر دار العلوم دیوبند) پورې نړدې ټولو ملایانو، صوفیانو، تبلیغیانو، سلفیانو، مذهبیانو، اخوانیانو او نورو په کې ګډون کړی و موږ ددې په ځای چې د مسلمانانو دې لویې اجتماع ته د تفاؤل او حسن ظن له عینکو وګورو بالمقابل مو له سیکولرانو وړاندې په ټوله غونډه او راټولو اسلامپالو له استثناء پرته د لعن او طعن غشي وارول او د کعبې د امام د مرګ فتواګانې مو صادرولې.

زه دا نه وایم چې په دې مجلس کې به د محکومیت وړ څه یا څوک نه ول. خامخا به و بلکې ډیری به یې د نقد وړ ول ځکه چې په دې امت کې یوازې رسول الله صلی الله علیه وسلم کامل انسان او معصوم دی. نور له هر چا ګناه او انحراف محتمل دی.مګر غونډه په عموم کې ددین په نامه جوړه وه او ډیری ګډون کوونکي یې سیکولران نه بلکې د پګړیو او مسواکونو څښتنان وو. که تلاش شوی وای له نقدونو سره سره په غونډه کې مثبت ټکي هم پیدا کیدلای شوای او د دین او دینپالو په ګټه د امید بخري هم په کې په لاس راتلای شوای.

نه پوهیږم د نړۍ د بیلابیلو جغرافیو اسلامپال ولې د خپل منځي خواخوږۍ او تمایل یو داسې تصویر نړۍ ته نه شي وړاندې کولای لکه وړمه شپه چې پنجابي او افغاني سیکولرانو وړاندې کړ؟ که پاکستانی سیکولر ملک امان الله کاسی په کابل کې مري نو افغان سیکولر غفور لیوال یې له جنازې سره تر کوټې پورې ځي. که پاکستانی کمونیست صادق ژړک د افغان کمونیست نور محمد تره کي د لیکنو کلیات چاپوي او بیا یې د مخ کتنې غونډې جوړوي نو هیڅ کیسه نه ده. مګر که د افغانستان کوم صوفي مزاجه مسلمان د پاکستان د جهنګ له پیر ذوالفقار صاحب نه د اسم ذات (الله) وظیفه واخیسته نو باید له هرې خوا وټکول شي او تر افغان سیکولرانو وړاندې یې د فیسبوک مجاهدین باید سنګسار کړي.

که رښتیا ووایم تر پرونه پورې زه هم په همدې نظر وم، مګرکله مې چې د اریا احمدزۍ په راپور کې د پنجاب، کابل، پیښور، کوټې او ډیلي د بې دینانو ګډه نڅا، ملګرتیا او ګډون ولید. یو فکر را ولوید. هغه دا چې معاصر اسلام پال به تر څو پورې د جغرافیو، مسلکونو او فرقو په کرښو سره ویشلي وي. ترڅو به تبلیغي مجاهد ته دهشت ګر او مجاهد به مدرس او صوفي ته د (قاعد) پیغور ورکوي. آیا موږ نه شو کولای چې خپلې عظمی ګټې او لوړ اولویتونه سره وپیژنو. خپلې د اشتراک او اتصال نقطې سره پیدا کړو. او بیا د بې ګټې تعصب په ځای هماغه د اتحاد ټکي سره رابرجسته کړو.

لکه څرنګه چې بې دینان یوازې د سیکولرزم په عقیده سره تړون لري او بیا که سیکولر د چګوارا غونډې جنګیالی وي، که د مارکس په شان فیلسوف وی که د فیض احمد فیض غونډې شاعر وي که د مبارک علي غونډې لیکوال وي او که د دامان الله خان غونډې سیاستوال وي دوی یې خپل بولي، وربانډې ویاړي او یوازې فکر ته داحترام په مخ یې قوم، وطن او ټول مشخصات هیروي. چې د دوی همدا بې سرحده پیوستون ددوی د بریا راز هم بلل کیږي. نو بناء اسلام پالو ته هم ښايي چې په نړیواله سطحه د پیالې ډکه خوا ووینې ځکه که هدف مو نړیوال خلافت وي نو باید په ډیرو ځایونو کې د تسامح له آپشن نه کار واخلو. موږ چې په وړو محدودو کې له نورو مسلمانانو سره نه شو چلیدلای نو په نړیواله سطحه به څرنګه د اتحاد ارمان تر بري ورسوو.

اې په سر ولاړ اسمانه ! ولې نه ژاړې په چيغو . . .

محب الله وثيق

اې په سر ولاړ اسمانه!

ولې نه ژاړې په چيغو...

بېګا شپه ناوخته څو ميلمنو(!) او کوربنو(!) زموږ د زابل ولايت د خاک افغان ولسوالۍ کې پر يوه کور چاپه واچوله چې په ترخ کې يې شپږ نارينه، درې ميرمنې شهيدانې کړې او دوې تورسرې يې د ويشتلو ورسته له ځان سره نامعلوم لورې ته يوورې.

ددې وحشت د قباحت او مذمت لپاره د تعبير الفاظ نه لرم، نه پوهيږم هغه کوم کلمات دي چې ددې غير شرعي، غير اخلاقي، او غير انساني سترې فاجعې او وحشت غندنه پرې وکړو...

هيڅ ګمان نه کوم چې دا به هغه اتل زابل وي...

هغه زابل چې د اسلامي، ملي او پښتني برم او غيرت ځانګو وه...

ها چې بچيانو يې د هند و سند د اسيرو ميرمنو د نجات لپاره سرونه ښندل...

هغه ځوانان چې د خپل غيرت او شهامت غرور په وجه يې دا ترنم د ورد په توګه زمزمه کاوو:

"په هند وسند و پر تخار او په کابل نشته

له ما اتل نشته

بل په زابل نشته"

چېرته دي ها اتلان چې په ګرد هند و سند کې يې په چا سترګه نه ډکېده... اى خاک افغانه!! ...

نوم دې خورا حماسي دی، خو حيران دې ته يم چې د افغانانو د خاورې ننګ همدومره و؟ ولې دې ددې ستر وحشت په وړاندې سکوت کړی دی؟ آيا نن ستا په لمن کې ميرمنې لوپټې د څو چرسيانو او پوډريانو په پښو کې نه رغړې؟ هغه عفيفې، حياناکې پښتنې ستا په غيږ کې څنګه د پنجرو شاته پرتې دي...

اې اسلامي امته!!

دا زموږ "عموريه" ده، دلته زموږ او ستاسې معصومې خويندې د پنجرو تر شا د څو لوپرو شين سترګو او مزدورانو په منځ کې د مظلوميت آهونه او سلګۍ باسي، او د "وا معتصماه" کريږې وهي، آيا په تاسي کې يو "معتصم" شته چې زموږ د خور چيغې ته "لبيک" ووايي؟!!

پوهيږم چې ټول لاجوابه يو... يا مو خپل ايماني او ملي غيرت ته شا کړې ده، او يا د "مصلحت" تر چتر لاندې ځان غلی کړی، خو پوه شئ چې دا د يو قشر- او يوه کهول بې عزتي نه بلکې د هر مسلمان ورور د پت او عزت د ننګ مسئله ده.

اې زما اسيرې خورکۍ!

موږ درته شرمنده يو... نن موږ يو باتور نه بلکې باتَوَر قوم يو... موږ معاف کړه... موږ د يو څو سپيرو څېيرو ځوانانو په نامه پايو او همدوی دي چې ګونډې ستا د پروني غم به خوري...

خو

موږ وبخښه...

ګرانې خورې!

موږ وبخښه...

نړۍ بیا د سترجنګ په مورګه...

شهید زوی

دروان ۲۰۱۷م کال داپریل په ۷ مې نیټې امریکا دسوریې حمص ښارته څېرمه پرتې دالشعیرات نومي سیمې په هوائي ډګر ۵۹ ټاماهاک نومي توغندي وویشتل چې له امله یې دآزادو رسنیو له لورې دخپرو شویو راپورونو له مخې دایران او سوریې د ګډ هوائي ځواک ۷۳ تنه صاحب منصبان ووژل شول.

دبشار الاسد اداره وایي چې دامریکا په یادو بریدونو کې ایله د دوئ ٦ کسان وژل شوي او نور دسر کوم درونډ زیان یې ورته ندی اړولی خودشام دننه مرستندویه اداري دحکومت دا خبره ردو او وایې چې ځاني تلفات له دې ډېر زیات دي .

دالجزیرة تلویزون له لورې په خپورشوي راپورکې راغلي دي چې دامریکا لخوا دټام هاک توغندویې بریدونو نه وروسته الشعیرات هوائي ډګر له استفادې څخه وتلی ؛ همدا راز دالوتنو لپاره دروسیې له لورې یوه نوې جوړېدونکې هو ائي کربنه هم زیانمنه شوې او هم هغه نوي پرمختللي وسایل له منځه تللي کوم چې په یاد هوایې ډګر کې روسیې دنوې جنګي ټیکنا لوجۍ په لړ کې نصب کړي وو .

دخبري سرچینو په وینا:دحمص ښار جنوب ته په واقع الشعیرات هوایي ډګر کې دسوریې او ایران دجنګي الوتکو سربیره دروسیې جنګي الوتکې هم شتون لري چې په دې توګه ددې هوایي ډګره دایران او سوریې ترځنګ روسیه هم الوتنې کوي او دسوریې د دولت دمخالفینو دواک لاندې سیمو(لکه ادلب، حماة، او حمص) باندې بمباردونه کوي.

کله چې دامریکا له لورې یاد هوایي ډګر دبریدونو هدف ګرځېده هلته په هم هغه شیبو کې دایران او سوریې دپیلوټانو ترڅنګ روسي پیلوټانو هم شتون درلود چې حتماً به هغوئ هم په بریدکې متضرر شوي وي.

ویل کېږي چې د ۲۰۱٦ ز کال په ستمبر کې روسیې دغه هوایي ډګرته خپلې یو شمېر الوتکې بیولې وې چې له دغه هوایي ډګره هره ورځ په لسګونوجنګي پروازونه کوي او دسوریې دحکومت د مخالفینو اهداف په نښه کوي .

رښتیا داده چې نړۍ کې یو په بل پسې په دومره تېزۍ سیاسي اونظامي بدلونونه رامنځته کېږي چې دپرنامتوشنونکي هم په خپلوشنونوکې داحتیاط نه کار اخلي اودراتلونکي په اړه له ډېرو وړاندوینو ډډه کوي

۸ کلونه وړاندې چې اوباما ځان ولسمشرۍ ته کاندید کړ نو دعراق نه دامریکایې فوځونو دویستلو ناره یې په شعارونو کې ډېر مهم شعار و؛ بیا چې په لومړي ځل هغه په انتخاباتو کې بریالی او دامریکا ولسمشر وګرځېد نو اعلان یې وکړ چې دعراق نه دامریکایې فوځونو ویستل یې دکار په لومړیتوبونو کې ده.

داوباما شعارونوته په پام سره ډېرو پوهانو اوشنونکو ویل چې داوباما دبریالیتوب نه پس به په یوکال کې دننه دامریکافوځونه دعراق نه ووځي؛ خو خلکوچې څنګه

ګومان کاوه هغسې ونه شوه داوباما لومړی او دوهمه دواړه دورې تېرې شوې خو دعراق نه امریکایې فوځونه ونه وتل او ۸ کلونه وروسته چې د اوباما دوهمه دوره هم په پوره کېدو اوهغه دسپینې ماڼۍ نه رخصتېدلونو په داسې حال کې رخصت شوچې دهمدې عراق په موصل ښار کې امریکایې عسکر په جګړه بوخت وو ؛ او پردې ښار دامریکا جنګي طیارو درانده بمونه غورځول.

همداراز اوبامادخپل واک په وروستو دوه کلونو کې دمنځني ختیځ نه دشاتګ او سهیل ختیځې آسیا ته دتوجو زیاتولو پالیسۍ په کار اچولې وه ؛ پدې اړه به اوباما او داوباما سلاکارانو ښه په ډاګه داویل چې اوس دمنځني ختیځ سره دامریکا ډېرې ګټې ندې تړلې.

مبصرینوبه په ډېرجزم داخبره کوله چې امریکا نوردمنځني ختیځ نه ځان راغونډول غواړي او ددې لامل به بې په امریکا کې دتېلو کشف؛دجنګونو نه دامریکایې ولس بې زاري او یوبل ته دامریکا او ایران ورنېږدې کېدل ګڼل .

عام فکرهمدا وچې امریکا دمنځني ختیځ نه دشاتګ پرپالیسۍ عمل کول غواړي خو پرې نشي توانېدی؛ شنونکو به ویل :دبش په مشرۍ کې چې دجمهوري غوښتونکو اداري امریکا په منځني ختیځ کې راښکیل کړیده له هغې نه پس دیموکراتانو په خپلو دوه دورو کې امریکا دسلېخوددې ډنډ نه راویستله خو راویې نه ویستلای شوه ؛ اوباما ټرمپ ته ددولت واګې په داسې حال کې وسپارلې چې له افغانستان پرته په عراق،شام اولیبیاکې په تمامه معنی او په یمن کې په جزوي ډول راښکېل ده .

دافکرعام و خو پرشام دامریکا اوسنۍ حملې دا فکر رد کړ.

ترڅنګ یې ددې نظرخطا هم روښانه شوه چې ګینې اوس امریکاپه نړۍ کې دجنګونونه ځان ویستل ، دنړیوالو لانجو نه ورو ورو ځان راټولول ، دمنځني ختیځ نه وتل ، دخپلوداخلي ستونزوحل اودخپل ولس اوهېواد پرمختګ ته توجو را اړول غواړي.

پدې کې اوس دشک ځای ندی پاتې چې په شام کې د بشارالاسد راپرځول دامریکا اصل هدف ندی دامریکا موخې له دې ډېرې سترې دي ؛ اوسنو اقداماتوته چې وکتل شي نوداسې ښکاري چې دامریکا هدف سمدلاسه دمنځني ختیځ دټولونسبتاً ځواکمنو دولتونو ړنګول ؛ دهېوادونوتجزیه کول ، دوړو اوکمزورو دولتونو رامنځته کول اوپر کمزوري منځني ختیځ دبشپړې قبضې راوستلو اودلته دخپلوپښو مضبوطولونه پس په منځنۍ آسیا اوکاکیشیاکې خپل دائمي حضور یقیني کول دي .

نړۍ له دې ښه خبره ده چې دادامریکا ډېر زوړ پلان دی چې دشوروي اتحاد دماتېدوپرمهال پر عراق دیرغل او دروسې داستعمار نه په ازادو شویو اسلامي هېوادونوکې دفوځي اډو جوړولونه ددې پلان عملي تطبیق پیل شواودلا زیاتې تقویې لپاره پرافغانستان او بیا پرعراق یرغلونه وشول .

ربنتیاداده چې دشوروي اتحاددماتېدوپرمهال امریکا په هر لحاظ لویه ګڼل کېدله او پدې مادي نړۍ کې په رښتیا هم چې لویه وه خو دامریکا له بده مرغه چې خپل دمادیاتو له حده زیات حرص پرافغانستان حملې کولو ته تیاره کړه ؛ دلته دمادي وسایلو په لحاظ دکمزورو افغانانو سره په جنګ کې راښکېل شوه او چې دا جنګ تر ۱۵ کلونو دغځېدلو له امله دامریکا دتاریخ ترټولو اوږد اودمادي اوځاني تلفاتوبې ساري جنګ وګرځېد نو په نړۍ کې چې دامریکا کوم مقام و هغه دخاورو سره خاورې شو؛دټولې نړۍ دقبضې او په ټولې نړۍ یې دحاکمیت راتللو خوبونه غلط شول؛ پر نړۍ یې چې کوم رعب و هغه ختم شو او دافکر له منځه ولاړ چې ګینې دا هېواد نه شکست خوړونکی هېواد دی؛دامریکا له بده مرغه چې کمزورې او شکست خوړلې ښېره یې اوس دیو په بل پسې په مختلفو ډګرونو کې په مسلسل ډول راڅرګندېږي.

افغانستان خوهسې هم دامپراتوریو او ستر وزیر ځواکونو هدیره ده او دلته هرغاصب سترقوت په ګونډو شویدی نوکه امریکا دلته شکست وخوړ نړۍ یې دتمې خلاف کارنه ګڼي اونه دامریکایانو لپاره دومره ډېره دشرم خبره ده؛دامریکا لپاره ډېره دتشویش وړخبره داده چې په ټولېزه توګه ټولې نړۍ کې اوپه ځانګړې ډول اسلامي نړۍ کې سخته منفورکېدوترڅنګ یې په نړیواله سطحه مقام اوحیثیت ته نه جبرانېدونکی زیان واوښت.

ددې ترڅنګ چې امریکایان لوی ظالمان اوحریصان دي ډېرمغرورخلک هم دي ؛غواړي چې پرټولې نړۍ دې یواځې دهمدوئ پرېکړې نافذې وي اوهیڅ ځواک اوطاقت دې دا سې نه وي چې ددوئ پرېکړه رد کړي یاېې مخې ته ودرېږي ؛ دمخه مو وویل چې کابو ۲۵ کلونه وړاندې چې په افغانستان کې دروسانو دماتې؛دشوروي اتحاد ټوټه ټوټه کېدواودکمونستي بلاک ددفنېدو ورځې وې په نړۍ کې همداسې یو حالت و چې دامریکا مخې ته دودرېدو هیڅوک نه و خواوس داسې نده؛اوس دخپل پخواني مقام نه ډېره لاندې راغورځېدلې ده .

امریکایان ددې ترڅنګ چې مغروردې ډېرضدي خلک هم دي؛دنړیوالو ترمخه دخپلو دولتونوپه ناسموسیاستونواعتراف نه کول ددوئ دغرور اوضدروښانه دلیل دی اونه غواړي چې خپله کمزوري نړۍ ته ښکاره کړي .

داسې نده چې ګینې دوئ په څه نه پوهېږي؛دوئ کوچنیان ندي؛په هر څه ښه پوهېږي؛په خپل اوسني کمزوري حیثیت هم ښه پوه دي او دخپلو مشرانو کومو کړنلارو او کړنو چې امریکاددې دومره تنزل سره مخامخ کړه په هغې هم پوه دي او پدې اړه ښه اندېښمن هم دي؛ پر اوکراین دروسي حملې اودکریمیا دقبضې پرمهال چې امریکا کوم شاتګ وکړ؛دشاتګ دادشرم او کمزرۍ نه ډک لمحات به امریکایان هیڅکله هم هېر نکړي.

نودټرمپ کامیابي هسې یوتصادف نه و بلکې پدې حالاتو کې ټولو امریکایانو دامریکا لپاره دهمده په څېر یوداسې ولسمشر. غوښتلو چې دنړیوالو ستونزو پرمهال دنړۍ دنورو لویو طاقتونو په مقابل کې په ډګر کې ودرېدونکی وي او ورسره یو ځای داسې اقدامات هم وکړي چې له امله یې امریکابېرته دزوړ مقام اوحیثیت ښښتنه شي.

ټرمپ داناره پورته کړه چې موږ به دامریکاعظمت بیا رامعاد کوو او موږ به امریکا بیا عظیمه امریکا ګرځوو چې همدا ناره نه یواځې دا چې دامریکایانو دزړه ناره وه بلکې دوخت اشد ضرورت یې هم ګڼلو نوځکه یې ټرمپ ته ښه په اخلاص رایې ورکړې اوکامیاب یې کړ؛ټرمپ به دانتخاباتي کمپاین پرمهال په خپلو خبروکې ویل چې دامریکا بهرنۍ پالسي. داسې ناکامه ده چې له امله یې امریکادخلکو دخنداوړ ګرځېدلې ده.

دامریکا د همدې ارادونه روسیه خبره ده نوځکه یې مقابلې ته راوتی ده اوله بده مرغه چې دمقابلې ډکریې دشام په نوم اسلامي هېواد ګرځېدلی دی .

روسیه اوس د۲۵ کلونوپخوانۍ کمزوې روسیه نده ؛ روسیه اوس بیا ځان دسوړجنګ دزمانې په څېر یوقطب ګڼي اوپه منځنۍ ختیځ اومنځنۍ آسیاکې دامریکا هغه نفوذ منلوته نده تیاره دکوم نفوذ چې امریکا خوبونه ویني نوځکه په شام کې دامریکا په مقابل کې ولاړه ښکاري او پدې هیله یې په شام کې فوځي مداخلت کړی چې به امریکادشام نه وړاندې تللوته پرې نږدي اوهمدلته به یې داهدافو په وړاندې خنډ شي .

داله شکه وتی ده چې دسوړ جنګ په زمانه کې په اروپاکې دناټوپه قیام روسیه دامریکا په فوځي محاصرې کې راغلی وه ؛ اوس په حقیقي معنوکې هغه فوځي محاصره له منځه تللی ده خوروسې سره اوس د هغې په پرتله د ډېرې خطرناکې محاصرې وېره پیداشویده ؛ دروسې دچم

ګاونډ اسلامي هېوادونو نه چې کوم مسلمان ځوانان دجهاد په اراده شام ته تللي وو ګڼ شمېر يې خپلوهېوادونوته بېرته راستانه شويدي يا د راستنېدو اراده لري چې دوئ ټول به ورو ورو ځانونه منظم او په سيمه کې دروسې اهداف په نښه کوي .

روسيه اوس له دې جانبه دډېرې وېرې سره مخامخ ده او پدې عقيده ده چې تر پولو يې دمسلمانو مبارزينو په رسېدلوکې دامريکا لاس دی .

پر امريکا دروسې له لورې لګېدلي داتورونه ځوځلې په رسنيوکې دبحث موضوع ګرځېدلي ده اوروسې دنړۍ او په ځانګړې ډول د سيمې هېوادونو غوږونوته ددې خبرې د رسولوهڅې هم کړيدي ؛ په ۲۰۱۵م کال کې په ترکې کې دG۲۰ هېوادونوغونډې ته روسې پدې اړه شواهد هم وړاندې کړي وو.

پدې کې رښتيا هم دامريکا لاس شته اوکه نه ؟ اوکه وي نوزيات به وي که کم ؟ داځانته خبرې دي خوداخبره يقيني ده چې دا دروسې لپاره دناټوپه پرتله ډېر ستر ګواښ دی .

څېړونکي وايې چې په سيمه کې دداعش په څېر دډلوراپيداکېدلو اوقوي کېدلوله لارې دامريکا دواړه هدفونه پوره کېږي هم په اسلامي هېوادونوکې داخلي جنګونه زور مومي اونظامونه له منځه ځي اوهم دروسې پرضد حلقه تنګېږي اومشکلاتوکې يې زياتوالی راځي .

روسيه فکرکوي چې امريکا بيا د۲۵ کلونوپخواني خوبونه وينې اوغواړي چې روسيه په خپل هېوادکې محدوده او په نړيوالوموضوعاتو اوپرېکړوکې دامريکا مخې ته د ودرېدلو جرأت اوصلاحيت ونه لري ؛ روسيه دامريکا دې ارادو سخته اندېښمنه کړيده نوځکه دامريکاپرضد دقهرېدلي مقابل لوري په څېر غبرګونونه ښکاره کوي ؛ دروسې سره دايران په څېر هېواد چې ځان دامريکا سرسخت مخالف بولي په يوډګر کې ښکاري اود پاکستان، ترکې اومصر-په څېر هغه هېوادونه چې دامريکا مهم اتحاديان ګڼل کېدل اوس يې دروسې سره روابط ترېل هروخت ښه شويدي او په مختلفو برخو کې ديادو هېوادونو اوروسې ترمنځ دهمکاريو تړونونه لاسليک شويدي .

روسيې دچين په څېر دنړۍ ستر اقتصادته هم ځان ډېر ورنږدې کړيدی اودواړه هېوادونه په ګډه د((برکس)) په څېر داسې بانک جوړولوباندې توانېدلي چې په راتلونکې کې به دنړيوال بانک او آی ايم ايف ځای ونيسي ؛ دابانک به دنړۍ غريبوهېوادونو ته په اسانوشرطونو اوکم سود قرضونه ورکوي ؛ روسيه اوچين به هڅه وکړي چې له همدې لارې دډالرنړيوال حيثيت له منځه ولاړ شي .

امريکا که امريکا ده نو په ډالر امريکا ده ؛ کابوپه ټولې نړۍ کې راکړه ورکړه په ډالر روانه ده چې له همدې لارې دنړۍ په اقتصاد دامريکاقبضه ده ؛ دډالر نړيوال حيثيت ختمېدل داسې دي لکه دامريکا ختمېدل نوځکه امريکا ته د ډالر نړيوال حيثيت له منځه تلل دمنلو وړ ندي

امريکا ته به پدې حال کې يواځې ستر فوځي طاقت ورپاتې وي نوځکه ويل کېږي چې امريکا به دخپل زوړ حيثيت اومقام دترلاسه کولولپاره خامخا دخپل فوځي ځواک نه کار اخلي .

ډېرو امريکايي ليکوالانو اوس دامريکا دفوځي ځواک دکارولوپه اړه ليکنې کړيدي او ويلي يې دي چې اوس داسې نښې راښکاره شويدي چې دشمالي کوريا ترڅنګ به دروسې يا چين پرضد هم فوځي اقدام وشي ؛ امريکا په يو وخت کې د چين او روسې دواړو پرضدفوځي اقدام نشي- کولای ؛ امريکا به هڅې وکړي چې چين دځان ملګری اود روسې پرضدفوځي ځواک وکاروي اويا به روسيه په خپل اعتماد کې واخلي اوپه چين به حمله وکړي؛ اوپدې کې شک نشته چې ځان سره دځينو دملګري کولو اوپر نورو دحملې کولو مهارت امريکا لري .

دنړیوالو چارو شنونکو په اند: دامریکا لخوا اوسني حرکتونه ښيي چې نړۍ په ډېره تیزۍ سره دسیاسي او دفاعي بدلونو په لور درومي

دکتونکو په نظر داپریل په ۷مه نیټه دامریکا له لوري په سوریه شوی برید همدغه اراده تمثیلوي چې امریکا غواړي دفوځي ځواک په کارولو سره دروسې اوچین په څېر ځواکونه او هېوادونه چیلنج کړي کوم چې ور سره په نړیوال ډګر کې دسیالۍ لپاره ځانونه جوړوي ؛ پدې لړ کې امریکاهرڅه ته چمتو ده او چمتووالی یې نیولی دی ؛ چې په سوریې اوسنی برید یې پیل دی او دداسې بریدونو د دوام قوي اندېښنې شتون لري

خبري منابع وایي په سوریه داحتمالي برید لپاره امریکا منځني ختیځ ته خپل ۳۵ زره فوځیان هم لیږلي او هم یې خپله یوه سمندري بیړۍ دروم سمندرګي ته رسولې او هم یې داټالیا په سمندري حدودو کې یوه بله بیړۍ له هام ټاک توغندو ډکه ودرولې ؛ په دې سربیره د روم سمندرګي په ختیځ کې دامریکا یوه بله بحري بیړۍ یو ایس میساروي همداراز په سره بحیره کې یې جلا سمندري بیړۍ ودرولې او په خلیج کې خو له وړاندې دامریکا سمندري بیړۍ ایچ ډبلیوبش شتون لري چې ددې ټولو نه به امریکا په سوریه احتمالي بریدونو کې ونډه اخلي .

د دې ترڅنګ به امریکا په سوریه باندې د هوایي بریدونو لپاره دترکیې دانجر لیک هوایي ډګر څخه هم کار واخلي له ترکیې پرته به داردن ، کویت او د عراق په شمال کې له واقع پوځي بیسونو څخه هم ګټه پورته کړي.

دڅه مودې راهیسې روسیې کوښښ کړي چې په شام او منطقه کې دامریکا دپلانونو په مخ کې خنډونه واچوي ځکه خویې یې دشامي حکومت دفاع لپاره په منطقه کې خپلې پوځي اډې جوړې کړې او دهغو نه دوامدار دشام د دولت مخالفینو باندې بمباردونه کوي او پخپل ټول وس یې تراوسه دبشارالاسد رژیم ژغورلی .

حتمي ده چې کله امریکا په سوریه برید کوي له امله به یې دروسې پوځي اډې او تنصیبات هم متضرر کېږي چې په مقابل کې به روسیه خامخا توند غبرګون ښیي .

دمسکاونه په خپروشویوراپورونوکې راغلي دي چې په عصري توغندیو اوټیکنالوجۍ سمبال ایډمرل ګریګوروچ نومې سمندري جنګي بېړۍ چې دتورې بحیرې نه روانه شوې وه اوس سرې بحیرې ته رسېدلې ده ، داهماغه بېړۍ ده چې تېرکال یې په شام کې دروسې په عملیاتوکې ګډون کړی و.

او ددې امکان شته چې په سوریه کې دامریکا او روسیې دواړو پوځي مداخلتونه اودیوبل سره مخامخ کېدل د دواړو ترمنځ دیوخونړي مخامخ تصادم سبب شي چې دا به بیا ډېر ژردنړۍ نورو برخو ته هم منتقل شي.

که داجنګ په رښتیا هم رامنځته شي نودابه دنړۍ ترټولو ستر جنګ او تصادم وي طبعاً پایلې به یې ټولې دنړۍ او په تېره بیا دمسلمانانو لپاره ډېرې بدې وي ؛ خوترڅنګ به یې روسیه او امریکا هم دلویې بربادۍ سره مخامخ شي نو ځکه ویل کېږي چې دواړه لوري شاید بیا یو تفاهم ته سره ورسېږي اوله دې تباهۍ ځانونه وژغوري خو دامریکا نامتو سیاستوال او د باندنیو چارو پخوانی مقتدر وزیر هنري کسنجر ددې جنګ واقع کېدل یقیني بولي او وایي چې دجنګ نغاره وهل شویده ؛ څوک یې چې نه اوري شاید کوڼ به وي .

د جیمز متیس

تر سیوري لاندې ظهور

شاهد (غزنیوال)

تیره ورځ د امریکا د دفاع وزیر جېمز متیس په یو ناڅاپي سفر کابل ته راغی، البته کابل چارواکو ته یې سفر نا څاپي خو خپله د متیس د مهال وېش له مخې نا څاپي نه؛ بلکې مخکې ترمخکې یو پلان شوی سفر و چې د یوې ډلې متخصصینو په ملتیا یې د افغانستان د کړکیچن وضعیت د څېړلو په غرض ترتیب کړی و.

کابل ته د جیمز متیس له رسیدو سره همهاله آزادی راډیو د یوې باوري سرچینې په حواله خبر ورکړ چې د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار د راتګ لپاره هم په ننګرهار ولایت کې پوره چمتووالی نیول شوی او د تېرو ۲۴ ساعتونو په جریان کې د ننګرهار ښاروالۍ مېلمستون د حزب اسلامي امنیتي کسانو ته سپارل شوی دی.

یادې سرچینې دا هم ویلي و چې تر اوسه ښاغلی حکمتیار چا لیدلی نه دی خو د هغه د څرګندېدو لپاره د ترتیباتو نه داسې برېښي چې ممکن ننګرهار ته رارسېدلی وي.

خو په کابل کې د دفاع وزیر او لوی درستیز د استعفاء تر خبر خپریدو وروسته د حکمتیار مطبوعاتي مسؤل ښاغلی سعید الرحمن له آزادي راډیو سره په مرکه کې دا خبره رد کړه چې ګنې حکمتیار دې ننګرهار ته رسیدلی وي، بلکې نوموړي وویل چې حکمتیار به ډېر ژر د افغانستان له ختیځو ولایتونو څخه په یو ولایت کې راڅرګند شي.

دا چې ښاغلی حکمتیار به چیرته ظهور کوي سپیناوی یې په ښاغلي سعید پوري اړه لري ، خو هغه څه چې مونږ ته قابل بحث دي هغه دا چې افغانستان ته د ښاغلي حکمتیار راتګ د جیمز متیس له پلان شوي سفر سره څرنګه مصادف شو؟

له ګډ حکومت سره د ښاغلي حکمتیار د روغې جوړې پروسه تر دې وړاندې هم له یو لړ دغسې تصادفونو سره مخ وه.

لومړی تصادف دا چې د حکمتیار او حکومتي استازیو ترمنځ د روغې جوړې پیل او لاسلیکول هم د سپتمبر په میاشت کې وشول او دوهم تصادف دا چې د دې روغې جوړې د لومړۍ ناستې لپاره هم د اکتوبر اوومه انتخاب شوې وه.

د سپتمبر د میاشتې لومړني اوونۍ د واشنګټن او کابل ترمنځ د امنیتي تړون له لاسلیکولو او د اکتوبر اوومه پر افغانستان د امریکايي اشغال له ورځې سره مصادفه ده.

دا چې پر دې دواړو تصادفونو د جیمز متیس له سفر سره د ښاغلي حکمتیار د ظهور تصادف هم ور اضافه شو نو ښکاریږي چې د حکمتیار او حکومت ترمنځ د نوې روغې جوړې رازونه تر هغه څه ډیر لوړ دي چې ځیني ساده ګان یې د نوموړي د عُنقايي ظهور په اړه په شک او تردد کې اچولي دي.

که د ښاغلي حکمتیار او حکومت ترمنځ د نوې یاراني مزې هرڅومره په تاریخي!!! تصادفونو سره تړلې وي خو حکومت به پرې ښاد نشي، ځکه د ښاغلي حکمتیار پل داسې د بخت (نحوست) پل دی چې چیرته یې ایښی هلته بیا چا ښه ورځ ولاکه لیدلې وي.

دا چې په ننګرهار کې مزعوم ظهور په کابل کې د دفاع وزیراو لوی درستیز لمر ته کینولو، که کابل ته رارسیدلی واي یقینا چې د قدم له نیک پالې به یې نن د ګډ حکومت په سر د ویر ساندې ویل کیدلې.

دطالبـانو سیاسي خوځښت

صلاح الدین صارم

کله چې طالبانو په نظامي ډګرکې خپلــه وړتیاوښــودله اوډېــرو نړیوالونظامي متخصصینو په اند ددې ډګر فاتحین وبلل شول، وروسته يې چې دسیاسي ډګر دفتحې په درشل قدم کېښود° نوپه هیواد کې دننه په یولړ کړیو سیاسي زبون مرۍ دومره راتنګه کړه چې عقلانیت يې له لاسه ورکړ او هغه څه يې وویل چې په ښکاره پکې دلمر له شتون نه انکار پروت و، دکابل اداري داجرائیه ریاست ویاند رحیمي په ډېره سپین سترګۍ وویل : " هرڅوک چې طالبان سیاسي خوځښت بولي مونږ يې غندو"

(آفرین بفکر گلمرجان ...) ډېر ښه استدلال دی او ددغه ریاست دښه مدیریت یوه ښه نمونه !!

خارجي باداران يې نورهړدول تمویل او ننګه کوي ولې له سیاسي تفکر او دریځه يې ډېرلرې ساتلي، داچې داډول ډلګۍ سیاسي قدرت ته دهیڅ کومې سیاسي مبارزې له لارې نه دي رسیدلي او یواځې دخارجي حامیانو برکت دی چې نه تنها لوړ حکومتي پوستونه يې نیولي بلکې همغوی ورته ایجاد کړي هم دي، همدا لامل دی چې وخت په وخت يې له خولې ناپریتې راوزي اوپه عملي میدان خوېي داسې څه تاریخ ته پرېښودل چې تل به افغانانوته پېغور اوشرم وي .

که څه هم اوس داسې ښکاري چې امریکا په افغانستان کې دخپلو موخو دلاسته راوړلو لپاره له دې خلکو دداسې وسیلې کار واخیست چې په تدریج سره یویودکثافاتو کڅوړې ته غورځوي، خو کوم څه چې ددوی له کرداره دهیواد په تاریخ دتل لپاره داغ اولکه پاته شول، دطالبانو ژمنتیا،سپېڅلتیا، هیوادنۍ مینې او حقانیت ته نور هم هغه مقام ورښي چې کېدای شي طالبانو په خپلو هڅوهم نه وای ترلاسه کړی .

دطالبانو نظام به کفري طاغوت د " احزاب " په ایتلاف له منځه وړی وي، خو لکه دوی چې فکر کاوه، داسې نه دي نابود شوي چې بیا دې دهغوی اثر اوفکر پاته نه شي، بلکې برعکس په افغانستان کې داسلامي فکر دثبات اوپایښت لپاره ددوی زوال یوحکمت ثابت شو او اوس دنړۍ په سطحه داسلامي خوځښتونوپه لړ کې یواځینی هغه سیاسي جهادي خوځښت دی چې هم يې داسلامي نظام نمونه وړاندې کړې او هم له ډېرو زیاتو ننګونو سره سره له پاشل کېدا او تجزیې پرته یوموټی اومتحد پاتې دی .

په داسې یوه مقام اوحیثیت خپلولو سره دطالبانو سیاسي خوځښت ته دهغو ډلو ټپلو تورونه او ردونه هیڅکله کوم ځای نه شي نیولای چې په ولس کې دخپل غلام فطرت له مخې ډېرمنفور دي، که څه هم په یوه دولتي مقام او ریاست کې دې ځای ولري، نااهلي،بې کفایتي او نه وړتیايي هیڅکله له خلکو پټه نه شوه، تردې چې یوې یوې څېرې يې اوس په یوه لوی خیانت اوجرم شهرت موندلی، ځکه نو اوس دوی ته په کار ده چې حقایق ومني اودطالبانو سیاسي بریاوې تسلیم کړي، هغوی لکه څنګه چې په نظامي ډګرکې خپل اهلیت دپیل له ورځې ترننه ثابت ساتلی، دغه راز يې اوس په سیاست کې هم نړۍ ننګولې، ترټولو مهمه لاداچې ددوی باداران دطالبانو سیاسي اونظامي بریاوې اوپرمختګونه مني اوپروړاندې يې په واز کومي اعتراف کوي چې مونږ طالبان له منځه نه شوړلای، نو دوی ولې په سترګو لاس ږدي اوله حقایقو او واقعیتونو لرې داسې څه وایي چې سبا ببرته پردوی مات وي .

د ماشومانو روزنه څنګه وکړو؟

باهر حقپال

پیلیزه...

د اسلامي ټولنې هر مور او پلار دا هيله لري چې اولاد يې د دين او هم دنيا په چارو کې ترټولو غوره او بريالي و اوسيږي، ترڅو مسؤليت ترسره او خپل هدف ترلاسه کړي؛ خو تر هدفه د رسيدلو له پاره يوازې هيله او اميد بسنه نه کوي، بلکې هدف ته د رسيدو له پاره به له هر ډول اغيزمنو، د بريا دلارو-چارو چمتو کوونکيو او ګټورو اسبابو څخه کار اخلي، ممکنه او نه ستړې کيدونکې هڅې به رواني ساتې، پام مو وي چې دې کار کې مور او پلار خپل سرۍ ته نه دي پريښودل شوي، بلکې د الله جل جلاله له لوري پرې فرض شوي چې د نه ترسره کولو په صورت کې د عذاب ور ګرځيدونکي دي..

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ. [سُورَةُ التَّحْرِيم : ٦].

ژباړه:

اې مؤمنانو! خپل ځانونه، خپل اولاد او کورنۍ له هغه اور څخه وژغورئ چې د سون مواد به يې انسانان او تيږې وي؛ پر هغه به غوسه ناکې، سخت زړې پرښتې څارونکې وي، چې هيڅکله به د الله له حُکم څخه سر نه غړوي او هر امر چې ورته کيږي، هغه به په ځای راوړي.

همداراز مور او پلار يې، دوی ته د سپارلې دندې د سُستۍ په صورت کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ګواښ مصداق ګرځي، فرمايي: "کوم بنده ته چې الله جل جلاله د چا واک ور وبخښي او بيا يې له بدو کړنو را و نه ګرځوي او ښو ته يې را و نه بلي، هغوی به د جنت بوی هم ترلاسه نکړي.

له ګڼو نصوصو دا خبره جوته او موږ پرې مأمور يو چې: له صلاح (ځان جوړونې) سره-سره لازمي ده چې اصلاح (د نورو جوړونې) ته هم اړينه پاملرنه وکړو، په ځانګړي توګه "سورت العصر" يوازې د همدې مضمون له پاره ځانګړی نازل شوی چې الله جل جلاله له تاوان (عذاب) څخه د خلاصون او د بريا د ترلاسه کولو، شرطونه همدا دوه په ګوته کړي، لومړی: صلاح دويم اصلاح.

صلاح ته په "امنوا" او "عملوا الصلحات" سره نغوته سوې چې له "امنوا" څخه هدف د عقيدې سمونه او له "عملوا الصلحات" څخه د عمل سمونه هدف ده.

اصلاح ته په "وتواصوا بالحق" او "وتواصوا بالصبر" سره اشاره شوې ده چې له تواصوا بالحق څخه نورو ته د عقيدې د سمونې تعليم او له تواصوا بالصبر څخه نورو ته د کړنو د سمونې تعليم هدف دی.

دويم اصلاح په لومړۍ صلاح عطف شوی او د عطف پـه مرسـته څنګـه چې صلاح د نجات ذریعه ده اصلاح هم د نجات ذریعه ګرځیدلې.

دې ته ورته ګڼـو ایـاتونو او حـدیثونو کـې همـدا مضـمون کلـه د امـر بالمعروف و نهي عن المنکر په عنـوان یـادیږي، کلـه د وعـظ، تـذکیر او کلـه د وصیت او نصیحت په عنوان؛ لنډه دا چې له ځان جـوړونې سره-سره ضروري ده د بل جوړونه، چې د نه ترسره کولو پرمهال یـې د خـورا سـختو وعیـدونو جوګه ګرځو.

په تېره بیا د خپلو-خپلوانو او اولادونو روزنه/ جوړونه چې سترلاربشـود محمـد صـلی الله علیـه وسـلم د ډاګیـز دعـوت پـه پیـل کـې د خپلـو پـر جوړونې/روزنې مأمور شوی.

وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ. [سُورَةُ الشُّعَرَاء : ۲۱٤[

ژباړه:

)اې محمده!) خپل ډېر نژدې خپلوان (د الله د عذاب څخه) ووېروه.

دا چې زیاتره وخت وینو چې د بریا یو اړخ ته لږو-ډېر ځېر یو، خـو بـل اړخ کې مو کسالت او سستي ته مخه کړې، غواړم په دویم اړخ بـل جوړنـه پـه ځانګړې توګه د اولاد پر جوړونې او د هغوی پر بریا -چې څنګـه کـولای شـو اولادونه بریالي وروزو؟- باندې لنډه لیکنه وکړم.

بریا...

"بریا" د هر انسان زړه کې اخښل شوې ده، هرڅوک یې د ترلاسـه کولـو هڅه کوي، ځیني یې د شتمنۍ په ډېرولو کې لټوي، ځیني یې شهرت کې، ځیني یې یو څه او ځیني نور یې بل څه کې لټوي "وللناس فـيما يعشـقونه مـذاهب" ماشوم هم فطرتاً د بریا د ترلاسه کولو ذوق او هیله لـري، دا چـې کومـه بریـا ریښتونې او زیاته ګټه لرونکې ده؟

باید ماشومان مو پوی کړی شي چې: د شتمنۍ په ترلاسه کولـو کـې کـه بریا وای، قارون به ترټولو ستر بریالی وای، که واکـدارۍ او وزارت کـې بریـا وای فرعون به بریالی وای، کلا وحاشا!!

بلکـې ریښـتونې بریـا د الله جـل جلاله په اطاعت او له ګناهونو څخه پـه ځان ژغورنې کې نغښتې...

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيٰـوةُ الـدُّنْيَآ إِلَّا مَتٰعُ الْغُرُورِ. [سُورَةُ آل عِمرَان : ۱۸۵]

ژباړه:

په پای کې هر څوک د مرګ خونـد څکونکی دی او تاسې ټول د قیامـت پـه ورځ د خپلـو خپلـو پـوره اجرونـو موندونکي یاست، په اصل کـې بریـالی هغه څوک دی چې هلته د دوږخ لـه اوره وژغورل شي او جنت تـه ننیسـتل شي. پـاتې شـوه دا دنیـا، دا خـو یـوازې او یوازې یو غولوونکی شی دی.

د بریا لارې-چارې...

څنګه مو چې پورته یادونـه وکـړه چې بریا د الله جل جلاله په اطاعت کـې نغښتې، او د اطاعت لومړۍ پوړ...

۱ _ایمان، د نیکیو کړنه او له بـدیو ځان ژغورنه ده.

۲ _زده کړه چـې ماشـومتوب یـې ترټولو غوره وخت دی، ابن ماجـه نقـل کړی: رسول الله فرمـایې: د ماشـومتوب پرمهال زده کړه پر ډبرو کرښو ته ورتـه ده چې هېڅ وخت له یاده نه وځـي، پـه پرتله یې د ژوند خوړلیـو زده کـړه، پـر

اوبو کښلو ته ورته ده چې ژر له یاده وځي، له همدي لامله د ماشـومتوب یاداښت خورا تېز وي، کوم څه چـې همدا مهـال زده شي هغـه د انسـان (Perminunt Memory)دائمــي یاداښت ګرځي.

۳_له خلکو سره ښېګنه هم قولاً او هم عملاً.

۴ _ورځنۍ کارونو ته ارزښت ورکول، را روان وخت ته ځان چمتو کول او د تېر وخت له یادولو ځان خوندي کول.

۵_دنیاوي کارونو کې له ځان ښکته خلکو ته کتل "انظروا الـی مـن اسفل منکم. الحدیث" او دیني کارونو کې له ځانه پورته ته کتل.

٦ _پر ځان باور درلودل.

۷_خپلوي پالل.

۸_بوختیا او له اوزګارتیا ځان ژغورل.

دا او دې ته ورته پر نورو بریالیو لارو-چارو ماشوم خـبر کـړئ! عمـلي کولو ته یې را وبلئ! او په عملي کولو کې له هرې ممکنې لارې کار واخلئ!

ماشوم و پوهوئ!

د انسان او نسیان تر منځ تلازم دی، هېڅ انسان له نسیان (تېروتنې) پـه امن نه دی، په تېره بیا ماشوم چې عقل یې خام، پوهه یې کمه او فکر یـې پـخ وی، هرو-مرو له هر راز تېروتنو سره مخ کیږي، پر مور او پلار یـې لازمـه ده چې له تېروتنو یې را وګرځوي؛ ځکه چې نه ګرځول یې ورته تېروتنو تـه مخـه کوي او بیا-بیا کولو سره ممکن عادت شي چې له منځه وړل یې که ناشوني نه دي ستونزمن ضرور دي؛ باید پام مو وي چې له تېروتنـو راګرځولـو کـې لـه ترټلو او د خلکو/ملګرو په مخ کې وهلو ښخه ځانونه وژغورو.

ابن رجـب رحمـه الله پـه (اختیـار الاولی: ۸۵) کې کښلي: د سـلفو زیـاتره علماؤ به چې چاته د ښېګنو د کړو او له بدو د نکړو امر کاوو، یوازې له خلکو په ګوښه کې به یې کاوو.

له غوسه کیدو یې وژغورئ!

ماشوم مو لـه خپـل داسي عکـس العملـه چــې غوسـه یــې را وپــاروي، وژغورئ! ځکه غوسـه عقـل لـه منځـه وړي، غوسه او عقل، لیـوه او بـزې تـه ورته دي، چې لیوه وي هلته بـزه تېکـه نشي کړای، همدا ډول چې غوسـه راشي عقل دومره مغلوبه شي چې آن له منځـه تللی یې ګڼی شو، ماشـوم چـې غوسـه شي هغه له بې ځایه جذباتو کار اخـلي، چې له ناکامۍ پرته بله انګازه نه لري.

ماشوم مو له نقـد سره حساسـیت نه لري، خو له غوسي مـو ګرکـه کـوئ؛ تېروتنه یې داسي منطقي نقد کړئ لکـه ماشوم نه، بلکې د قـوي منطـق څـوان، نقدوئ؛ خو پام مو وي چې نقد او حقـد

توپیر لري، له حقد څخه به ځان ژغورو، نقد که په سره سینه وي اغېز لـري او که ترش تندئ ور سره مله وي بیا حقد ګرځي او منفي اغېز کوي.

ماشوم جـرار وروزئ! زه په خپله دې حقیقت ته رسیدلی او پرې قـانع یم چې د بریا ترټولو اغېزمن لامل، ډار له منځه وړل، دلاوري، تهور او شـهامت ترلاسه کول دي، له هر څه وړاندې باید د ماشوم په روزنه کې پـه زړه ورتـوب کار وشي، چې څنګه کولی شو ماشوم زړه ور لوی کړو، زما پـه فکـر ترټولـو زیات کارنده شی چاپیریال دی، یو ښـه چـاپیرل کـولی شي مـوږ تـه زړه ور ماشوم په لاس راکړي، ماشو مجلس کې له خبرو مه منع کوئ، تـر څـو جـرار لوی شي، په ګڼه-ګوڼه کې د خبرو کولو موقع او چانس ورکړئ! تـولنیز ژونـد او ګڼې-ګوڼې سره یې بلد کړئ!

د ناکامۍ وېره یې له فکره وباسئ!

خبرو کې یې په تېروتلو مه ترټئ! ډاډ ورکړئ چې تېروتنې یـې زړه مـات نکړي.

پر ځان باور کولو ته یې وهڅوئ!

په هغه موضوع یې وغږوئ چې د موادو کمښت سره مخ نشي، دا هر څه د دې له پاره چې ماشوم مو جرار/تکړه ویاند لوی شي.

نبوي روزنه...

عن انس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صـلى الله علیـه وسـلم: یسرـوا ولاتعسروا وبشروا ولاتنفروا. متفق علیه.

ژباړه:

۱"_یسروا" اساني کوئ! یعني: کوم شی چې په سختۍ او اسـانۍ دواړو لارو ترلاسه کیدای شي، که هغه عبادات وي او که معاملات وي، تـاسي اسـانه لاره غوره کړئ! څنګه چې د رسول الله خوی و، چې په دوو کارونو کې به چـې کوم اسانه و، هغه به یې د ځان او بل له پاره غـوره کـاوو؛ پـه دې شرط چـې اسانه اړخ به ګناه نه و، کنه ترټولو به دئ ترې لیري وو.

د ماشوم په روزنه کې هم تر ټولـو اړین شی اسانتیا ده؛ ځکه چـې اسـانتیا ماشوم هڅوي ترڅو پرمختګ وکړي، بیا په تېره چې الله تعالی انسان ته د اسانتیا اراده لري "یرید الله بکم الیسرـ ولایریـد بکم العسر"

د بېلګې په ډول پر ځای د دې چې چـې ماشـوم پـه یـو وخـت ډېـرو لوستلو/لیکلو ته اړ کړای شي، غوره ده چې په ګڼو وختونو کې په اسانۍ هومره لوستل/لیکل پرې وشي.

۲" _ولاتعسروا" سختي مه کـوئ! یعني: عباداتو او معاملاتو کـې سـختي مه کوئ! ځکه له سختۍ منع شوې یو.

۳" _وبشرـوا" ژیـری ورکـړئ! یعني: خپل ځان او نور په ډاډ ورکولو او تشویقولو وهڅوئ!

رسول الله صلی الله علیه وسلم ترټل بد او ډاډ ورکول، غوره ګڼل؛ ځکه انسان ترټل ماتوي او ډاډ یې پیاوړی کوي.

کله چې ماشوم په یو کار کې مات او پاتې شي، ترټل یې لا پاتیالۍ سره مخ کوي، ځکه خو ماشوم تـه ډاډ ورکـړئ! ډاډ خوښې وربښي او زړه یې له ماتیدو ژغوري چې پایله یې بریا ده.

۴"_ولاتنفروا" کرکه مـه پنځـوئ! ماشوم مه زړه توری کوئ، چـې د بریـا مخه یې نیول کیږي، بلکې له کړنـو سره

يې مينه غبرګه کړئ! مينه يې د بريا تر ساحله رسوي، مينه له کړنو سره مينه پنځوي، مينه يې له کرکې ژغوري، مينه يې دندو ته ځېر کوي، مينه يې مات زړه بيا رغوي، مينه د کرکې او ترټلو ضد ده چې له امله يې پر "بشروا" ولاتنفروا" امتثال راځي.

ماشوم په مينه سميدای او کارونو ته چمتو کيدای شي، موږ بايد د کارونو پرځای، ماشومانو سره مينه وکړو، که د ماشوم پرځای يې کارونو سره مينه وکړو، ليري نه ده چې د چاپيريال له ګډ-وډۍ سره مخ شو.

تر ټولو ښه روزنه...

د ماشوم له پاره ترټولو ښه روزنه هماغه ده چې عملاً يې چاپېريال کې له مور او پلار څخه په سترګو ويني، کوم ماشوم چې مور او پلار په ذکر کولو بوخت ويني، ذکر د ماشوم فطرت ګرځي، کوم ماشوم چې مور او پلار په شپه/ورځ کې غريب ته د څه ورکولو له پاره ليږي، مثبت توپير لري له هغه ماشوم څخه چې د نامشروع شيانو د پيريدلو له پاره ليږل کيږي.

کوم ماشوم چې مور او پلار په روژې نيولو معتقد او عاملين مومي او جومات ته له پلار سره په تګ روږدی وي، له هغه ماشوم سره چې پلار يې په چټياټو بوخت وي؛ هرو-مرو توپير لري.

کوم ماشوم چې مور او پلار له خپلو پلرونو او مندو سره پر ښيګڼو کولو ويني او له مرګ وروسته هغوی ته د دعاوو غوښتنې ترې اوري، خامخا له خپل موراوپلار سره ښګينه کوي او هغوی ته به د دې دعا غوښتونکی وي: " ربي اغفرلي و لوالدي" رب ارحمهما کما ربياني صغيرا."

همدا راز ماشومه چې خپله مور پرده کې پوښلې او له پردېو ليرې ويني، ژوندی درس ورکوي چې پرده د مېرمنې له پاره ښکلا ده، پاکلمنی يې درناوی او له سړيو ګوښه توب يې امان دی.

دا به ډېره عجبه نه وي؟! چې اولاد دې ښو خويونو ته را بولي؛ خو -خدای مه کړه- مور او پلار دې بد خويه وي!!

ماشوم دې له درواغو منع کيږي خو مشران دې يې ترې دريغ نکوي!!

کله کيدايشي؟! چې مشران دې پر بې وفايي روږدي وي او له ماشومانو دې د وفا طمعه وشي!!

څنګه کيدای شي؟! چې مشران دې لانجې، بدې-ردې په لوړ غږ بدرګه کوي او ماشوم څخه دې د دې خلاف غوښتنه کوي.

لنډه دا چې: د ماشوم د بريا راز، په ښه روزنه کې نغښتی، ښه يې وروزئ! همدا مو د ماشوم بريا ده.

بې ځايه به نه وي که و وايم چې:

د کورني ژوند بريا، هوښيارو مېرمنو کې نغښتې، د سلامت هېواد د پرمختګ بريا، هوښيار ولمشر کې نغښتې.

زموږ بريا په هوښيارو ماشومانو کې نغښتې او د ماشوم بريا، په ښه روزنه او ښه زده کړې نغښتې.

د اسلامي هيوادونو طبيعي شتمنۍ د نړيوال استکبار ستر هدف

استاد دلاور خان سېلاب

د ګران هیواد افغانستان نړدی تولی طبیعي شتمنی او زیرمي د نړیوال استکبار ستر هدف ګرځیدلی دی چه یو شمیر یې په لاندی ډول د ګرانو لوستونکو مخې ته ږدو:

.۱لیتیم Lii جي دیورانیم سره سم داتوم بم په جوړولو او هم دارنګه دهائیدروجن بم په جوړولو کي کارول کیږي، یاده دي وي چه نوموړی عنصر-به تر ۲۰۲۰ زیږیز کاله پوري یوازي په افغانستان کي شتون ولري او بس.

.۲تیتانیم Tii جي دمیزائیلو په جوړولو کي کارول کیږي، دغه عنصر-دهیواد په شمال کي دیو غره لاندي په ټنونو ټنونو موجود دي.

.۳سره زر Auu چه تقریبا په اکثره ممالکو کی رابهر او ناپید شوی دی یوازی په افغانستان او قزاقستان کی په زیاته پیمانه شتون لری،

.٤مس Cu د افغانستان په ۴۰ غرونو کی په پراخه پیمانه شتون لری

-۵اوسپنه (Fe) افغانستان کی ۱۷ مخفی کانونه لری.

-٦د ډبرو سکاره،

.۷طبیعي غاز،

.۸پټرول،

پورته یادی ملغلری او بی بها طبیعی شتمنی اوس مهال د غربی دیموکراتانو او د هغوی د داخلی مزدورانو د سرقت نهب او غارت ښکار شوی دی.

کله یې چه دغه موخې ترسره شي نو دوی به بیا ځی او مونږ ته به د ایرو په خیر سپیری خاوری پریږدی همدارنګه د افریقا لویی وچی مسلمان هستوګن هم له ورته چلند سرټکوی او وايي:

AFRICA: HOW THE REST OF THE WORLD IS STEALING ALL THE GOODS IN THE NAME OF ,DEMOCRACY

ژباړه : " نړیوالو ته وایم بډای دنیا د دیموکراسی په نوم طبیعی شتمنی لوټوی " (یاده دی وی چه بله پلمه یی تروریزم هم دی)

(چه له مودو راهیسی په افغانستان کی د څه باندی دری لسیزو په دوران کی د راټوکیدلو اسلامی خوځښتونوپه خیر په افریقایی لویه وچه کی هم د الشباب او بوکوحرام غوندی نهضتونه د تروریزم د شتون او همدارنګه د دیموکراسی د نه پلی کیدو له تورونو سره مخ دی.

په نړی کی افریقا یواځینی لویه وچه ده چه مسلمان براعظم ورته ویل کیږی دا ځکه چه اکثره هیوادونه یی مسلمانان او وګړی یی د اسلام اصیل فرزندان دی.

د تروریزم د شتون او ددیموکراسی د نه پلی کیدو په پلمه د اسلامی نړی په طول او عرض کی روانه صلیبی جګړه یواځی اقتصادی موخی تعقیبوی چه اوس مهال خلیج ته هم اوږده شویده او د هغه ځای د توری طلا (نفتو او پټرولو) سربیره په ټوله اسلامی نړی کی د مسلمانانو قیمتی معادن او طبیعی زیرمی له تاراج کولو څخه عبارت دی.

د یادونی وړ ده چه د یو اټکل تر مخه د افغانستان طبیعی املاک کولای شی دولس ځله دغه هیواد د استرالیا په څیر تعمیر او ودان کړی مګر متاسفانه د ایساف او ناټو لوټماران یی مونږ ته نه پریږدی او همدا اوس یی پرته له کوم قانونی چلند د خپلو اجیرو نوکرانو (ع ، غ آو آذناب یی) د جعلی او غولوونکو پروتوکولونو په پلمه ، هره ورځ د ټنونو په حساب را اوباسی او خپلو هیوادونو ته یی لیږدوی.

په نړی کی د مسلمانو پرګنو د شتمنیو د لوټولو لپاره کله د تروریزم شتون او کله هم ددیموکراسی نه پلی کیدل ، پلمه کوی ، او په دی وسیله مسلمانان له خپلو حقه حقوقو بی برخی کوی ،

په حقیقت کی نن اوپرون همدوی دی چه نوری نړی ته تره ګری صادروی او ددنیا په هرګوټ کی یی دجګړی لمبی بلی ساتلی دی.

کلورینی پاڼی

طالب بندي ته!

فکرمل طالب

خومره ښکلی یې ښکلا درپسې اوړي
د زړه سره دا دنیا درپسې اوړي

ته د ټولو ښایستونو دنګ مناري
ګلابونه هره خوا درپسې اوړي

ستا نازک انداز ته فکر وړی
خیالي خیال مې نا اشنا درپسې اوړي

په خندا کې دې یو طرز دی د حورانو
له سینو زړونه او ساه درپسې اوړي

د سپېڅلې آزادۍ مجنون طالبه
د حریت پاکه لیلی درپسې اوړي

مجاهده د وطن د غرو غاټول یې
سنګرونه او صحرا درپسې اوړي

چې نسیم دې دمسکاوو په مستۍ شي
پسرلي به خامخا درپسې اوړي

جنتي مخ چې دې ووینم جانانه
زما ختمه شي ستړیا درپسې اوړي

داچې واک لري په ډېرو زړونو باندې
د مظلوم اولس دعا درپسې اوړي

د ملنګې زندګۍ ملنګ طالبه
"فکرمل طالب" اشنا درپسې اوړي

غزل

ملا محمد مطمئن

سرې سرې مرمۍ په جوماتونو ولې
ښکلی قرآن مو په توپونو ولې

چا مو ماغزه چا مو تندي را مات کړل
مونږ افغانان خلک په سرونو ولې

خدایه (ج) نړۍ مو کرار نه پرېږدي
زمونږ کورونه په بمونو ولې

زمونږ په چم یې رڼا نه لورېږي
تک سپین سهار په ماښامونو ولې

داسې شېبه په وطن کله راځي
چې ټول بچیان یې په ګلونو ولې

وخت به راځي چې مجاهد زلمي به
سپینه ماڼۍ په راکېټونو ولې

ای (مطمئنه) دا کفري ځالې به
مجاهدین له سنګرونو ولې

د وحشي تيارو له چنګه بنديوانه
خدای دې راوله ملنګه بنديوانه

له زندان څخه آزاد شې او باچا شې
يوسف مخيه! يوسف رنګه بنديوانه

د دين شمعې ته لوګی جانانه
په اسلام ستي پتنګه بنديوانه

لېونی مينې دې يووړې تر زندانه
ځار دې شمه تور لونګه بنديوانه

تا به وګټي په توره ستا ملګري
ستړي نه دې لا له جنګه بنديوانه

دغه تول له دنياګۍ دې صدقه شي
ستا په مينه ستا له ننګه بنديوانه

هېرومه به دې څنګه بنديوانه؟!
"عباسي" دې زړه او سترګو کې ساتمه

"که څه هم دمرګ له راتګ نه وړاندې څوک نه مړ کيږي، خو په ژوند کې پخپل لاس ځان دښامار په خوله کې مه ورکوئ".

شيخ سعدي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ

غزل

فضل الرحيم بلال

که کنګل چې هيڅ بقا نه لري
همداسي ژوندى بس وفانه لري

دخيال تخمين مو بې هدفه درومي
چې خپلي هيلي مو سبانه لري

چې د لاشک په نظر ګوري تاته
دغه دزړو اينې صفا نه لري

دناکامۍ خاوري پرسربادوي
څوک چې دموردخولې دوعانه لري

په هرماښام پسي رڼارادرومي
چې دغه شپې ولي رڼانه لري؟

بلاله مينه احترام چې نه وي
ژوندېي مقصده دى معنانه لري

دامير المؤمنين په ياد کې:

کله چې ايران په مزارشريف کې د خپلو «ډيپلماتانو» د وژل کېدو په غځ کې لسګونه زره عسکر د افغانستان پولې ته راوخوځول، ملا عمر له هغوی نه د سرې سينې د غوښتلو ترخنګ وويل: «... نو که چېرې ونه شوه بيا به يې تر اصفهانه پسې واخلو«...

د تهران پر ځای د اصفهان يادول يوه تاريخي تداعي وه. ده غوښتل ايرانيانو ته د هوتکي شاه محمود دوران وريه زړه کړي چې په اصفهان کې يې د فارس صفوي واکمنه وپرځوله او هلته يې ځان واکمن کړ. "داود جنبش"

دجمعـیت علمـاء اسـلام سلـیزه !!

ترتیب: منیر افغان

په دنیاکې زیات گوندونه پلې اوتپلې وجودلري خودیوگوند پوره (۱۰۰)کاله په تسلسل سره راتلل اوپه خپلومقاصدوکې بیادکامیابی ترسرحده رسیدل په رښتیاچې ستونزمن کاراوله تصورلوړه خبره ده .

په دې خبره کې هم شک نشته چې جمعیت علمای اسلام به دخپلې تگلارې په گردوپیش کې داسې نقاط ولري چې گوته ورته ونیولی شي اویابه یې په غړوکې داسې څه خلک وي چې دخپلوځانې گټو اومفاداتوله وجې به ناپسندیده تفردات ولري اوپه خاص ډول به جهادي فکرته زیان اړونکي هم ثابت شوي وي ،خودنوموړي گوند دغه ډول غـړي ډیرکم اودگوتوپه شمیردي اوهیڅکله دټول جمعیت نمایندگي نشي- کولای

مونږ جمیعت علمای اسلام په دې ادرس اومعرفت پیژنوچې دپاکستان دسترمسلمان ولس ددیني اومذهبي قشراستاځیتوب کوي د نوموړي هیوادکې ددیني اومذهبي مجمع ممثل اساس دی اوهمدغه گوند دی چې په متـویې دپاکستان ددیني مدرسو او روحاني سرچینو ستنې ودانې او مستحکمي دي .

نو دا هغه مسلم مشترکات او واقعیتونه دي چې انکارترینه ناشونی اوپه دې ارزي چې دنوموړي گوند مثبت نکات اوکمالات دیوه اسلامي اودیني حقیقت په توگه ذکراودرناوی ورته وشي.

دجمعیت علمای اسلام موسس :

دجمعیت علمای اسلام گونددبنسټ ډبره داسلام عظیم مفکر اولوی مبارزمولانامفتي محمودرحمه الله په کال ۱۹۰۹ کې کیښوده .

نوموړي دیني ابتدائي زده کړه له خپل عالم اوفاضل پلارڅخه وکړې اوعصري زده کړې یې د (اسماعیل خان ډیرې) په پنیاله سیمه کې سرته ورسولې.

دلوړوزدکړوپه نیت په کال ۱۹۳۳ م ددیوبنددارالعلوم ته ولاړهلته یې یوکال تیرکړ وروسته دهندوستان مرادابادپه جامعه قاسمیه کې شامل اودحدیثودوره یې په نوموړي جامعه کې ترسره کړه ، له فراغت ورسته په ۱۹۴۱م کال کې بیرته پاکستان ته راغی اودملتان دقاسم العلوم په مدرسه کې یې تدریس پیل کړ .

مولانامفتي محمودعلمي عبقریت اوتبحر په وجه ممتازمفتي جوړشواوپه فقهي مسائلوکې دپراخه لاس لرلوپه وجه د مفتی اعظم لقب خپل کړچې په مجموعي توگه یې شل زره شرعي فتوی گانې جاري کړې وې .

مولانامفتی محمود خپل سیاسي ژوندپه طالب علمی کې پیل کړی وپه ۱۹۳۵ م کال یې دجمعیت علماء هندغړې توب ترلاسه کړ .په ۱۹۴۲م کال کې دجمعیت علماء سرحددااجرائیه شوری غړی وټاکل شو اوپه ۱۳۴۶م کال کې په سهارنپورکې دمتحده هندوستان په منعقده کنفرانس کې چې له انگریزي استعمارڅخه دازادۍ په تکل جوړشوی ؤ دجمعیت علماء سرحددنمائنده په توگه گډون کړی ؤ .

په ۱۹۵۶م کې مولانامفتي محمودپه ملتان کې دپاکستان دعلماؤیو کنوانسیون راوباله څو د پاکستان دقانون جوړولوپه لومړي پارلمان کې داسلام اومذهب دقانوني برخلیک په هکله دسکندرمرزااودهغه دحکومت دناوړه ارادومخه ونیسي- .په همدغه کنوانسیون کې په همدغه تاریخ دپاکستان دجمعیت العلماء دتنظیم ډبره کیښودلی شوه.

دجمعیت علماءاسلام سلیزه :

دجمعیت علماء اسلام سل کلنه تاریخي اجتماع چې د روان زیږدیز کال داپریل په ۷-۸-۹ ورځوکې

دخیبرپښتونخوا پیښور د(اضاخیلو) په یوه لویه صحراکې ترسره او په کامیابي پای ته ورسیده له شک پرته چې په نوموړي اجتماع سره جمعیت گوند دخپل تاریخي سیراوکارنامو تاریخي عهدژوندی اوتجدیدي کارنامه یې ترسره کړه

نوموړي اجتماع دپاکستان په تاریخ کې بې مثاله وه ، په دې سربیره چې دپاکستان له هرکونج اوکنارڅخه دجمعیت غړي اوکارکنان ورته راغلي وو اودبرخوالو شمیره یې نیږدې ۳ میلونو خلکوته رسیده د۵۴ هیوادونو وفدونو پکې گډون کړی وو . جمعیت علماءاسلام گوندچې په فکري لحاظ له دیوبندي مکتبه فکرڅخه سرچینه اخلي ورستی اجتماع یې ثابته کړه چې هغه فکرڅومره عالمي اوجهانگیرده

دیوبندي منهج تنهاپه هندوستان اوپه دارالعلوم دیوبندکې نده منحصره بلکې، په پاکستان او افغانستان سربیره په ټوله آسیااوافریقاکې دغه په اعتدال اوحقانیت ولاړ اسلامي مسلک سیوري لري اودهمدغه فکرمشالونه پکې بل اوځلنده دي .

دهندوستان ددارالعلوم دیوبند دمهتمم اونوروجیدو مشایخو گډون داسلام ددښمنانوسترگې وبریښولي چې که هرڅومره دمسلمانوملتونوترمنځ دوئ درزونه اوتفرقي اچولي اوکوشش یې کړی چې دگډاسلامي فکرپه روح سنبال جهتونه په یوه محوراوستیج راټول اوونه لیدلی شي ، خودجمعیت په صدساله اجتماع کې دمسلمانانوتجمع اووحدت په عمل کې ولیدل شواوداسلام دغلیمانو دپیریو پیریو خواري یې په ابولاهوکړي .

دهغه ترڅنگ دمکې معظمي امام اوهم دسعودي دلوړپوړي پلاوي گډون اجتماع نورقوت اوارزښت ورکړ، دمکې معظمي امام شیخ صالح ال طالب په خپلې ویناکې دعلماوو په کرداراعتراف په توگه ووئیل چې علماي کرام دي چې ددین ساتنه یې کړي ، دانحراف اوتشطط مخه یې نیولي اودملتونومعنوي رهبري یې کړي ، امام په نوموي اجتماع دحنفي مذهب په افاقیت اومقبولیت په خپل مخلصانه اندازتاثرات وراندې کړل ، حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله یې په څلورومذهبونوکې سرلاری وباله اوکوم فقهي جوړښت اودیني استنطباطات چې نن دمسلمانانوپه منځ کې پلي اوډژوندرناوي یې دي دحنفي مذهب دامامانو، فقهاوو اومحدثینوسعی اوکردارپکې بارزاومحوري مقام لري.

دمولانافضل الرحمن وینا :

نوموړي عالمي اجتماع ته دمولانافضل الرحمن وینا هم تاریخي ارزښت درلود اوتردې وراندې چې دځینوخلکوله لوري دجمعیت په ځینوتگلارو نیوکې کیدلې مولانا دخپلې ویناپه ترڅ کې تریوې اندازې پوري واضح اوڅوابونه یې ورته ووئیل

مولانا صاحب دانسانیت اومسلمانانو په وراندې دامریکا، غرب اوملگرونوملتونوتگلارې په بې انصافیو ، توپیرونواوپه وحشتونو ککړې وبللې وې ویل :

امریکااوغرب چې څومره لگښتونه دانسانیت اوبشریت په ضدپه جوړوشوو اوجوړیدونکو تباه کونکووسلو اووسیلوکړي او کوي یې په سلو کې پنځه فیصده هم دانسانیت په سوکالی اودغربت په ختمولوباندي ندي مصرف کړي چې ښکاره مثال یې په نړئ کې دفقراوبیچارگی شتون اوپه خاص ډول دافریقادڅارځپلي حالت شتون دی

مولانافضل الرحمن امریکااوغرب تورن کړل چې هیڅکله هغه اسلامي هیوادونه تحمل کولای نشي- چې په اقتصادي اوسیاسي لحاظ له امریکا اوغرب څخه خودکفا اوڅه ناڅه خپلواکي لري ، چې ښکاره مثالونه یې دعراق ، افغانستان ، اولیبیااشغال په فلسطین ، کشمیر کې دغاصبو رژیمونو دیرغل ملاتړ اوپه نورواسلامي خاورکې دافراوتفري پیداکوي اوپراخول دي

مولنافضل الرحمن په یادي عالمي اجتماع کې په مشخص ډول دافغانستان یادونه وکړه چې امریکاهلته یوجائزاسلامي نظام په تشوپلمواوبې اساسه تورونورنگ او۱۷کاله کیږي چې هلته یوه ناولي اوخونړی جگړه جاري ساتي ، نوموړي په صراحت ووئیل چې ترڅوخارجي قووتونه له افغانستان څخه وتلي نه وي هلته سوله اوامن ناشونی ښکاري .

دې ته وايي چاپه!

افغان مجاهد

اشرف غني او د پرې ملګري يې چې په ځان کې کوم توان او ځواک نـه ورښـکاري نـو د امريکايـانو پـه چـاپو خلـک ويروي. دوی چې کله د امريکايانو په استخباراتي، اکمالاتي او مخامخ پوځي مرسته د هيواد په کومه سيمه چاپه ووهـي. پـه نيمه شپه د کليوالو افغانانو ماشومان وچغوي. تور سرې يې وژړوي اومعصوم ځوانان يې لاسـتړلي تـرې چورلکـو تـه پورتـه کړي. بيا نو راشه که د اشرف غلام لاپې او ډوزې اورې. بيا چې اشرف غني ددې جنايت د حکايت لپـاره د خطـابې ميـز تـه ودريږي نو په خپل کغن غږ به همدا بګتې زمزمه کوي چې:

په هيڅ ځای کې به خلاص نه شئ ... سر مو په ککرۍ کې ماتوم . . . .

دا اچين غوندې د ټرامپ د ټولو بمونو ادې درباندې غورځوم. . . او داسې نورې کرغيړنې لاپې. . .

زما هغه ورځ اوس هم په ياد ده چې د حوت په اتمه امريکايي الوتکو په کندز کې د طالبانو مسـؤل مـلا عبدالسـلام پـه نښه کړئ و او بيا چې اشرف غني د سرباز د ورځې په مناسبت مراسمو کې وينا کوله نو د کندز په پيښه يې د ويـاړ تـر څنـګ په خپله ځانګړې قهرآميزه لهجه وويل چې : په هيڅ غار کې به رانه خلاص نه شئ!

څو ورځې مخکې چې په بغلان کې د اردو سپيشل فورس د امريکايي چورلکو په ملتيا چاپـه ووهلـه او بيـا امريکـايي چورلکو په بې رحمه بمبار کې د ملکي خلکو تر څنګ د طالبانو د بغلان مسؤل هم ووژه. نو اشرف غلام او زامنو يې په دې پيښه سم جشن نيولی و.

د بغلان په پيښه د اشرف غني يوه تر ټولو مخکښ سرمچار داسې ليکلي و(په بغلان کې د کماندو زمريانو يوې چاپې د شمال نيم حماران جهنم ته استولي دي چې د بغلان لپاره د حمارانو والي مولوي لعـل، قـاري اسـماعيل، شېرعالم، قـاري شهاب الدين، جانباز، او څو نور سرکرده يې هم پکې دغه شوي دي. حماران د شپې لکه کوتران داسې وي، چـې څـو لاس ور نه ورې نه الوزي).

مگر دغه د امریکا په چورلکو باتیدونکي ځان ته نـه کتل چې خپله یې کوپړۍ د حمار له مغـزو ډکـه ده. ده دا دکاني کرښه نه وه اوریدلې چې (الحرب سجال و الایـام دول) جنگ د نوبـت مامیلـه ده او ورځـې گرځیـدونکي دي. په جنگ کې کله د یوه اړخ د خرپ نوبت وي او کله د بل. نو ځکه دې په جنگ کې په نسبي کامیابۍ ځوک ځان نه ورکوي او نه دې مقابل ته د مطلق شکست پیغورونه ورکوي.

اشرف غلام او دده دغسې احمقو پلویانو ته چې همیشه په امریکایي چاپو او ډرون بریدونو کـې د وژل شـویو افغانـانو له وینو خوند اخلي او د خوښۍ جشنونه ورباندې جوړوي نن ورته وایم چې اشنایانو! اوس یـې مـن پـه څـو دی؟ نـن مـو طبیعت شریف په کوم حالت کې دی؟ نن خو به درک درته لگیدلی وي چې د غم ورځ څومره سخته وي؟ د طالب غـم هـم همداسې غم دی. همداسې انسان دی، همداسې خپلوان لري او همداسې د ډیر شمیر افغانانوورباندې خوابدیږي.

تاسو چې همیشه په افغان وژونکو ړندو چاپو باندې ویاړئ او خپل د کرایې قاتلان(سپیشل فورس) مو اتلان بولئ. نـو نن به درته ووایم چې چاپه نو دې ته وایي لکه په بلخ کې چې درباندې ووهل شوه. تاسو په دوه سوه کسانو چاپه ووهئ ایلـه اته کسان ووژنئ. مگر په بلخ کې درباندې اتو کسانو چاپه ووهله او ستاسو یې دوه سوه در سټ کړل.

که خبره د چاپو او زور ازمایلو شي نو د طالبانو هغه چل تر تاسو ښه زده دی. عبث د جگړې نغـرۍ تـردې لا نـور مـه تودوئ او مه د سختو جگړو گواښونه کوئ. طالب هغه توره ده چې څومره یې پخوې هغـومره تیـره کیـږي. کـه فشـار پـرې وروړې د بم غوندې انفجار کوي او بیا به یې د نن په شان همیشه په عمومي ماتم اړولې یاست.

ټرامپ پلار ته مو مشوره ورکړئ چې دغه جنگ د عسکرو په زیاتولو، چاپو او درنو بمباریو نه گټل کیږي. بلکې مقابـل جانب نور هم خونړی کوي بله دا چې دغه ټول اپشنونه له پخوا درته کارول شوي او پوچ ختلي. کـه تاسـو چـاپې وهـئ نـو اوس طالبانو هم چاپې زده کړې چې یوه یې آبله ورځ په بلخ کې ننداره ته وړاندې کړه.

د افلاطون ویناوې

۱. د انسان ښایست درې شیان دي: علم، محبت او ازادي.
۲. دنیا ته نه راتلل له ناپوهۍ څخه بهتره دي ځکه ناپوهي د ټولو بدبختیو سرچینه ده.
۳. عوام شتمن خلک خوښوي او خاص خلک عالمان او پوه خلک خوښوي.
٤. کوم خوند چې په علم او پوهه کې دی بې تکلّفه دی او په بل څه کې نشته.
۵. د خلکو لپاره یوازینۍ او ښه لارښود پوهه، مثبت فکر او ښه تدبیر دی.
٦. د لارښود او پلان پرته د ډیرو معلوماتو لاسته راوړل د مطلقې ناپوهۍ څخه ډېر زیانمن دي.
۷. په نړۍ کې دوې قوې (توره او تدبیر) شتون لري چې ډېری وخت تدبیر په توره باندې غالب وي.

دهند په نیمه وچه کې ددیني علماوو او روحانیونو

د علمي، جهادي او سیاسي مبارزې تاریخ ته یوه څغلنده کتنه!

شمس

دروان ۲۰۱۷ زکال اپریل میاشتې په ۸۷ـ ۹مه د ګاونډي هېواد پاکستان د ستر دیني او سیاسي ګوند (جمعیت علماء اسلام) لخوا د خپل تاسیس دسلکلېزې لمانځلو په ویاړ دملیونو خلکو په ګډون یوه لویه تاریخي اودرنه غونډه رابللې وه په کومه کې چې دپاکستان، دلوی شمیر اکابرو علماوو او خلکو په دروند ګډون سربېره دنړۍ د ۵۲ هېوادو مندوبینو او استازو هم په لوی شمیر کې ګډون کړی وو

د بهرنیو هېوادو څخه په ورغلیو ملیمنو او مندوبینو کې ترټولو زیات قدرمن او ستر میلمه د کعبې شریفې امام شیخ صالح بن محمد ابراهیم ال طالب و د چا په امامت کې چې داجتماع په میدان کې څو ملیونه مسلمانانو دجمعې لمونځ اداء کړ، هم داراز دکعبې دامام سره یوځای دسعودي عربستان دحج اوقاف وزیر دوکتور شیخ صالح عثمان په مشرۍ لس کسیزه لوړرتبه وفد او د بحرین هېواد دپارلمان دویاند عادل عبد الرحمان په مشرۍ دبحرین رسمي وفد هم په دې نړیواله اجتماع کې ګډون وکړ.

په دې علاوه دجمعیت علماء اسلام دتاسیس دسل کلېزې لمانځلو په غونډه کې دهندوستان څخه د دارلعلوم دیوبند د مهتمم مولانا مفتي ابولقاسم نعماني په مشرۍ دا رالعلوم دیوبند وفد او دجمعیت علماء هند د عمومي ناظم او د مولانا سید حسین احمد مدني دلمسي مولانا سید محمود اسعد مدني په مشرۍ دجمعیت علماء هند وفد هم ګډون درلود

دپاکستان ټولو نومیالیو علماوو لکه دوفاق المدارس العربیه رئس او دتحفظ ختم نبوه مشر مولانا ډاکټر عبد الرزاق اسکندر، د اسلامي نړۍ منلی عالم مولانا مفتي محمد تقي عثماني، شیخ الحدیث مولانا حمد الله جان (ډاګۍ) مولانا پیر عزیز الرحمان هزاروي، مولانا پیر زوالفقار احمد نقشبندي داهلسنت دتظیم مشر مولانا احمد لودهیانوي، دوفاق المدار س العربیه ناظم مولانا قاري حنیف جلندري، شیخ الحدیث مولانا زاهد الراشدي، مولانا فضل الرحمان خلیل او نور علماء اومشران شریک ول

په ورته توګه دپاکستان دزیاترو دیني او سیاسي ګوندونو مشرانو او ستازو هم دجمعیت علماء اسلام دتاسیس سلکلېزې لمانځلو په نړیواله اجتماع کې په وار، وار سره شرکت وکړ او پخپلو ویناوو کې یې پاکستان کې دجمعیت علماء اسلام په مؤثر دیني اوسیاسي کردار لرلو ددغه ګوند رهبرۍ ته نیکې پېرزوینې وړاندې کړې.

د کعبې مبارکې امام شیخ صالح بن محمد ابراهیم ال طالب داجتماع په وروستۍ ورځ یو وار بیا دغونډې دپای په ساعتونو کې ګډون وکړ او غونډې ته د دهراړخېزې وینا او مفصلې دعاء کولو وروسته یووار

بیا په ملیونو مسلمانانو د ماسپښین لمونځ د هغه په امامت کې اداء کړ اوپه دې سره دا ستره او تاریخي نړیواله اجتماع پای ته ورسیده په ټوله کې له مبالغې پرته دجمعیت علماء اسلام دسلکلیزې لمانځلو نړیواله اجتماع دسیمې او جنوبي اسیا په تاریخ کې یوه منفرده اوځانګړې اجتماع وه، چې د مسلمانانو، علماوو ، مدرسو او طالبانو د ښه نظم، ډسپلین او ښې سلیقه منډې ښکارندویه وه.

راځو دیته چې جمعیت علماء اسلام لخوا ددې نړیوالې (سلکلیزې) اجتماع دجوړولو هدف څه و ؟

په دې لړ کې ترټولو لوی مناسبت او لامل داګڼل کېږي چې جمعیت علماء هند په۱۹۱۹ ز کال کې تاسیس شوی او د قمري کلیزې په حساب سره یې دجوړیدو سل کاله پوره شول، چون دپاکستان جمعیت علماء اسلام ځان دهند دجمعیت علماء تسلسل او په کستان کې دهغه ځای ناستی بولي ، په دې مناسبت یې درې ورځینی نړیواله اجتماع جوړه کړې وه څو دتیرو سلو کلو په موده کې دخپلو فعالیتونو دجاجونې ترڅنګ راتلونکی نسل دخپلې ماضې سره اشنا کړې او دخپلې ماضې په هنداره کې ورته د دیني مبارزې راتلونکی وښیې اوپه دې سربیره یې غوښتل څوګرګنده کړي چې جمعیت علماء اسلام دپاکستان دننه پراخ نفوذ او رول لري چې ددغه هیواد ټول منلي دیني شخصیتونه ، اسلامي اداري او حلقې ترې ملاتړ کوي او په سیاسي میدان کې دجمعیت علماء اسلام دموقف اودریځ نه ننګه او تائید کوي

د هند د جمعیت علماء تاسیس:

دا چې د هند جمعیت علماء کله، ولې او چا رامنځته کړی؟ ښکاره ده دهند د جمعیت علماء په نوم دعلماوو سیاسي او علمي ګوند داسلامي نړۍ د یو وتلي اومنلي علمي، روحاني، جهادي او سیاسي شخصیت مولانا محمود الحسن (چې نړۍ یې په شیخ الهند پیژني) لخوا په ۱۹۱۹ ز کې دمالټې جیل څخه دازادیدو وروسته تاسیس کړی ، دقمري کلیزې په حساب سره د تاسیس له مهاله د دغه ګوند عمر سل کاله پوره شو.

څنګه چې وړاندې مو اوویل په پاکستان کې دجمعیت علماء اسلام په نوم مشهور دعلماو و او روحانیونو سیاسي اودیني ګوندځان د هند دجمعیت علماء ځای ناستی بولي او هم حضرت شیخ الهند رحمه الله د خپل سیاسي فکر او فلسفې امام بولي او په هم هغو اصولو او لاربښوونو دژمنتیا دعوه لري کوم چې مولانا شیخ الهند دخپل ستر فراست او بصیرت په رڼاکې دجمعیت علماء هند دتاسیس په مهال ټاکلي دي...

د پیښور او نوښار ترمنځ په زاخیلو سیمه کې دنړیوالې غونډې په جوړولو سره جمعیت دخپلې سل کلنې ماضې د جاجونې سربیره خپل نوي نسل ته ددې ذهنیت ورکولو کوښښ هم وکړ چې په لویه کې دوی دکوم سیاسي فکر اومکتب لارویان دي ؟ او دسل کلو په اوږدو کې کومې، کومې لاسته راوړنې لري؟ او هغه نیمګړتیاوې او ستونزې څه دي چې ټل د دوی د بشپړ بري په وړاندې مانع اوخنډ کېږي؟ نو دیته په پام ویلای شو چې دجمعیت لخوا دنړیوالې اجتماع رابلل پخپلو سل کلنو کړو وړو د اجماعي کتنې هڅې ته ورته کوښښ بریښنده ، په کومه کې چې جمعیت تر ډېره ځایه کامیاب شو، څکه دپاکستان ، هند او دسیمې په تاریخ کې ددېنه وړاندې په یوځای دومره لوی شمیر علماء، روحانین، فقهاء، محدثین، مفسرین، مفتیان ، قلموال، ددیني مدرسو او جامعاتو مهتممین، سیاستوال او طالبان دیل کوم بیرغ لاندې ندي راټول کوم چې دزاخیلو د نړیوالې

اجتماع په مهال يوځای ديوبيرغ لاندې ناست وليدل شول.

هو! شيخ الهند څوک و؟ او هغه جمعيت علماء هند دڅه لپاره تاسيس کړ؟

پوهيږو اسلامي ګوندونه او يا حرکتونه هيڅکله دکومې حادثې يا پيښې دپيداوار په توګه ظهور نه کوي ، تل دبيدريغه قربانيو، سربښندنو اوفداکاريو وروسته منځته راځي او يا د ډېرو کوښښو او هلوځلو وروسته د خپلو ټولنو او خلکو ترمنځ باور او مقبوليت ترلاسه کوي، له مبالغې، تعصب او رخې پرته جمعيت علماء هم داسې يو سلن کلن حرکت اوجريان دی چې د ډېرو نامساعدو شرايطو، تنګو ظروفو او کمو امکاناتو باوجود يې په هند ، پاکستان او نورو ګڼو هيوادو کې دحضرت شيخ الهند رحمه الله مشن اوسياست ته ژوند بښلی او په ټول استقامت سره يې د خپلو هيوادو او ټولنو دننه دځايي شرايطو او ظروفو سره سم داسلامي ارزښتونو او اقدارو څخه ننګه او دفاع کړې او د سيکولر سياستوالو په سترګو کې هر ځای خار ګرځيدلي...

يو شی چې غوارم دلته ور ته اشاره وکړم هغه په هندوستان کې دبرتانوي استعمار او استبداد په ضد دجهاد، قربانيو اوفداکاريو دسلسلې ريښې دې ،کومې چې د حضرت شاه ولي الله رحمه الله او دهغه دکورنۍ د قربانيو او شهادتونو تر داستان پورې تړلې ، هم دا وجه وه کله چې په ټول هندوستان کې دانګريزانو دسلطې پر ضد ۱۸۵۷ ز کې دازادۍ پاڅونونه دانګريزانو لخوا وځپل شول او په خاصه توګه ۱۸۵۷ ز کې دهندوستان دعلماوو لخوا دازادۍ هغه ستر جهادي تحريک چې حاجي امداد الله (مهاجرمکي) يې دامير المؤمنين ، مولانا محمد قاسم نانوتوي يې دسپاه سالار او مولانا مفتي رشيد احمد ګنګوي يې دقاضي القضات په توګه رهبري کوله دهند په مختلفو ښارو او ايالاتو کې په وسله وال جهاد لاس پورې کړ چې په ترڅ کې يې ګڼ ښارونه او کلاوې دانګريزانو څخه ونيولې ليکن انګريزانو د يو معاصر پرمختللي ځواک په توګه دنويو وسلو په مټ له مسلمانانو څخه هغه بيرته ونيولې او هم يې دهندوستان نوابان، راجه ګان او شتمن دځان سره په يوځای کولو دعلماوو او دهغوی دملاترو څخه ځای په ځای ښارونه تصفيه کړل ، وسله وال پاڅون کونکي يې وځپل ، په خاصه توګه د شاملي په ميدان کې هغه لوی او تاريخي جنګ چې د امير المؤمنين حاجي امداد الله مهاجر مکي په امارت او دمولانا محمد قاسم نانوتوي په قومنده کې دانګريزانو سره مخامخ وشو ، مسلمانانو پکې دروند شکست وخوړ او انګريزانو ته پکې بری په برخه شو دهمدې جنګ وروسته انګريزانو د دهلي ښار ونيو ، هلته دزرګونو مسلمانانو د وژلو ترڅنګ يې دحضرت شاه ولي الله مدرسه جامعه رحيميه وتړله او حاجي امداد الله دهندوستان څخه مکې مکرمې ته هجرت وکړ مولانا محمد قاسم نانوتوي او مفتي رشيد احمد ګنګوهي پخپل نيابت هند کې پريښودل.

د۱۸۵۷ز جنګ کې دهندوستانيانو دشکست وروسته هندوانو ځانونه انګريزانو ته نيږدې کړل او مسلمانان دسياسي او اقتصادي زوال سربيره داخلاقي ، کلتوري او اجتماعي زوال سېلۍ پسې نور هم وځپل.

يو لور ته انګريزانو دهلي کې دشاه ولي رحمه الله د رحيميه مدرسې ترڅنګ سلګونه مدرسې وتړلې او بل پلو ددين څخه دمسلمانانو د ګرځولو لپاره يې عيسوي مبلغين په کار اوګومارل ، مولانا محمد قاسم او مولانا رشيد احمد اونور علماؤ انديښمن شول چې هسې نه هندوستان کې هم دهسپانيې تاريخ تکرار شي او هغسې دلته هم انګريزان داسلام ريښې ونه

باسي؟ په دې موخه چې مسلمانان داسلامي حکمونو او داسلام داصلي روح نه خبر پاتې شي او په مسلمانانو کې دجهاد او شهادت جذبه تل ژوندۍ وي دهند دلویو ښارونو څخه لرې دشاه ولي الله رحمه الله دتحریک او لاربنوونو په رڼا کې دمولانا محمد قاسم نانوتوي په مشرۍ علماوو ددیني مدرسو د جوړولو اړتیا محسوس کړه.

او په دې لړ کې یې دکوم ځنډ پرته د دیوبند په پیرته پاته سیمه کې په ١٢٨٣هق دمحرم الحرام په ١٥مه نیټه (١٨٦٦دمی په ٣٠مه) دیوې مدرسې بنسټ کیښود کومه مدرسه چې وروسته په دارلعلوم دیوبند نړیوال شهرت ترلاسه کړ او په ټوله اسلامي نړۍ کې دالازهر پوهنتون په سویه یې علمي مقام ترلاسه کړ.

ددې مدرسې لومړی طالب د محمود په نوم یو تن و، هغه تر ١٢٨٦ هـ کې دمروج نصاب کتابونه و لوستل او په ١٢٩٠ هـ (١٨٧٣ز) ورته دمولانا محمد قاسم نانوتوي په لاس داسلامي علومو نه دفراغت پګړۍ په سر کیښودل شوه او هم هلته مدرس شو . داچې نوموړی محمود په ظاهري او باطني دواړو علومو کې د سترو صلاحیتونو څخه برخمن ځوان و په ١٣٠٨ هـ کې د دیوبند دار العلوم دصدارت (مشرۍ) دنده هم ورکړای شوه هغه نه یواځې د دارالعلوم اداري او درسي چارې ښې منظمې رهبرې کړې بلکې د دارلعلوم دشیخ الحدیث په حیث یې دمولانا اشرف علي تهانوي، امام المحدثین مولانا سید انورشاه کشمیري، مولانا مفتي کفایت الله، مولانا عبید الله سندي، مولاناشبیر احمد عثماني مولانا محمد الیاس کاندهلوي(دتبلیغ جماعت مؤسس) شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدني اونورو پشان عدیم النظیر علماء ، فقهاء، محدثین، داعین، سیاسیون او مجاهدین هم پیدا کړل ، دپورتنیو یادو نومیالیو څخه هریو پخپل وخت کې په یواځې یواځې توګه دبسته تحریکونو ، انجمنونو او ټولنو څخه هم زیات خدمتونه سرته رسولي او بیا دیو سړي په شاګردانو کې دومره قابل اولایق اشخاص پیدا کیدل یقینا دستر ویاړ او شرف څخه کم ندي.

هم دا محمود وروسته نړۍ په شیخ الهند مولانا محمود الحسن و پیژانده او همدا شخص په هندوستان کې دټولو اسلامي، جهادي، سیاسي، روحاني او دعوتي تحریکونو مخکښ ، مؤسس او رهبر ګڼل کېږي هم دا انسان په ټول هند کې داسلامي وښتابه دټولو غورځنګونو مبتکر او امام ګڼل کېږي، دا هم هغه تن دی چې کله برتانوي استعمار دترک عثماني خلافت ړنګولو هوډ وکړ په حکم یې هندوستان کې د خلافت دستر تحریک دریابي څپې په موج راغلې ،کوموته چې دهندوستان دتاریخ د تلپاتي کارنامې په توګه کتل کېږي.

د وربښمین دسمال تحریک:

انګریز نه دهند دازادۍ ترلاسه کولو لپاره مولانا شیخ الهند رحمه الله دنورو پراخو کوښښونو سربیره دافغانستان د استقامت نه د یو پټ تحریک او پلان ترتیب نوښتګر هم دی ، چې په مختلفو ښارونو او سیمو کې یې ددغه تحریک ملګرو مجاهدینو اومشرانوته په وربښمینو دسمالونو باندې دلیکونو کښلو له لارې پلانونه ورکول او کرار کرار یې هغوی منظمول ،څو انګریزي جاسوسان یې په اسانه پلانونه شنډ نه کړای شي په ١٩١٤زکې یې ددې تحریک دلاتنظیم لپاره خپل یوتن وتلی مجاهد او عالم شاګرد مولانا عبید الله سندي رحمه الله دخپل خاص استازي په صفت افغانستان ته را واستاوه او هغه یې دافغانستان د وخت پاچا امیرحبیب الله خان ته معرفي کړ، مولانا سندي د افغانستان حکومت او مولانا شیخ الهند ترمنځ درابط په توګه کار کاوه اوبیا په همدې

کال (۱۹۱٤ز) پخپله مولانا شیخ الهند حجاز ته لاړ څو هلته دعثماني خلافت چارواکو سره دافغانستان او ایران داستقامت نه هند ته دعثماني خلافت ځواکونو لیږلو په اړه حتمي نتیجې ته ورسیږي ، مولانا عبید لله سندي چې دوریښمن دسمال د تحریک روح روان و، داسې پلان و چې عثمانیان به خپل یو لوی شمیر عسکر دایران له لارې افغانستان ته داخلوي اوهغوی به دخیبر او چمن د استقامتونو څخه هند کې په انګریزانو حمله کوي او ددې سره هم مهال هغه یولوی شمیر هندوستاني مسلمان پوځیان چې دانګریزانو په پوځ کې ګومارل شوي او دشیخ الهند دپلان او تحریک سره په ارتباط کې وو او په مختلفو پوځي مرکزونو کې قرار درلود دترکانو دحملې سره دانګریزانو پر ضد کودتاوې کوي او دعثماني پوځ په حمایت کې به د انګریزانو خلاف وسلوال بغاوت کوي ، ددې هدف او پلان دوروستیو مراحلو دطی کولو په موخه مولانا شیخ الهند سره دڅو تنو ملګرو حجاز کې دعثماني خلافت داستازو سره او کتل او ورسره په ټولو برخو کې توافق ته ورسیدل هغه فرمان چې پکې مولانا شیخ الهند هندوستان کې دعثماني خلافت لخوا دنایب په توګه دمقررۍ او دهندوستان مسلمانانو ته دنومورې سره دبیعت کولو په اړه وو هم لیکل شوی و یوائې دخلیفة المسلمین دلاسلیک لپاره ترکیې ته لیږل شوی او بیرته نه و راوړل شوی شیخ الهند او ملګري یې دهغه دبیرته راتلو په انتظار حجاز کې میشت و و انګریزانو دځینو اسنادو په مندلو ددغه تحریک په اړه ځینې اسرار او معلومات تر لاسه کړل دهغو له مخې یې هندوستان کې په زرهاوو خلک ونیول او شهیدان یې کړل بل پلو لومړی نړیوال جنګ هم پیل شو.

عربان دبرتانیې په اشاره دملت پالنې په نوم دترکانو په ضد راپورته شول ان تردې چې په مکه مکرمه کې هم دشریف مکې لخوا چې دعثمانیانو لخوا دمکې والي وو هم د ترکانو خلاف بغاوت او پاڅون اوشو او دخلافت واک یې هلته ړنګ کړ، انګریزان د شریف (مکې) په بري خوشال او دهغه نه یې په مکه دمیشت مولانا شیخ الهند د نیولو او دوی ته دورسپارلو غوښتنه وکړه ، شریف سملاسې هغه له څو تنو ملګرو (مولاناحسین احمد مدني، مولانا عزیر ګل او نورو) سره ونیو او جده کې یې انګریزانو ته وسپاره ، انګریزانو له هغه ځایه مالټې په نوم جزیره کې بدنام زندان ته ولیږه هم دا راز انګریزانو په فشار مولانا عبید الله سندي او دهغه ملګري په کابل کې ونیول شول ترهغې چې حبیب الله خان ومړ او د امان الله خان لخوا ازاد کړای شول.

مالټه کې د درې نیم کاله اسارت تیرولو وروسته چې کله لومړی نړیوال جنګ د برتانیې په بري سره پای ته رسیدو انګریزانو مولانا شیخ الهند (چې روغیتایي حالت یې نهایتي خراب و) او دهغه ملګري دبند څخه ازاد کړل، کله چې هندوستان ته ستانه شول نو دوریښمن دسمال تحریک اونورو تحریکونو دناکامیو جبیره کولو غرض یې په سیاسي محاذ هم دخپلو اهدافو د تر لاسه کو لو اومبارزې یو جهت اوټاکه او په دې موخه یې په ۱۹۱۹ ز کې د هند د جمعیت علماء په نوم دیو نوي تحریک اساس کیښود او هم یې پخپله سرپرستۍ کې دجمعیت علماء له ستیج نه دهندوستان دازادۍ لپاره دمتخلفو برنامو لاندې مختلف خوځښتونه پیل کړل مثلا په ۱۹۲۰ ز کې له هندوستانه دهجرت کولو تحریک پیلول کوم چې دافغانستان دهغه مهال دحکومت دنه تعاون په وجه ناکام شو او زیات شمیر مسلمانان د ستونزو او مشکلاتو سره مخ شول، دانګریزانو او دهغوی دلاسپوڅو سره د اړیکو او راکړې ورکړې دپریکون (ترک مولات)تحریک چې دانګریزانو څخه دکرکې

او نفرت ولولې په راوپارولې او دیوې ښې مؤثرې وسلې په توګه یې ترې کار واخیست.

دلته څو باریکیو ته پام ضرور دی یو دا چې د۱۹۱۹ز څخه وړاندې دمولانا شیخ الهند په مشرۍ چې څومره تحریکونه پلان شوي هغو ټولو کې دسیاسي هلو ځلو ترڅنګ وسلوال جهاد ډېر قوي عنصر په توګه ،خو پکې د پرلپسي ناکامیو ، شکستونو او دګاونډیو هېوادو د نه اخلاص او جنګي وسایلو نشتوالي مولانا شیخ الهند اړکړ چې د خپلې مبارزې لپاره یو سیاسي ستیج هم رامنځته کړي څو دهغه نه په ګټه دخپلو اهدافو ترلاسه کولو یون ته دوام اوبښي.

بله باریکي دا ده دمولانا شیخ الهند (مولانا محمود الحسن) په قیادت کې دهند جمهورو علماوو(چې په هغوی کې د دیوبندیانو څخه علاوه بریلویان، اهل حدیث، اوشیعه ګان هم شامل وو)پرېکړه وکړه چې ددې وروسته دهند دازادۍ مبارزه یواځې تردیني حلقو او اشخاصو به محدوده نه وې بلکې له ځان سره پکې دعصري علومو لوستي ځوانان به هم شریکوو او په همدې نیت په ۱۳۳۹ هـ (۱۹۲۰) کې چې کله دعلي ګړ پوهنتون مسلمانو زده کونکو دعلي ګړ له دولتي پوهنتون سره (دترک موالات تحریک په نتیجه کې) پریکون اوکړ او هغه ته له تلونه یې ډډه وکړه ، دهغه په ځای ځینو شتمنو مسلمانانو دانګریز دولت د کومک پرته د یو نوي پوهنتون (مسلم پوهنتون) د جوړولو پرېکړه وکړه ،دهغه دپرانستلو غونډې دمشر په توګه یې مولانا شیخ الهند ته بلنه ورکړه ،که څه هم دغه مهال زیات ناروغ او کمزورۍ و او شاګردانو یې علي ګړ ته د نه تلو مشوره ورکړه خو هغوی ته یې ځواب ووایه : که په دې غونډه کې زما دمشرۍ اوګدون له امله انګریز ته تکلیف رسي نو خامخا ورځم ،غونډه ۱۳۳۹ ه دصفرې په ۱۶ مه دمولانا شیخ الهند په مشرۍ جوړه شوه، هغه خپله دمشرۍ(صدارت) لیکلې وینا(خطبه) پخپله و نشوای لوستلی او پخپل نومیالي شاګرد مولانا شبیر احمد عثماني یې ولوسته چې ځیني مهم ټکي یې دا وو:

۱. ما په دې بوډاوالي ، ناروغه او کمزروي تن ستاسو بلنې ته لبیک وایه، ځکه زه دلته دخپلې یوې ورکې متاع دلاسته راتلو په هیله یم ،ډېر نیکان خلک شته چې دهغوی په مخونو کې دلمانځه او دالله تعالی دیاد رڼا ګانې ځلیږي خو چې کله هغوی ته ووایې دخدای لپاره پورته شه دامت لپاره هم څه وکړه او امت دکافرانو له منګلو څخه ازاد کړه هغوی وډار شي ، زړو ته یې ترهه ننوزې او دخدایB نه دویرې په ځای دځو ناپاکو انسانانو او د هغوی دوسایلو نه ډارلري.

ای زما دوطن زلمیانو! ماولیدل چې زما ددې د رد غم خواره په مدرسو او خانقاوو کې کم او په ښوونځیو او پوهنتونونو کې ډېر دي نو ځکه ما او زما څوتنو مخلصو ملګرو یو قدم دعلي ګړ په خوا پورته کړاو په دې سره دهندوستان دوه لوی تاریخي او علمي مرکزونه (دیوبند او علي ګړ) له یوبل سره ونښتل.

د مولانا شیخ الهند ددې فراست او لرلید په وجه دهندوستان دازادۍ په مبارزه کې ددیني مدرسو او خانقاوو دعلماوو او روحانیونو ترڅنګ په لوی شمیر کې دعصري زده کړو زده کوونکي لکه مولانا محمد علي جوهر، مولانا شوکت علي جوهر، مولانا ظفرعلي خان ډاکټر مختار احمد انصاري چوهدري افضل حق اوحکیم اجمل خان پشان عصري فاضلان هم ورګډ شول ، دعلماوو سره دنسبت او صحبت په وجه محمد علي جوهر، شوکت علي او ظفرعلي خان په مولانا محمد علي، مولانا شوکت علي اومولانا ظفرعلي خان یاد شول او په

ګډون سره يې دهندوستان دازادۍ په مبارزه کې قوت او تنوع راغله.

يوه بله دپام وړنکته داده چې مولانا شيخ الهند دهند دجمهورو علماوو په توافق دهندوستان دازادۍ په مبارزه کې د هند نامسلمان وګړي د ځان په ملاتړ قانع کړل او کله چې برتانوي استعمار دترک عثماني خلافت راپرځولو لپاره عملا لومړی نړيوال جنګ شروع کړ، ددې ګام پرضد يې هندوستان کې ميشت انګريزان د مسلمانانو ترڅنګ د نامسلمانو (هندوان اونورو) له لوري هم دمخالفت ا و مخاصمت دپاڅون سره مخ شول.

دعلماوو په اند دا د شيخ الهند رح دفراست او بصيرت مثبته نتيجه وه چې دعثماني خلافت دژغورلو په تحريک کې دمهاتماګاندي په مشرۍ دهندوانو لوی اکثريت دمسلمانانو دموقف او دريځ دملاتړ لپاره عملي ميدان ته ووتل.

دا راز مولانا شيخ الهند دمسلمانانو تر منځ دخپلمنځي انتشار او افتراق دلمنځه وړلو نظريه اومفکوره هم وړاندې کړه او دهغه دفکري او نظرياتي سرپرستی په رڼا کې دوه لوی تحريکونه (جمعيت علماء هند او بل مجلس احرار اسلام) دهند په نيمه وچه کې متحرک شول د قيادت واګې يې يواځې ديوبندي مسلک علماوو په لاس کې نه وې بلکې پکې دنورو فکرونو او مسلکونو علماوو (لکه بريلويان، اهل حديث، اهل تشيع او دنويو عصري زده کړو زده کوونکو ځوانانو) او دقومونو مخورو شخصيتونو هم ګډون درلود.

هو! دمالټې داسارت دورې په پای ته رسيدو چې کله مولانا شيخ الهند دانګريز په وړاندې دمسلمانانو تيرو مبارزو او قربانيو جاجونه وکړه هغه و ليدل چې انګريزان هغسې په مسلمانانو برلاسی دي او مسلمانان يې په مقابل کې کمزوري او بې وسه دي ،دځينو نورو ګڼو مصلحتونو پخاطر يې (چې دلته ليکل او څېړل يې ليکنه اوږدوي)دانګريز خلاف دمبارزې سياسي جهت غوره کولو مفکوره وړاندې کړه يعنې داسلامي نظام دنفاذ، انګريزنه دوطن دازادۍ لپاره يې دسياسي مبارزې د پيلولو محاذ پرانيست چې هندي ليکول اوقلموال دشيخ الهند رح دغه ګام په سولئيز سياست تعبيروي دکوم لپاره يې چې دا لاندې څلوراهداف ټاکلي:

١ - د انګريز نه دازادۍ ترلاسه کولو او اسلامي نظام دنفاذ لپاره په سياسي محاذ مبارزه پرمخ وړل.

٢ -دهندوستان نامسلمان وګړي له ځان سره ملګري کول.

٣ -دعصري ښوونځيو او پوهنتونو شاګردان دسياسي او ديني مبارزې قيادت ته راوستل.

٤ -دټولو مسلکونو علماوو ته په روانه مبارزه کې ونډه او برخه ورکول او عملاً هغوی له ځان سره يوځای ملګري کول

دپيښور او نوښار ترمنځ په زاخيلو سيمه کې د پاکستان د جمعيت علماء اسلام تراشراف لاندې درې ورځينی نړيوالي غونډې هم ترډېره ځايه هم دا رنګ او مزاج درلود په دې غونډه کې داسلامي نړۍ دمختلفو هېوادو دعلماوو او سياسي مشرانو په ګډون سربيره دپاکستان دننه دټولو ديني او ازادخيالو ګوندو مشرانو او استازو حتی د لږکيانو اوڅو نامسلمانو مشرانو ګډون جوته کړه چې جمعيت علماء اسلام غواړي دخپل هغه تشخص په پام کې نيولو سره سياسي مبارزې ته دوام ورکړي دکومې اصول او مقررات چې پورته ډول مولانا شيخ الهند او دهند جمهورو علماوو له لوري له نن څخه سل کالا وړاندې ټاکل شوي.

شايد هغه خلک چې دهندوستان دازادۍ او مبارزې دبېلا بېلو پړاوونو اوجهتونو تاريخ يې ښه

په زور او زيرنه وي لوستي دا وانګيري چې دجمعيت علماء اسلام اوسني مشران دکوم نوي رنګ يا مزاج خپلولو په کوښښ کې ښکېل دي ، ليکن داسې انګېرل د حقيقت سره سمون نلري، بلکې ښکاري چې جمعيت علماء اسلام پخپل ټول توان دا زيار ګالي چې هغه نهج خپل کړي کوم چې دهند دازادۍ او داسلامي نظام دنفاذ لپاره مولانا شيخ الهند دهندوستان جمهورو علماوو په مشوره اوفتوا غوره کړی.

په دې سربيره دزاخيلو نړيواله غونډه داسلامي نړۍ داوسني کمزورې نړيوال موقف اوحالت په خلاف دمسلمانانو دويښتابه ښکارندويه هم وه اوجوته يې کړه چې د مسلمانانو اجتماعي ضمير لا بيدار او ويښ دی او په خاصه توګه غونډه کې دجمعيت علماء اسلام مشر مولانا فضل الرحمان په نړيواله سطحه دمسلمانانو ددې موقف او دريځ ښه ترجماني وکړه چې د دوهم نړيوال جنګ وروسته کومې نړيوالې ادارې (لکه ملګرو ملتونو نړيواله ټولنه) چې په نړۍ کې دجنګونو او ظلمونو دمخنيوي په هدف منځته راغلې هغو دخپلو اهدافو او موخوځخه په دفاع کې په پاتې راتلو سره خپل اهميت او مشروعيت له لاسه ورکړی او ونه توانيدلې چې دملګري ملتونو نړيواله ټولنه يا دحقوق بشر ټولنه په نړۍ کې دانسانانو ترمنځ ددښمنيو او جنګونو په مخنيوي کې اساسي رول او کردار اداء کړي بلکې دهغوی په ملاتړ دنړۍ ځواکمن هېوادونه لګيادي دفتوحاتو په هوس کې پرلپسې خپلواک هېوادونه او ولسونه لاندې کوي او دانسانانو وينې لکه داوبوپشان بهوي، نوموړي کشمير کې د مسلمانانو حالت ته په اشاره وويل: تر ننه پورې ددغو نړيوالو ادارو لخوا دکشمير ستونزه حل نشوه او په افغانستان باندې امريکا د ناروا يرغل په نتيجه کې هلته د يوجايز اومشروع حکومت په ړنګولو افغانستان يا دجنګونو کندې ته ټيل وهل شو ، نن افغانان مجبور دي چې دخپلې خاورې او وطن دازادۍ لپاره دجګړې لار ونيسي ،ځکه بله لار ور ته نده پاتې، هم دا راز دغونډې په جريان کې مولانا فضل الرحمان دسليم صافي سره په مرکه کې وويل: دطالبانو حکومت جايز حکومت و، پاکستان او څو هېوادو په رسميت پيژندلی و، امريکا پرې يرغل وکړ او هغه جايز حکومت يې ړنګ کړ ،نوموړي وويل: که څه هم طالبان عسکري ښکاري خو هغوی په افغانستان کې دخپلې ٦ کلنې واکمنۍ په مهال يومخ دوسلو کلچر ختم کړی و خو دامريکا ديرغل وروسته بيا مجبور شول چې ټوپک او وسلې ته لاس کړي نوموړي وويل: دنړۍ ځواکمن هېوادونه دفتوحاتو په حرص کې لګيا دي له يوبل وروسته هېوادونه قبضه کوي او مونږ په جار سره ويلي : څو له افغانستانه بهرني ځواکونه لاړنشي ترهغې په افغانستان کې امن نشي راتلای، څو زمونږ چا ونه منله دافغانستان وروسته يې په عراق حمله وکړه نن عراق په څو ټوټو ويشلی دی ، هم داراز په سوريه او يمن کې يې جنګونو پيل کړل ، ان تردې چې نن زمونږ حرمينو شريفينو ته ګواښونه کېږي نوموړي وويل دوی پخپل ټول توان له جزيره العرب او حرمينو څخه دفاع ته چمتو دي.

همدا راز دکعبې امام شيخ صالح بن محمد ابراهيم دجمعې په خطبه کې ټينګار وکړ چې ديني علماء دې دفروعي مسايلو په سر ديوبل سره کرکجن اختلافات نکوي ځکه علم دصحابه وو نه مونږ ته دعلماوو په واسطه نقل شوی، نوموړي په خاصه توګه څلورګوني فقهي مذاهب ياد کړل چې دهغو څلورواړو په برکت مونږ ته ددين پريمانه علوم ر سيدلي او نن په نړۍ کې دمسلمانانو بشپړ اکثريت دهمدې څلورو امامانو اتباع کوونکي جوړوي او هريو امام ويلي [اذا صح الحديث فهو مذهبی]

کله چې په یوه مسئله کې صحیح حدیث پیداشي هم هغه زما مذهب دی.

نو په دې توګه دجمعیت علماء اسلام لخوا دخپلې سلکلیزې لمانځلو په مناسبت جوړه شوې نړیواله غو نډه یوه بې ساري لویه ، منظمه غونډه ګڼل کېږي چې پکې دپاکستان او بهر څخه د دروند شمیر میلمنو او مندوبینو راتګ اوښوده چې جمعیت علماء اسلام دخپل هېواد دننه اوبهر قوي رول او کردار لري او په نړیواله توګه یې ځان منلی او په خاصه توګه داسلامي نړۍ ددیني او سیاسي حلقو دننه له درناوي څخه برخمن ګوند دی.

دوهم: دپاکستان دننه دعلماوو او روحانیونو پراخ ګډون او راتګ وښوده چې دپاکستاني علماوو په سلو کې نوې علماء دجمعیت علماء دتګلارې سره ولاړ دي او دمولانا فضل الرحمان څخه ملاتړ کوي دشیخ الاسلام مولانا مفتي تقي عثماني څخه نیولي ترمولانا فضل الرحمان خلیل ، دوفاق لامدار س دمشر مولانا ډاکټر عبد الرزاق اسکندرنه ، ترپیر زولفقار ، پیر عزیز الرحمان هزاروي قاري حنیف جالندري مولانا احمد لودیانوي ټول

دمولانا فضل الرحمان دسیاسي کردار او هوښیارۍ معترف دي.

دریم : دسعودي عربستان دوفد ترڅنګ دایران درسمي و فد ګډون اوښوده چې جمعیت د سیاسي احتیاط او فراست په لار درومي ،دسیمي د نزاکتونو اوحساسیتونو د درک کولو پوره توان مندي لري.

څلورم : جمعیت دا ذهنیت هم ورکړ چې د فکري او نظریاتي پلوه هغه لاره تعقیبوي کومه چې یو ه پیړۍ وړاندې مولانا شیخ الهند رحمه الله ټاکلې او کومه بله تګلاره نلري.

پنځم: جمعیت دخپل نظم او دسپلین مظاهره هم وکړه ځکه په ملیونو خلک منظمول او تر درې ورځو دهغوی میلمه پالنه کول او ورته تولې اړینې اسانتیا وې هلته برابر ول دیوګوند په توګه دجمعیت علماء اسلام دداخلي نظم او ډسپلین ښکارندوي کوي.

په ټوله کې ددې نړیوالې اجتماع موخه دوینا کوو نکو دویناوو په رڼا کې داوه: چې نن اسلامي امت دکومو ستونزو او مشکلاتو سره لاس اوګریوان دی ، باید داسلامي هېوادو چارواکي او پوهان ددې لاملونه او وجوهات په ګوته کړي او دا چې

میډیا نړۍ ته مسلمانان دظالم او مظلوم دواړو په حیث وړاندې کوي ترشایې دچا چا لاس دی او څوک یې ملاتړ کوي ؟

دجمعیت علماء اسلام مشر مولانا فضل الرحمان پخپله وروستۍ وینا کې لاندې څلور عمده ټکي دنړۍ په وړاندې کیښودل

۱. دنړۍ ټول ولسونه دې دیوبل احترام او دیوبل حقوقو ته درناوی ولري

۲ـ په نړۍ کې داقتصادي انصاف را وستلو لارې دې پرانستل شي

۳ــ دلړکیانو او مظلومانو دحقوقو نه دفاع ته دې نړیوال خپل پام واړوي.

٤. دنړۍ هرهېواد او هرولس ته دې دخپلو طبعي وسایلو او زیرمونه داستفادې او ګټې اخستلو حق ورکړای شي او هغه هېوادونه چې غواړي د خپلواکو هېوادو دوسایلو نه ګټه واخلي ، باید دیرغلونو په ځای هغوی دتجارت لاره غوره کړي.

په نړۍ دمسلمانانو دسوکالۍ او خوشالۍ په هیله

پای

په ۲۰۹ شاهين قول اردو بريد کوونکي څوک وو؟

خوږمن شبکخيل

دوې ورځې مخکې په مزار کې د ۲۰۹ شاهين قول اردو باندې په يوه بريد کې ۱۶۰ زيات عسکر ووژل شول او له ۴۰۰ څخه زيات ټپيان شول، پرون مې چې د مړو شمير کوت چې د پلانکي ولايت ۲۰ تنه عسکر وژل شوي د پلانکي ۲۲...

نو له زړه وايم چې د يو افغان په حيث مې زړه درد وکړ د ځوانانو د ککريو لو روان دی، خو بيا ذهن ته راغله چې دا خو په روان جنګ کې اولين مرګونه نه دي، نه يوازې عسکر پکې وژل شوي، دا جنګ چا پيل کړ! او د عسکر په مقابل کې څوک ولاړ دي؟او راشه عسکر خبر کړه چې دا بريد چا وکړ.

عسکر جانه!

ستا چې دې يوه بريد مورال دومره ټيټ کړ په چغو شوي، د ملي ماتم ورز درباندې اعلان شوه، پوهيږې دا بريد چا وکړ؟

عسکر جانه!

دا بريد هاغه طالب وکړ چې ستا دوستم لس زره په دشت ليلی کې يو ځای په لوږ تنده شهيدان کړل، او په ډله ايزو قبرونو کې خښ شول. کورنۍ ته يې د خپلو بچيانو د يوه دوسهال نښه هم چا ور ونه ليږله.

او دوستم اوس هم ستا مرستيال ولسمشر دی.

عسکر جانه!

دا بريد هغه طالب وکړ چې امريکايانو يرغل کړی وو ، ستاسې مشرانو او امريکايانو يې له لرې نه ننداره کوله په قلعه جنګي، باګرام، کندوز او بيا په کابل کې په دوی ډيزي کټر او فاسفورس بمونه ورپدل ، د دوی غوښې او هډوکي به فاسفورس بمونو ويلي کړل او ستاسې د مشرانو عکس العمل به دا وو چې دوی خوښ وو چې د طالبانو حکومت ختم شو او د امريکايانو په مټ زموږ حکومت را روان دی.

ګوره پرون خو ستا جسد په ملي بيرغ کې نغښتی ستا تر کور پورې ورسيده ، د هغوی ميندې او پلاران لا د آخري ديدنه په طمعه ړانده شول.

عسکر جانه!

دا بريد هم هاغه طالب وکړ څوک چې لاس تړلي تاسې امريکايانو ته ور وسپارل په کيوبا کې يې ديارلس کاله تير کړل نه محکمه، نه قاضي او نه د نورو زندانونو غونډې يې خپل خپلوان ملاقات ته ورتللی شول، په يوه ليرې پرته جزيره کې يې د خپل ژوند نامعلوم برخليک سره په پنجره کې شپې سبا کولې.

ولې جرم يې څه وو؟

عسکر جانه!

دا بريد هم هاغه طالب وکړ چې تا به يې د خړ پړ کور دروازه ور ماته کړله امريکايان به يې کور ته ورداخل شول، په نيمه شپه به دې راويښ کړ، لاسونه به دې شاته وربانديې وتړل او توره

کخوړه بـه دې ور پـه سر کړلـه، ښـځې، خوېندو، مور او ماشومانو بـه يـې چغـې وهلـې سـپين ږيـري پـلار بـه يـې زارۍ درته کـولې او تـا بـه يـې پـلار بانـدې د ټوپک د کونداغ ګـذار وکـړ چـې "غلـی شـه، زوی دې پنجـابی دی، ولـې دې نـه منع کولو چـې د امريکايـانو سره بـه يـې جنګ کاوه؟

او هم هاغه طالـب د يرغـل ځـخه د خپل وطن د دفاع په جرم کـې پـه بـاګرام او پلچرخـې کـې شـپې سـبا کـوي او کورنۍ يې ورته سترګې په لاره دي.

عسکر جانه!

د مزار بريد هاغه طالب کـړی چـې ستا په همکارۍ ستا خـارجي همسـنګرو يې د قهرمان شهيد ملا داد الله، شهيد ملا اختر محمد عثمانـی، شـهيد مـلا سـنګين فـاتح، شـهيد مـلا روزي خـان عـاکف، شـهيد حـاجی فضـل ربـی، شـهيد مـلا دوسـت محمـد نورسـتانی، شـهيدملا عبدالمنان احمد، شـهيد بدرالـدين حقـاني، شهيد مـلا اسـد الله جمشـيد، شـهيد مـلا عبدالسـلام بريـال او شـهيد لعـل محمـد محمدي غونـدې اتـلان مشرـان شـهيدان کړل.

ته دې خپل دولت وګوره که د يادو شـويو مشرـانو غونـدې اتـل دې پکـې ومونـد.

عسکر جانه!

دا بريد هم هاغه طالب وکړ چې هره ورځ به دې په راديو کې تا خبر واوريـده چې په پلانکي ځـای کـې دومـره طالبـان ووژل شـول پلانکـي ځـای کـې دومـره ووژل شول . ته ځان سره خوښي احساس کړې چې دښمنان مو کـم شـول، خـو پـه حقيقت کې د آزادۍ جنګيالي وژل شوي وي، نـه څـوک د مـلي مـاتم اعـلان ورباندې کوي، نه يې کورنۍ تـه د نمـرو اعـلان کـوي، نـه يـې د مينـدو د ژړا ويډيوګانې په ميډيا نشر شوي، او سپين ږيری پلار يې له دې ويرې بازار تـه هـم نشي- تللای چـې مـلي امنيـت بـه مـې ونيسي چې پـه بمبـار کـې د وژل شـوي طالب پلار يم.

عسکر جانه!

دا بريد هاغه طالب وکړ چې ستا او ستا د خـارجي همسـنګرو لـه لاسـه پـه کلونو کلونو کـور تـه نشي- تـلای، چـې زخمي شي د علاج د نشـتوالي لـه وجـې ژوند د لاسه ورکړي، ستا غونډې معـاش هم نه لري، او کله چې کور ته لاړ شي يا ستاسې د چاپې سره مخـامخ شي يـا بـې پيلوټه بمبار ورباندې وکړي پـه دې جـرم چې د يرغل په وړاندې يـې پـاڅون کـړی دی.

عسکر جانه!

اوس خو به پـوی وې چـې دا بريـد چا کړی، دا بريـد صرف اتـو تنـو طالبـانو کړی او ستاسې ۱۶۰سرتيري وژل شوي، د دوی او سـتا تـر مـنځ يـو تـوپير دی تا ته خپـل هـدف نـدی معلـوم، پـه خپـل مرګ ډاريږې چې مړ شم نو ابـدي جهـان به مې په کوم ډول وي؟

دوی په دې پوهيږي چې دښمن مو که د امريکايي په شـکل کـې وی کـه د داخلي عسکر په شکل کې هدف يـې يـو دی د وطن اشغال او د شومو اهـدافو سر ته رسول، د دوی سره په جنګ کـې کـه ووژل شم نو شهيد به يم کـه ژونـدی يـم نو غازي به يم.

عسکر جانه!

دا بريد هاغـه طالـب وکـړ چـې پـه ۲۰۰۱ کې ستاسې سر لښـکر بـش ويـل چې د ګوتو په شمير يو څو طالبـان پـاتې دي يا به وژل کيږي يا به نيول کيږي خو دا د نن شپاړلس کالـه وروسـته طالـب د کابل دروازه در ټکوي،

د هغه کبرجن اورميږ يې تاو کـړ او را رانسکور يې کړ چا به چې ويل چـې د ګوتو په شمير طالبان پـاتې دي، نـن يـې دښمن د تعرضي جنګ نه دفـاعي جنـګ ته راوستلی د طالب مرال لـه آسـمان سره خبرې کوي او دښمن يې پـه خپلـو ځـالو کې هم نده محفوظ...

نږدې ده چې مرال بـايللی دښـمن د ماتې کندې ته ور ټيل وهي.

پشت پرده‌ای پرتاب «مادر بمب» از سوی مادر تروریزم

مصدق سهاک

عصر- پنجشنبه، ولسوالی اچین ننگرهار شاهد پرتاب بمب ۱۰۰ تنی مشهور به "مادر بمب" بود. وزارت دفاع امریکا گفته بمب GBU-43 نیرومندترین بمب غیرهسته‌ای این کشور محسوب می‌شود، علیه شبکه‌ای از تونل‌های داعش در ولسوالی اچین ننگرهار استفاده شده است. بنا به گفته سخنگوی نیروی هوایی امریکا، این اولین بار است از این نوع "مادر بمب" در عملیات نظامی استفاده می‌شود. این بمب از یک هواپیما بر فراز تونل‌های داعش رها شده است.

گفته می‌شود هزینه ساخت این "مادر بمب" ۱۶ میلیون دالر است و با پرتاب آن ۳۰۰ داعشی کشته شده؛ یعنی نیم میلیون دالر در ازای کشته شدن هر داعشی.

البته استعمال بمب‌های چند تنی مورد جدیدی در افغانستان نیست. در چهار دهه اخیر افغان‌ها شاهد استفاده بمب‌های سبک و سنگین زیادی بوده‌اند که باعث تلفات صدها هزار نفر گردیده است. همچنان این هم بار نخست نیست که امریکا سلاح‌های سنگین و کشنده‌ای خود را در لابرتوار افغانستان به آزمایش می‌گیرد، بلکه استفاده‌ای همچو بمب‌ها برای تضمین منفعت امریکا یک کار معمول می‌باشد. اوباما در هشت سال حکومتش در هر ۲۰ دقیقه یک بمب بالای مسلمانان پرتاب نمود و سال گذشته، پرتاب بمب از طیارات B-52 را در افغانستان آغاز کرد که تلفات مرگ‌بار غیرنظامی را در قبال داشت.

پرتاب بمب ۱۰۰ تنی بالای مواضع داعش در شرق افغانستان از این یک ضربه تمام کننده و واقعی برای از بین بردن داعش باشد، بیشتر کار تبلیغاتی بوده است. زیرا اگر قرار بر این باشد که به پیکر داعش ضربات کوبنده وارد گردد، داعش پناهگاه‌های مجهزتری در عراق و سوریه در اختیار دارد که به مراتب قوی‌تر از از پناهگاه‌های این گروه در شرق افغانستان است؛ ولی آن پناهگاه‌ها مورد حمله قرار نگرفت. چون از دیدگاه نظامی پرتاب بمب ۱۰ تنی بالای ۳۰ داعشی هیچ منطق ندارد، بلکه یک پیام سیاسی خاصی را می‌تواند مخابره کند. این پیام این است که امریکا برای از بین بردن گروه داعش جدی و مصمم است، تا بدینوسیله افکار عامه را در سطح جهان، امریکا و افغانستان فریب دهد. چون این مسأله در میان افکار عامه عمیقاً شکل گرفته که داعش در سطح جهان از سوی امریکا ایجاد شده و برای رسیدن به اهداف خود از این حضور این گروه منحیث یک مهره استفاده می‌کند. بناءً پرتاب این "مادر بمب" می‌تواند افکار عامه را اغوا کند و این طور نمایان سازد که امریکا دشمن داعش است.

در کنار این، دونالد ترامپ، در بخشی از سخنرانی خود در جریان انتخابات ریاست جمهوری مدعی شده بود که برای نابودی داعش نقشه‌ای را آماده کرده که بر مبنای آن، در ۳۰ روز نخست ریاست جمهوری خود گروه داعش را کاملاً از بین خواهد برد. افزون برین، سخنگوی ناتو در افغانستان چند روز پیش اعلام کرد

که سال ۲۰۱۷ میلادی سال پایان داعش خواهد بود. بناءً استفاده این "مادر بمب" بیشتر بخاطر تبلیغات است و نمی‌تواند نمایان سازد که امریکا علیه داعش واقعاً جدی است؛ زیرا سناریوی داعش یک سناریوی فرامنطقوی است که در منطقه‌ی ما توسط استخبارات امریکا، پاکستان و افغانستان بخاطر گسترش ناامنی‌ها به سمت روسیه و آسیای میانه بمیان آمده است و تا زمان رسیدن به این اهداف، این گروه به فعالیت‌هایش ادامه خواهد داد. حتی می‌تواند پرتاب این "مادر بمب" یک نقطه فشار بالای گروه داعش باشد تا پناهگاه‌های خود را از شرق افغانستان به سایر مناطق به خصوص شمال انتقال و یا گسترش دهد.

در این مسأله اظهارات چند روز قبل زلمی خلیلزاد سفیر پیشین امریکا در افغانستان بحث برانگیز است. خلیلزاد گفته بود که شکست گروه داعش در عراق و سوریه قطعی است و عدم حاکمیت سراسری دولت در افغانستان باعث خواهد شد تا این گروه افغانستان را به عنوان مرکز بعدی خود انتخاب کنند. بناءً داعش در افغانستان نفوذش را گسترش می‌دهد، هر چند بزرگنمایی از فعالیت‌های داعش توسط دولت افغانستان صورت می‌گیرد.

اما آنچه مایه تأسف است تلفات غیرنظامیان و پیامدهای استفاده این "مادر بمب" بالای مردم محل است. این در حالی‌ست که حُکام مزدور و خوابیده‌ی ما یکی آن چرت و فکرش انتخاب رنگ دریشی است و دیگری بالای "چهارچوب" های خیالی فکر می‌کند، و در قبال این حادثه موقف بسیار ذلیلانه را از خویش به نمایش گذاشتند و بی‌شرمانه با افتخار ادعا کردند که پرتاب بمب در هماهنگی با آنها صورت گرفته است و آنها در جریان این پرتاب بمب امریکا بوده‌اند. هرچند، رسانه‌های امریکایی ادعا می‌کنند که دولت افغانستان از طریق رسانه‌ها از پرتاب این بمب آگاه گردیده است.



افزون برین، پرتاب این "مادر بمب" در حال و هوایی که روسیه در مسکو میزبان نشست صلح در مورد افغانستان است چه پیامی می‌تواند داشته باشد؟

پرتاب این بمب می‌تواند یک پیام اساسی را برای روسیه می‌تواند مخابره کند که امریکا در افغانستان برای از بین بردن داعش تلاش می‌کند و از همین‌رو برای از بین بردن پناهگاه‌های این گروه، بمب ۱۰ تنی را پرتاب نموده است.

پس روسیه نباید نگران گسترش داعش در افغانستان باشد و دست به تحرکات و مداخلات سیاسی و نظامی در افغانستان بزند و اجماع‌های منطقوی را برای مشروعیت مداخلاتش در افغانستان برگزار کند.

اما آن‌چه برای ما مهم است که مردم افغانستان در چهار دهه اخیر آزمایشگاه تیوری‌ها، نظام‌ها و سلاح‌های سبک و سنگین قدرت‌های بزرگ قرار گرفته است. در این آزمایشگاه نه تنها مفکوره‌هایی فاسد که بشریت را به بحران و فساد کشانیده به معرض آزمایش قرار داده‌اند، بلکه به محل تقابل قدرت‌های استعماری و لابرتوار سلاح‌های سبک و سنگین قرار گرفته است. البته تلفات بمب‌های فکری امریکا [دموکراسی، حقوق بشر، جامعه مدنی] به مراتب پر هزینه‌تر و پر تلفات‌تر از بمب‌های نظامی است. پس این مسئولیت ما و نسل ماست تا به این آزمایشگاه نقطه‌ی پایان بگزاریم.

اوبه! په نهاره څکښل....

مولوی عمران ممتاز

درسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دبعثـت مقصـد دبشريـت رهنمائي او دخالق لورته دانسانانو بلل او بيول دي، خو ددېنه عـلاوه رسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دبشـري ژونـد د متخلفـو برخوپه اړه هم داسې لارښوو نې کړې، چې هغو ته نن هـم په کتوسره نړۍ کې پوهان حيران ګوتې په غاښ دي

مثلاً طبابت او درملنه واخله رسو الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې مهـم جزيـات او کليات بيـان کـړي، چـې هغـو تـه پـام سره علـماوو دنبوي طب پـه نـوم مستقل کتابونـه ليکلي، البتـه دعلماوو په وينا دطب په برخه کې دغـه لارښـووني دلـزوم او وجوب په درجه کې نـه راځـي، دې کـې دهـر نـاروغ سيمې اوچاپيريال ته په پام دهغه درملنه پکارده او هيڅکله دهغـه د مزاج او طبعيت د پامه غورځول ندي پکار.

نن سبا هرچيـرې داخبره عـام ده چـې سهار اوبـه پـه نهاره خوله څکښل جوازنلري، دليل دا راوړي چـې رسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې ځينې مضر اثرات او نقصـانونه پـه ګوتـه کـړي ، بناً هرڅوک چـې پـه نهـاره اوبـه څکي هغـه د حديث خلاف دعمل مرتکب ګرځي او پـه دې وجـه پـه نهـاره داوبـو څکښل دحلا او احرام په تول تلل کېږي چې په سبب يې دا لاندې پوښتنې پيدا کېږي:

ايا دحديثو په زخيره کې کوم داسې حديث شـته، چـې پکې په نهاره داوبو څکښلو ممانعت اويـا يـې دزيـان يادونـه شوې وي؟

که داسې وي نو دسند له پلوه د هغـه حـديث حيثيت څه دی؟ دمحدثينو په نزد هغه دمنلو او اعتبار وړدی کـه نـه؟

او ددي حديث پـه وجـه پـه نهـاره د اوبـه څکښل نارواکېدای شي؟

بل په حديث شريف کې راغلـی ممانعت وجوبي دی يـا داچې دنهي ارشاد له قبيـل څخه دی؟ معنـی دا چـې ددغـه حـديث خــلاف عمــل ناجــايز دی يــاداچې رســول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لخوا د ترغيب او مشورې حيثيت لري ، چې ور باندې د عمل او نه عمـل واک دهـر انسان ترصواب ديـد اړه لري؟

ددغو روايتونو سره متعارض او مقابل روايتونه هم شته او کـه نه؟ که شته دهغو سند قوي دی او که کمزوری؟

دا او ديته ورته نورې پوښـتنې دهرسـړي پـه ذهـن کـې ګرځـي، نـو دلتـه يـادو پوښـتنو او اشکالاتو تـه پـه پـام سره لاندينې عناوين راوړل کېږي:

په نهاره داوبو څکښلو دتاوان دلايل:

داحاديثو په کتابونو کې په نهاره داوبو څکښلو ممانعت لړ کې روايتونه شته او د هغو روايتونو پـه اړه لانـدې تبصرہ ولولئ:

١... پـه المعجـم لاوسـط کـې دحضـرت ابـوهريرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ پـه سـند سره درسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشـاد منقول دی : چې هر څوک په نهـاره خولـه اوبـه څکـي ، دهغـه قوت کموي.(المعجم ٧-٢٨٦-٢٨٧مخ)

تبصره.... امام ابو القاسم سليماني بـن احمـد طبراني رَحِمَهُ ٱللَّهُ (٢٦٠-٣٦٠ه) په المعجم لاوسط کې دا روايت دعبد الاول معلم په تفرداتو کې شمارلی نوموړی ليکي : دا حديث

ددغه سند په زريعه درسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه يواځي دعبد الاول معلم نقل کړی دی.(المعجم ....۲۸۷\۷، مکتبة المعارف)

حافظ نور الدين على بن ابي بکر هيثمی رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ (۷۳۵ه-۸۰۷ه) ددي روايت ديو نه دزياتو روايانو دجهالت په بناء يې د پيژندلو نه منکر دی هغه وايي: ددې روايت په سند کې داسې مجهول روايان شته چې زه هغوی نه پيژنم.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، کتاب الطب باب شرب الماء على الريق ۲۴۷\۱۱)

علامه اسماعيل بن محمد عجلونی رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ (۱۰۸۷ه-۱۱۶۲ه) پخپل کتاب کشف الخفاء کې ليکي:چې ددې روايت سند کمزوری دی (تاريخ مدينة دمشق، طاهر بن محمد سلامة، رقم الترجمة ۴۵۶\۲۹۵۷۷۲۴ چاپ دارلفکر)

۲.... دامام طبراني په المعجم الاوسط کې دحضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ نه هم په دې الفاظو سره روايت منقول دی.(المعجم الاوسط ۳۲۶\۵ چاپ المکتبة المعارف)

تبصره.... امام طبراني رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ په دې روايت تبصره کړې هغه وايي دا حديث دزيد بن اسلم نه يواځي دهغه خوی عبد الرحمان نقل کړی دی (المعجم الاوسط ۳۲۶\۵)

حافظ نورالدين هيثمي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ دا روايت دمحمد بن مخلد الرعيني په وجه ضعيف ګرځولی (مجمع الزوائد..... ۲۴۶\۱۱ چ دار المنهاج)

علامه عجلونی رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ ليکي: چې ددې روايت سند کمزوری دی (کشف الخفاء .... ۲۴۶\۲)

۳.... علامه بن جوزي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ (۵۱۰هق-۵۹۷هق) دحضرت ابوهريرة رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ نه نقل کړي چې رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: په نهاره خوله اوبه څکل چربي ډېروي (الموضوعات لابن الجوزی .... ۴۰\۳ چ، دارلفکر)

تبصره.... دارروايت موضوع دی علامه ابن جوزي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ دسند بيانولو ضمن کې ددې رواي عاصم بن سليمان په اړه وايي: هغه احاديث جوړول، ما دهغه پشان بل تن هيڅکله ندی ليدلی ، هغه به داسې، داسې احاديث بيانول چې دهغوبه هيڅ اصل نه وو(الموضوعات لابن الجوزی ... ۴۰\۳)

نوموړی وړاندې ليکي: زه ددې خبرې نه زيات ډاريږم چې ددغه احاديث جوړونکي شخص هدف دشريعت په اړه بده اراده خوبه نه وي، کنه په اوبو کې دا څه ځانګړتيا ده چې هغه چربي زياتوي.(۴۰\۳)

علامه ابو الفضل محمد بن طاهر مقدسي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ (۴۴۸هق-۵۰۷هق) ليکي: په دې روايت کې عاصم بن سليمان کوزي دی څوک چې موضوع روايتونه بيانوي او تري احاديث ليکل رواندي(معرفة التذکرة لابن طاهر المقدسی ۱۶۰\۱)

۴... امام محمد بن ادريس شافعي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ (۱۵۰ هق ــ۲۰۴) وايي: څلور څيزونه بدن کمزوری کوي ، ډېره جماع.دغمونو زياتوالی، په نهاره خوله اوبه څکل او ډېر تروش څيزونه خوړل(زاد المعاد فی هدی خير العباد۴\۴۰۸-۴۰۹)

۵... مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ (۱۲۸۰هق-۱۳۶۲ه) په بهشتي زيور کې ليکلي: له خوب نه دپورته کېدو سره سملاسي اوبه نه څکل، اونه هم بيرون هواته ژر وتل؛ که تنده ډېره وه ، بيا عمده تدبير دادی چې پوزه اونيسه ! اوبه يو ، يو غوړپ څکه!او داوبو څکلو وروسته ترلږ ځنډه پوزه اونيسه ! او په پوزه ساه مه اخله او هم داسې په نهاره خوله اوبه مه څکه.(بهشتي زيور۹\۴۸۱)

په نهاره داوبو څکلو دنه ضرر دلايل:

۱.... امام طبراني رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ په کتاب الدعاء کې دحضرت ابن عباس رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ نه نقل کړي دي چې رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلی : هرهغه تن چې غواړي الله تعالی يې دقرآن کريم او نورو مختلفو علومو ديادولو وړ وګرځوي هغه ته پکارده چې دا دعاء په يوصاف لوښي يا د شيشې په

قاف دشاتو، زعفرانو، او باران په اوبو وليکي او هغه بيا په نهاره او څکي ،درې ورزې روژه اونيسي- او په همغو اوبو افطار وکړي ان شاء الله هغه به قرآن او نور علوم ياد کړي او دا دعاء هم دهر فرض لمانځه نه وروسته دي لولي هغه دعاء داده : اللّهُمّ اِنی أسألک بأنک مسؤل لم يسأل مثلک ولايسأل(الدعاء للطبراني ١\ ٣٩٧)

علامه جلا ل الدين سيوطی رَحِمَهُ ٱللَّهُ په اللآلی المصنوعة کې او حافظ ابن عراق په تنزيه الشريعة کې دا موضوع ګرځولی (تنزيه الشريعة ٢چ ٣٤)

٢.... په نهاره خوله داوبوسره دګډو شاتو څکل:

درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ عادت و، چې په نهاره خوله به يې دشاتو سره ګډې شوې اوبه څکلې(زادالمعاد فی هدی خير العباد... ٣٤\٤)

حافظ ابن قيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ (٦٩١ه -٧٥١) وايي: په نهاره شات څکل اوخټيل بلغم له منځه وړي دمعدې دننه برخه پاکوي او ذايقې ته تازه ګي ببښي او ترې فضلات لرې کوي (زادلمعاد٤\٢٢٤)

٣... د اوداسه نه دپاتې اوبو څکښلو روايت :

په صحيح بخاري او نورو کتابونو کې په صحيح سند سره روايت دی چې رسول صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَداودس نه پاتې اوبه څکلې (صحيح البخاري کتاب الاشربة ، باب الشرب قائماً ٢\٨٤٠ چ، قديمي)

په دې روايتونو کې دتجهد اوسهار لمانځه لپاره داوس نه دپاتې اوبو دنه څکلو قيد يا ممانعت نشته هغه مهال انسان په نهاره خوله وي، ددې څخه معلومه شوه چې په نهاره خوله ابو څکل کوم باک نلري.

دطبيانو رايه:

په اوسني وخت کې يولوی شمير طبيبان هم په نهاره داوبو څکلو ګټې بيانوي.

دضعيف روايت حکم:

دضعيف روايت په اړه حکم دادی چې دهغه نه دشريعت دهيڅ حکم ثبوت نه راځي البته دفضايلو په برخه کې دقبلولو وړدی خو په هغه باندې هم دعمل کولو لپاره درې شرائط دي:

١.... د هغه روايت ضعف به شديد او نهايتي درجه ضعف نه وي په همدې وجه که په يو روايت کې يو راوي دروغجن او په ګذب متهم وي يا په ښکاره غلطې کونکی منفرد راوي و، نو دهغه روايت ددې حکم څخه خارج دی.

٢.... هغه حکم به دشريعت دمسلمه کلي اصل لاندې وي ، که کوم روايت داسې و چې کوم اصل يې نه و، په فضايلو کې هم هغه دقبلولو وړندی.

٣.... دفضايلو په باب کې دضعيف روايت قبلولو باوجود داحتياط تقاضه داده چې درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ نه دهغه عمل دثبوت عقيده دي نه ساتي، ولې ددغه روايت په ثبوت کې يو ډول شبه ده، ممکن دا حديث ثابت نه وي، اوس که په يقيني توګه دا عقيده ولرل شي، چې داعمل ثابت دی، نو دنبي کريم صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ لورته ديوداسې عمل منسوبولو خطر ه راځي، کوم چې هغه ندی کړی (القول البديع ، الخاتمة ، ص:٤٧٢- ٤٧٣)

نتيجه: ددې ټول بحث لنډيزدادی چې په نهاره داوبو نه څکلو روايتونه دسند له پلوه ضعيف او يا موضوع دي احتياطاً يې دثبوت عقيده نده پکار، دځينو عمومي روايتونو څخه په نهاره داوبو څکلو ثبوت مندل کېږي په دې وجه دامسئله دجايز او ناجايز يا د حلال او حرام په توګه وړاندې کول سهي نده. بلکې دايوه طبي مسئله ده چې پکې خپله داطباوو ترمنځ هم اراء مختلف دي نوبناءً کوم تن ته که تنده لګېدلې وه او په نهاره يې داوبو څکښلو ته اړتيا درلوده ، هغه دې وڅکي خو که ډاکټر ياطبيب څوک په نهاره داوبو څکښلو منع کړي ،هغه دې نه څکي....

د امريکايي ښکيلاک دنويو وسلو تجربه ګاه...!

ازاد افغان

دشک پرته نړۍ په تيزۍ سره دسياسي، اقتصادي او پوځي پلوه د بدلونوپه لور درومي ، په خاصه توګه اسلامي هېوادونه خو دکفري هېوادو لپاره ټاکلي اهداف اونښه ځايونه ګرځيدلي.

منځني ختيځ کې د وړاندې څخه داسرايل شتون دعربي او اسلامي نړۍ په سينه کې دټومبلي خنجر په توګه د مسلمانانو دتنو ويني بهوي، په هندوستان کې دمودي او امريکا کې دټرمپ د برياليتوب وروسته اسلامي هېوادو ته دنورو ورته تهديدونو او جدي ګواښونو په وړاندې راغلي او دپخوا په نسبت ليدل کېږي چې دمسلمانانو په ستونزو او مشکلاتو کې دکمي په ځای زياتوالی راځي.

په وروستيو کې دامريکا دولسمشر ټرمپ په حکم زمونږ په هېواد دنړۍ تولو لوی غير اتومي بم استعمالول دهمدي بد ذهنيت اوبد راتلونکي ښکارندويي کړي

دخبري رسنيو له قوله :دغه بم چې دبمونو موربلل کېږي لس زره کيلو باروتو په اندازه د اوراوتخريب صلاحيت لرلو په وجه داتوم بم وروسته زيات زيان رسونکی او بتاهې اړونکی بم دی چې په همدي وجه ورته دبمونو مور ويل کېږي

دروان ۲۰۱۷زکال داپريل په ۱۳مه نيټه امريکايانو لخوا دغه مجرمانه وحشت دهېواد په ختيځ ننګرهار اچين ولسوالۍ کې ترسره شو، چې په ظاهره يې دامريکا دحکومت په وينا: داستعمالولو موخه داچين په يوه دره کې دداعش جنګيالي په نښه کول وو

دخبري منابعو په استناد دغه لوی بم داچين په يوه غرنۍ دره (اسد خيلو)کې لګيدلی چيرې چې داعشيانو خوندي سمڅې او تونلونه کندلي او ديو وخت راهيسې يې هغه دخپلو مرکزونو په توګه کارول. البته تراوسه دکومې ثقه سرچينې له لوري دا ندي ويل شوي چې رښتيا په دې دومره لوی بريد سره ددعش څومره جنګيالي وژل شوی او په دې علاوه داعش ته يې څومره مالي او پوځي زيان اړولی؟

څنګه چې دغه ستر بم په زيان رسولو او تباهۍ خورولو کې د اتوم بم سره کم توپير لري چې دزياتو باروتو لرلو په وجه په نښه شوې سيمې داکسيجن دکمښت ستونزې سره مخ کوي خوبياهم تراوسه نده روښانه چې داچين په ياده سيمه کې يې دزيانو او تباهيو سلنه څومره ده ولې يادې سيمې ته امريکايان څوک نه پريږدي حتی دلاسپوځي رژيم عسکر هم نشي ورتلی

دډېرو په نظر دټرمپ دغه ګام هيښوونکی دی ، اوښکاري چې ټرمپ واک ته درسيدو وروسته هوډ لري چې داسلامي هېوادو دننه امريکايي وحشت نور هم پراخ کړي او دنړۍ هېوادونه له ځانه مرعوب او وډاروي څنګه چې ددينه وړاندې يې په سوريه کې دالشعيرات په نوم

هوايي ډګر باندې دهام ټاک په نوم کزوز مزايل وويشتل او هغه نه وروسته يې دادی په افغانستان لوی بمي بريد وکړ نوپه دې توګه دمهلکو او زيان رسوونکو وسلو استعمال دهغه دبدنيت او وحشي- عزايمو جهت په ګوته کوي.

بل لورته دا هم پټه نده او ښکاره ده چې دداعش په نامه پديده رامنځته کولو کې امريکا رول لري اوپه دې قوي او مستند اسناد شته دي چې امريکا داعش دخپلو موخو لپاره پيدا کړی دی هيلارې کلنټن دخپل انتخابي کمپاين په مهال څو، څو ځله اومنله چې داعش د دوی دستراتيژۍ يوه برخه ده نوبيا پوښتنه داده چې ايا امريکا اوس کومه نوې ستراتيژي غوره کړې ؟ ايا امريکايانو کې کوم نوی سوچ ا وفکر راټوکيدلی؟ يا داچې داعش بيرته دامريکا لپاره دردسر ګرځيدلی ؟ او که ټرمپ داوباما د دورې ټول پلانونه ځنډولي؟

بله داپوښتنه داده چې ايا امريکا دروس ، چين ايران او نورو په ضد دداعش استعمالولو ارادې نه په شاه شوې ؟ ولې په پيل کې خو پلان داو چې دسورېې او عراق وروسته امريکا داعش په افغانستان کې غونډوي او ددې ځايه به يې دافغانستان دکاونډيانو په ضد استعمالوي.

دکتونکو په نظر پورته ټولې پوښتنې مهمې دي چې ځوابول يې اوس له وخته وړاندې کار دی البته امريکا په دې سره نړۍ ته په ډاګه کړه چې پرلپسې په دوه هېوادو نو دوه جلا سترې حملې ترسره کولو سره يې شمالي کوريا ، روسيې او ايران ته پيغام دی چې په هغوی هم دورته بريدونو توان لري

دکارپوهانو په نظر: اچين کې امريکايانو دغه ستربم دداعش پرضد نه بلکې امريکا خپلې وسلې وازمايلې او غوښتل يې چې دتخريب له پلوه سلنه معلومه کړه چې دبمونو مور بم دتخريب او زيان رسولو څومره ظرفيت لري

اونوربيا په دې باور دي چې امريکا دداعش په نوم ددغه لوی بم په غورځولو سره غوارې دداعش شتون ته جواز او مشروعيت پيدا کړي ، څو وښيي چې امريکا دداعش ملاتړ نکوي او نه پخپله لمن دداعش رامنځته کولو داغ لري په دې سره دداعش سره دسيمي دخلکو حمايه او همدردې پيدا کوي

بل پلو په نړيواله سطحه امريکا غواړي چې شمالي او روسيې دواړو ته دخطر پيغام وليږدوي او دواړو ته خپل زور وروښيي لکه دبم غورځولو سره هم مهال امريکايې چارواکو ويلي چې دشمالي کوريا او هغو هېوادو لپاره دخطر زنګ دی کوم چې دامريکا ګټې ننګوي خو په بله ورځ دامريکا ددفاع وزير جميز ميتيس وويل: داچين بم غورځول دامريکا لپاره يو پټ رازدی او دوی به هيڅکله دغه راز له بل چا سره شريک نکړي او تل به يې له ځان سره خوندي ساتي.

په ټوله کې دا بريد دافغانستان په حريم دامريکا يې يرغل يوبل کرغيړن جنايت دی چې په وړاندې يې دلاسپوځي رژيم چارواکو مجرمانه چوپتيا هيڅکله دبښلو

ورنده اونه به هغه افغانان چې لږ عقل او پوهه هم ولري دامريكا ددې ستر جنايت په وړاندې داشرف غني او ډبل عبد الله خيانتونه او جنايتونه و بني ځكه دډېرو په نظر امريكا له افغانستانه دوسلو دازموينې ستراتيژې ټاكلي او غواړي هغه ټولې نا كارول شوې وسلې دلته تجربه كړي او زمونږ له هېواده دخپلو نويو وسلو دتجربه كولو تجربه گاه جوړه كړي

هغه سيمه چې پكې دامريكا له لوري دستر بم نښه گرځيدلي داچين ولسوالۍ داسدخيلو په نوم يادېږي چې ورنه زياتره ملكيان وړاندې ايستل شوي وو او كارول شوی بم لس ټنه وزن لري كوم چې پخوا جوړشوی و ليكن تردا مهاله نه و كارول شوی دا لومړی ځل دی چې په جگړه كې وكارول شو.

ددغسي بريدونو ترشاه دامريكا اوږده جنگي پاليسي شتون لري چې هدف يې په نړۍ دامريكا رعب او دبدبه كينول دي په دې لړ كې دامريكا دولسمشرـ مرستيال وروستۍ څرگندونې هيښوونكې دي كومې چې هغه دشمالي كوريا دگاونډيو اوسيالو هېوادو دلس ورځيني سفر په مهال كړې هغه ويلي: شمالي كوريا دې دامريكا دچو پټيا امتحان نه اخلي په تيرو دوه اوونيو كې لومړی په سوريه او بيا په افغانستان دبريدونو له لارې

زمونږ د ولسمشرـ څواك ښكاره شودكتونكو په اند: داځرگندونې ښيي چې امريكا شمالي كوريا او روسيې دواړو ته خپل زور ښكاره كړ په دې وجه نړۍ په راتلونكې كې ديوبې ثباته حالت په لور درومې ممكن امريكا دشمالي كوريا ، روسيې او ايران پشان هېوادو په ضد هم دگامونو پورته گولو هوډ كړی وي.

دافغانستان دلاسپوځي دولت له لوري دامريكا ددغه بريد نه يوآځي ملاتړ شوی كله چې د بيطرفه متخصصينو لخوا وويل شول چې دغه بريد روغتيا يې ستونزې له ځانه سره لري بايد دسيمې خلک له احتياطي تدابيرونه خبر او آگاه اووسي خو ددې وروسته دافغانستان دولت دعامې روغتيا وزارت ددې لپاره چې دخلكو عامه ذهنيت واړوي دبريد دگټو په اړه بيانيه خپره كړه دا په داسې حال كې چې خپله افغان چارواكي او عسكر دبريد ځای ته نه پريښودل كېږي ځكه ياده سيمه دامريكايانو لخوا كلابند شوې او هيڅوک هلته ورتلای نشي. ، په دې توگه افغان چارواكې له سره په دې خبر ندي چې دابم څومره زيانونه پيښوي؟ او په اچين كې يې څومره شمير وژنې رامنځته كړې يواځي دامريكايانو دخوشالولو لپاره كوښښ كوي چې دخلكو اذهان په درواغجنو معلوماتو خپرولو سره گدوډ وكړي.

نو ويلای شو كه افغانستان كې امريكا په راتلونكې كې هم دغسيـ بريدونو لړۍ جاري وساتي نو پايلې به دافغانستان او منطقې لپاره ډېرې بدې او بوږنوونكې وي اونه به امريكا په دغسيـ گامونو اخستلو افغانان له جهاده كينوي او هغه ورځ خامخا راځي چې امريكا دخپلې سيالې روسيې په تير حشرـ اخته شي.

عربي نړۍ

او پرضد یې یوبل شوم پلان

حسن مومند

په قبضه شوي فلسطین کې د اسرائیلي دولت درامنځته کېدو او دملګرو ملتونو په اداري کې دعضویت ترلاسه کولو او منل کېدو نه پس داسرائیلو لوی خواهش دا و چې په ټولیزه توګه ټوله اسلامي نړۍ اوپه ځانګړي ډول عربي نړۍ یې په رسمیت وپېژني ؛ اسرائیلو ددې لپاره ډېرې هڅې هم کړېدي خو د مصر ، اردن اوترکې په څېر سیکولرزم ته د وفادارو هېوادونو پرته تر اوسه هر اسلامي هېواد داسرائیلو دا غوښتنه رد کړېده .

دامریکا هر ولسمشر چې راغلی دی له مختلفو لارو یې لږ یا زیات کوښښونه کړېدي چې اسلامي هېوادونه ددې خبرې منلو ته تیار شي خو پرې بریالي شوي ندي .

سره له دې چې تر اوسه پدې هدف کې دامریکا یو ولسمشر هم ندی بریالی شوی خو له دې هم انکار نشي کېدای چې پدې اړه چې کوم شوم پلانونه روان دي دتطبیق ټولې چارې یې دامریکا پر اوږو دي داسرائیلو ټول شیطاني پلانونه دامریکا له لارې او د امریکا په لاس تطبیقېږي .

پدې اوس هرڅوک پوه دي چې دیهودو هدف یوازې دفلسطین قبضه کول نه و ؛ دفلسطین قبضه کول دپیل قدم و او اصل هدف دهغه ګریټر یا لوی اسرائیل رامنځته کول دي چې دعراق،سعودي عربستان، ایران، لبنان، اردن، شام او ترکې نه نیولې دعربو خلیج، دعربو بحیرې دافریقا څه برخې او دافغانستان ترپولو ټوله سیمه پکې شامله ده.

په منځني ختیځ کې ګډوډي اوپه ګڼو هېوادونو کې داخلي ټول جنګونه ددې لپاره دي چې ټول عربي هېوادونه سخت کمزوري شي ؛هرهېواد یې په څو برخو وویشل شي او یو هم ددې جوګه پاتې نه شي چې داسرائیلو دپلان دتطبیق په وړاندې خنډ شي.

داسرائیلو دا ټول پلان امریکا په خپلې غاړې اخستی دی اولګیا ده په ډېر اخلاص یې دتطبیقولو چارې پرمخ بیایې.

په ۲۰۰۳ م کال کې دامریکا له لورې دعراق دقبضې او په ۲۰۱۱م کې دعربو دبهار په نوم دولسي پاڅونو نو له لارې ددې پلان دوروستو مراحلو پرلور یو مهم قدم پورته شو چې په شام،عراق او یمن کې دسختو او مخ زیاتېدونکو کورنو جنګونو په صورت کې یې وروستي نتایج هم ورو ورو راښکاره کېږي.

دمخه مو وویل چې داسرائیلو دهر شوم پلان تطبیق امریکا په خپلو اوږو اخستی دی خو دعربي نړۍ سره د دیپلوماتیکو اړیکو جوړولو ته یې ډېره ځانګړې پاملرنه کړېده ځکه چې داشي

داسرائیلو لپاره له پیله ترننه ډېر اهمیت لري؛ پدې اړه دامریکا ټېر ټول کوښښونه بې تیجې وو خو اوس یې چې کوم پلان شروع کړیدی دا ډېر خطرناک دی؛ امریکا اوس داسې پلان په کار اچولی دی چې پر مټ به یې ټول عربي هېوادونه پخپله ورو ورو اسرائیلو ته د دوستۍ لاس ورکړي او بالآخره به یې په رسمیت وپېژني.

هغه پلان دا دی چې دایران په نوم خورا مهم خلیجي نا عربي هېواد چې شیعه متعصب آخندان یې اصل واکمنان دي او په تاریخي لحاظ دعربو دښمن هېواد ګڼل کېږي له یوې خوا دا هېواد ډېر لوی طاقت معرفي شو اوله بلې خوا ورته په ټولې سیمې کې دلاسوهنې موکه ورکړل شوه اوپدې اړه یې هیڅ مخنیوی ونه شو.

دایران اټومي پروګرام څه داسې شی نه و چې امریکا یا دامریکا اتحادیان ورنه وه وېرېږي خو دا پروګرام دغربي رسنیو له لارې عمداً دومره غټ کړای شو لکه دامریکا اوټول لویدیځ لپاره چې ډېر ستر خطر وي؛ دا د دې لپاره چې ایران دټولې عربي نړۍ لپاره دخوف او وېرې یوه لویه نښه وګرځي.

امریکا دایران په اړه تر ډېره حده له مبالغې نه کار اخلي؛ایران چې په فوځي ډګرکې څومره ځواکمن دی امریکا یې دهغې نه ډېرزیات معرفي کوي اوترځنګ یې دشام ،عراق اویمن په جنګونوکې داسې راښکېل کړی چې پدې هر هېواد کې دسني عربانو په مقابل کې دشیعه ګانو په څنګ کې ولاړ دی؛ دلته دشیعه ګانو دحاکمیت ساتنه کوي اوښه په جهر وایي چې خپله دا کړنلاره به په ګڼو نورو هېوادونو کې هم تطبیق کړي.

دچارو پوهان وايي چې دایران دنظامي ځواک په اړه مبالغه او په عربي نړۍ کې دمداخلو موکه ورکول ۳ ستر هدفونه لري.

یو خو دا چې ټوله عربي نړۍ دایران نه په سختې وېرې کې وساتي ترڅو عربي هېوادونه امریکا خپل نجات ورکونکې وګڼي او هریو هېواد خپله دننۍ او بهرنۍ تګلاره دامریکا دخوښې سره سمه برابره کړي او پروسایلو یې تل ترتله دامریکا قبضه وي.

دایران په اړه دمبالغې او دمداخلو ورکولو دوهم ستر هدف دا دی چې په سیمه کې دوسلو زیاتولو مسابقه رامنځته شي او بډای عربي هېوادونه ښې ډېرې وسلې له امریکا نه واخلي او امریکا هر کال له دې لارې په ملیاردونو ډالر ترلاسه کړي.

او دریم هدف دا دی چې عرب هېوادونه دایران دضرر نه دځان ژغورلو په موخه هغه اسرائیلو ته ترجیح ورکړي چې په ښکاره دایران دښمن ګڼل کېږي.

نو ځکه اوس داسې ګونګوسې روانې دي چې دسعودي عربستان؛ مراکش او دعربو متحده ایالاتو دتېرې یوې لسیزې راهیسې دامریکا فشار قبول کړی او داسرائیلو سره یې پټ روابط پیل شویدي.

داخبره هم دوېرولونده چې په ۲۰۱۴م کې پرغزې داسرائیلو دیرغل پر مهال په غزې کې دامارا تو دځینو مرستندویه ټولنو له لورې دحماس دستراتیجیکو پټو پروګرامونو په اړه اسرائیلو ته ډېر معلومات ورکړل شوي وو.

دفلسطین ټولو مسلمانانو پدې خبرې اتفاق کړی چې په بیت المقدس کې به کوم نوی ستر جومات نه جوړوي ترڅو دمسجداقصی ضرورت او اهمیت په خپل

ځای پاتې شي او اسرائیلي دولت د مسلمانانو پر مخ د مسجد اقصی د تړلو لپاره د بل ستر جومات شتون پلمه نکړي.

نوځه موده د مخه چې د عربو متحده اماراتو په بیت المقدس کې یو ډېر ستر او ښکلی مسجد جوړ کړ فلسطیني مسلمانانو پرې خپل خفګان ښکاره کړ او ویې ویل چې داد مذهبي او دیني کارونو په جامه کې د اسرائیلو ډېر لوی خدمت دی چې اماراتو وکړ.

د خلیجي هېوادونو نه د اسرائیلو د دفاع وزیر داغوښتنه هم په رسنیو کې ډېره ښکته پورته شوه چې د سیمې د امنیت د تامین لپاره باید د اسرائیلو او عربو مشترک دفاعي فوځ تشکیل شي.

د روان ۲۰۱۷م کال د فرورۍ په ۵مې نېټې د اسرائیلو د لومړي وزیر نتن یاهو او د امریکا د ولسمشر ډونلډ ټرمپ ترمنځ دلیدلو نه پس مطبوعاتي کانفرانس ته دوینا پر مهال دواړو مشرانو دې لورته اشاره وکړه چې د اسرائیلو او عربي نړۍ ترمنځ روابط جوړېدای شي؛ نتن یاهو وویل چې په خپل ژوند او د خپل هېواد په تاریخ کې په رومبي ځل دا سې احساس کوي چې سیمې عرب هېوادونه اسرائیلوته د دښمن په نظر نه بلکې دیو حلیف په نظر

ګوري؛ هغه زیاته کړه چې اوس دا من د قیام لپاره ډېره ښه موکه موږ ته په لاس راغلې ده ځکه چې په سیمې کې اوس دا فکر عام شوید ی چې باید د اسرائیلو او فلسطینیانو ترمنځ د دائمي سولې لپاره لار برابره شي.

د چاروشنونکي د سیمې دیو مهم هېود هند په کړنلارې

کې بدلون هم د اسرائیلو او مهمو عربي هېوادونو ترمنځ د ټېنو روابطو د شتون لپاره یو مهم دلیل ګڼي او وایې چې همدې بدلونونو او عواملوته په پام سره د فلسطین او اسرائیلو په اړه د هند په پخوانۍ پالیسۍ کې بدلون راغلی دی.

سره له دې چې د تېرو ۲۵ کلونو راهیسې د هند او اسرائیلو ترمنځ دیپلوماتیکې اړیکې شتون لري خو هند تل د فلسطینایانو لپاره د ازاد فلسطیني دولت د رامنځته کېدو نه حمایت کړیدی او دایې د بهرنۍ پالیسۍ نه جدا کېدونکې برخه ده نو ځکه د هند هر لوړپوړی چارواکی چې اسرائیلوته په سفرتللی دی نو فلسطین ته یې هم سر ورښکاره کړی؛ په ۲۰۱۵م کې چې د هند د هغه مهال ولسمشر پرناب مکرجې اسرائیلوته په سفرتللی و نو غرب اردن ته هم ورغلی او فلسطیني پارلمان کې یې ویناهم کړې وه؛ د ټولې عربي نړۍ سره د هند د ښو روابطو یو عمده لامل هم دا د فلسطین په اړه د هند مثبته پالیسي ده

د سعودي عربستان، مصر، مراکش او د عربو د متحده ایالاتو سره هند جوړې سوداګریزې اړیکې لري؛ هند هڅې کوي د ټولو عربي هېوادونو سره یې روابط نور هم ښه او په خلیجي مارکېټونو کې یې ونډه

نوره هم زياته شي نوځکه يې تل دفلسطيني مسلمانانو لپاره دآزاد دولت دجوړېدلو نه حمايت ښکاره کړيدی او لکه دمخه موچې وويل تل يې لوړ پوړو چارواکو اسرائيلو ته دسفرونو پرمهال دفلسطينيانو تر واک لاندې سيموته هم سرور ښکاره کړيدی خو اوس خبره بدله او دفلسطين په اړه دهند په کړنلارې کې دبدلون نښې ښکارې.



اسرائيل او هند دپخوا په پرتله اوس يو بل ته زيات ورنږدې شويدي او دواړه هېوادونه ښه په جهروايې چې دخپلمنځي اړيکو دلازيات پياوړي کولو پر پکړه يې کړيده.

اوس چې داسرائيلو او هند ترمنځ دديپلوماتيکو اړيکود ټينګښدو ۲۵ کلونه پوره کېدونکي دي نو په پام کې ده چې په همدې مناسبت دهند لومړی وزير نريندر مودي اسرائيلو ته سفروکړي؛ دې سفرته دحتمي شکل ورکولو په موخه څوورځې دمخه دهند دملي امنيت سلاکاراجيت ډووال اسرائيلو ته په سفرتللی وچې هورې يې دخپل سيال او دباندنيو چارو دوزارت دلوړپوړو چارواکوسره ليدنې ترسره شوې.

داړومبی ځل دی چې دهند کوم لومړی وزير اسرائيلو ته سفرکوي نوځکه دوړه خواوې داسفر ډېرمهم او تاريخي ګڼي.

فلسطيني رسنيو خبرورکړيدی چې دهند دلومړي وزيرسفرحتمي دی خو تراوسه يې دقيقه نېټه نده اعلان شوی خو داسې اټکلونه کېږي چې شايد په راتلونکې جولای مياشت کې داسفرترسره شي؛ ددې سفر ترټولو مهم ټکی دادی چې دتېرو وختونو برعکس داځل دهند ترټولو لوړپوړی چارواکی اسرائيلو ته په سفرځي خو دفلسطيني مسلمانانو ترکنټرول لاندې سيموته تلل يې په پلان کې نشته. دفلسطين رسنيو داکار دفلسطين په اړه دهند د پخوانۍ کړنلارې نه انحراف ګڼلی دی او ويلي يې دي چې له دې وړاندې چې دبي جې پي يا کانګرس ددولتونو دباندنيو چاروکوم وزيرپه سفر راغلی نوددواړولوريونه يې ليدنه کړيده.

پدې کې شک نشته چې امريکا؛ اسرائيلو او نورو اسلام دښمنو غربي هېوادونو داپلان ډېر خطرناک دی خو داسې هم نده چې ګينې مخنيوی يې نشي کېدای او ناکامول يې ګينې ناشونې دي؛ ددوئ ددې شوموپلانونو ناکامول ډېر اسان کاردی خوکه اسلامي نړۍ کې څوک داسې غمخور راپيداشي چې دسعودي ،مصر ،قطر او اردن په څېر هېوادونه دنوروپه چاروکې دلاسوهنې پرېښودو ته تيار کړي او ايران دې ته چمتو کړي چې دشام عراق او يمن په روانو ستونزوکې دې مقابل جانب نه جوړېګي بلکې دمنځګړيتوب ونډه دې اداکړي ترڅو اسلامي نړۍ د غاصب اسرائيلي دولت درسميت پېژندې دتاريخي اشتباه نه خوندي پاتې او د دښمن شوم پلانونو نه دخاورو سره خاورې شي.

د بلخ برید او څو پوښتنې

ابو یاسر افغان

د تیرې جمعې په ورځ یعنې د روان کال د ثور په لومړۍ نیټه د طالبانو لخوا په بلخ ولایت کې د کابل اداري د اردو په یوه مهم مرکز (شاهین قول اردو) پراخ سرتیري عملیات ترسره شول چې تر دا اوس شیبې رارسیدلي معلومات ښيي چې نږدې ٥٠٠ تنه عسکر په دغه برید کې وژل شوي او درجنونه نور ټپیان دي، د بلخ برید په تیرو څو کالو کې بیساری ؤ، له پیچلو تاکتیکونو له مخې داسې ښکاري چې کټ مټ هماغه تاکتیک په کې کارول شوی کوم تاکتیک چې دری نیم کاله مخکې په هلمند ولایت کې د برتانوي او داخلي عسکر په ګډ کمپاین او ستر مرکز(شوراب) د برید لپاره کارول شوی ؤ، وروستي معلومات دا هم ښيي چې طالب تعرضیانو د ملي امنیت له رینجرو او یونیفورم نه په ګټې اخیستنې دغه بریالی برید ترسره کړی چې د کابل اداري او د خارجي یرغلګرو له سرونو یې هوښ الوځولی دی.

د برید په هکله مستند ګڼل کېدونکې راپور د نیویارک ټایمز و چې له مخې یې دا خبره غلطه ثابتیږي، کومه چې دلته شاربل کیږي او هغه دا چې برید پر مسجد شوی، نیویارک ټایمز لیکلي ؤ چې برید د ډوډۍ خوړلو پر مهال پر همدغه سالون شوی چېرته چې عسکرو ډوډۍ خوړله، د برید نه وروسته اخیستل شوي انځورونه هم ښيي چې د برید په ساحه کې ګنې چوکۍ او میزونه پراته دي، چې په مسجد د برید درواغجنه ادعا نوره هم واضحه کوي.

راځو یو څو لنډو مهمو پوښتنو ته چې درانه لوستونکي به یې تر پایه د لوستلو لپاره راسره ملګرتیا وکړي او دغه پوښتنې هغو کسانو ته راجع دي کوم څوک چې د اردو پلویان دي او دغه بیساری برید غندنه کوي.

١ :پوښتنه دا ده چې داخلي عسکر او خارجي ملګري یې د چا پرضد جګړه کوي؟ که د طالبانو پرضد نه وي، نو ولې یواځې طالبان هدف ګرځول شوي او لا هم تر بریدونو لاندې دي؟ که جګړه د طالب پرضد وي، نو آیا د جګړې پر مهال داسې چې یرغل هم تا کړی وي، وسله او عسکر هم ستا زیات وي، بیا هم له مقابل جانب نه د رحم تمه لرې آیا دا یو خندوونکي او بزدلانه عمل نه دی؟؟

٢ :کله چې امریکایي عسکر ستاسو سره اوګه پر اوګه د یو یو طالب پسې عملیات کوي، پر مدرسو، مسجدونو، حجرو او کورونو یې چاپې وهي، وژني یې، زندانونو ته یې وړي، تاسو ولې پرې خوښي څرګندوئ، ملاتړ یې کوئ او دغه عمل ته یې د خپل ملاتړ نوم ورکوئ یا ورته د تروریزم ملا ماتول

واياست، اوس نو په کوم دليل تاسو له همغو طالبانو د ترحم غوښتنه کوئ او ځانته برائت ورکوئ؟؟

۳ :د کندوز او بغلان لپاره د طالبانو د نومول شويو واليانو په وژلو مو جشنونه لمانځل، طالبانو ته مو ملا ماتوونکي ګوزارونه بلل، هغوی ته مو د پيغور په شکل ويل چې راشئ تسليم شئ، همغه وخت هم تاسو دا فکر نه کاوه چې کله يو څوک والي وي او هغه بيا هم د جګړې لمړۍ کرښې ته راځي، خو طبيعي ده چې مرګ ته غاړه غړۍ وردانګي، نو د دغه ډول سرتيرو وژل، خو ستاسو نه برعکس د هغوی د برياليتوب او د ملاتړ د لا ډيرښت سبب دی، نو ولې بيا هم د دغو واليانو په وژنه، چې د امريکايي طيارو په بمباريو کې قرباني شول، تاسو خوښ وئ؟ آيا د دې عکس العمل نه وروسته مو هوښ ځای ته راغی؟؟

٤ :امريکايي عسکر د اسلام پرضد جګړې ته راوتلي او طبيعي ده چې مسجدونه، مدرسې، علماء او حافظان يې لومړی ټارګيټ دی، تاسو ولی د دغو حرامي يرغلګرو سره په دوستی وياړئ، ملګرتيا يې کوئ، هر ظلم او وحشت ته يې جواز برابروئ؟ آيا يو څوک چې د اسلام د دښمنانو سره ملګرتيا باندې فخر کوي، هغه به د اسلامي مقدساتو څه پروا وساتي؟ همدلته تم کيږو او دا هم پوښتو چې: امريکا په عراق، افغانستان، وزيرستان او سوريه کې زرګونه مسجدونه بمبار کړل، جنازی يې بمبار کړی، مدرسې يې په بل مخ واړولی او د مدرسو زده کوونکي يې په شهادت ورسول، قرآن شريفونه يې وسوځول، ولی ستاسو له خولی اف قدري و نه ووت؟؟

۵ :هغه وخت چې حمله کيده په قرار ګاه کې د خارجي مشاورينو او روزنکو برسيره ۳۰۰۰۰ داخلي هم عسکر موجود وو، نو دا خو هيڅ امکان نلري چې دغه ټول عسکر دی په يو وخت مسجد ته تللي وي او هلته دی په لمانځه مصروف وي، تر اوسه خو افغانستان کې لا دومره ستر جومات نه دی جوړ شوی چې په يو وخت ديرش زره تنه په کې ځای شي، بلکه دا چې که بالفرض همدا خندوونکي دعوه ومنو چې عسکر په لمانځه ولاړ ؤ، نو د جمعې د ورځې دوه رکعته فرض لمونځ دی چې ادا کول يې لس دقيقو نه زيات وخت نه نيسي، حال دا چې بريد نږدې ۱۲ ساعته دوام وکړ، ولی دا ديرش زره عسکر ټول په سجده پراته وو او کنه ټول په يو ځای د يو بم په چاودنه کې ووژل شول؟ مرګ ژوبله خو په نښته کې رامنځته شوی نه په لومړني بريد کې، بيا نو ولې يواځې مسجد پلمه نيول کيږي؟؟

٦ :د بريد نه نيم ساعت وروسته بي بي سي او آزادي راډيو د اتو تنو د مرګ ژوبلې خبر ورکړ، که ستاسو دا خبرې منو، بايد بيا د آزادي راډيو راپور هم ومنو، ښه نو چې نيم ساعت نښتې نه وروسته ايله اته تنه عسکر وژل شوي وو، بيا هم واضحه شوه چې دا پاتې ٤٩٢تنه عسکر د نيم ساعت نه وروسته وژل شوي، حتماً به لمونځ ختم شوی او عسکرو به خپل ځانونه جګړې ته اماده کړي وي، آيا دا هم نه منئ او نورې پلمې ورته لټوئ؟؟

۷: کله چې امريکايي يا داخلي عسکر په طالبانو بريدونه کوي، د هيڅ مسجد، مدرسې، کلي، حجرې او کور آن د روغتون خيال نه ساتي نه يې لحاظ کوي، نو له طالبانو بيا ولی داسې خندوونکي تمه لرئ، که طالب د دې ځايونو خيال ساتي دا يې خپله ديني وجيبه ده، مګر تاسو ته دی خير شي چې

اوس هغوئ ته دا خبرې ور په زړه کوئ آیا تاسو شرم لرئ؟؟

۸ :دوه اونۍ مخکې په لغمان او ۵ میاشتې مخکې د ننگرهار ولایت د چپرهار ولسوالی په نری اوبو سیمه کې سپین جومات امریکایي او داخلي عسکر وران کړل او زیات کسان یې په کې په بمبار توټې توټې کړل، دا تر ټولو وروستي هغه و، کنه نو د اچین په بمي برید هم تاسو خوشحاله وئ چېرته چې درې یا ځلور مسجدونه ونړیدل، همداسې ډېر ځله شوي چې امریکایي او داخلي عسکرو په مسجدونو او مدرسو عملیات کړي، لسگونه تنه یې په کې وژلي آیا هغه وخت مسجد کوم تقدس نه درلود؟ او که نه د عامو مسجدونو څخه هغه مسجدونه ډېر افضلیت لري...

چې د اردو په بیسونو او قرارگاو کې د PRT او USAIDپه ډالرو جوړ شوي او تر ې گېر چاپېره امریکایي او داخلي عسکر مختلط ژوند کوي، هره بې حیایي او فحاشي ترسره کوي، شته داسې څوک چې ځواب راکړي؟؟

۹ :آیا د اردو قرارگاګانو کې دا مسجدونه د همدې لپاره جوړ شوي چې د جگړې پر وخت په کې عسکر پټ شي؟ دا چې د ۵۰۰ تنو عسکرو مرگ د ارگمشر ماغزه گډوډ کړي اوس یې پرته له دغې بهانی بله بهانه پیدا نکړه چې ووایې طالبانو په مسجد کې دا عسکر وژلي؟؟

۱۰ :دا پوښتنې پدې معنی هم نه دي چې گنی موږ دا ومنله چې برید په مسجد شوی، بلکې موږ بیا هم وایو چې برید په نظامي مرکز شوی هغه مرکز چېرته چې داخلي غلام عسکر او خارجي باداران یې د اسلام پرضد د جگړې توطیې او طرحې جوړوي او له همدغو مراکزو د یهودي پروژو د تطبیق پلانونه عملي کېږي، نو اجیري رسنی ولې دا نه وایي چې د اردو عسکر آن د خپلې قرارگاه ساتنه نه شي کولی بیا په مسجدونو کې ولې پټیږي؟؟

حقیقت خو دادی چې د ارگ هم شپې لنډې دي، نور یې د جگړې ډگر بایللې او اوس غواړي په دا ډول درواغو د مسلمان ولس پام په بله کړي او خپلې ناکامی ته د وړو پوزه جوړه کړي، کوم خلک چې د اسلام پرضد د جگړې لپاره له صلیبي او یهودي یرغلگرو کلک ملاتړ کوي، ورسره ملگرتیا کوي، په اسلام ضد جنایاتو کې ورسره شریک دي، هغوی نو په مسجدونو څه کوي؟ په داسې حال کې چې د جگړې اصلي هدف یې هم د مسجد او مدرسې د ویجاړولو او د هغې د تقدس د پایمالولو څخه پرته بل څه نه دی؛ دا هم باید ووایو چې د داخلي عسکرو پلویان دی د اشرف غني نه پوښتنه وکړي، چې د طالبانو مشران، د مشرانو اولادونه یې په روانه جگړه کې قرباني شوي او لا هم په لومړي خط کې قرار لري، ستا اولاد، وزیران، والیان او نور مهم چارواکي ولی دغې جگړې ته خپله نه ورگډیږي چې پردي بچي پرې ورگډوئ او بیا یې پدې غولوئ چې که ژوندي وئ وطن ساتونکي یاست او که مړه شوئ نو شهیدان یاست، آیا عقل هم د دې ځینو خلکو سره شته؟ لنډه دا او بنه خبره داده چې باید د کابل گوډاگی رژیم خارجیانو ته نور د تلو ووایي او یا که دا نه شي کولی نو په حیا کې دی واک ملت ته وسپاري، کنه نو تر دې به د سختو مرگوني وارونو سره مخ شي.

د نړیوال کفري بلاک د ماتې په هیله

د سولي شورا خزانه به څوک ډکوي؟

عبید تنویر

له څو ورځو راهیسې دسولي شورا جگ پوړي او ټیټ پوړي چارواکي تړول په یوه خوله دا فریادونه کوي چې بودیجه یې تمامه شوي اوپه خزانه کې یې ډالرختم شویدی .

دکابل رژیم دسولي ترنامه لاندي شورا چي له یوي لسیزي راپه دی خوا تاسیس شوي گڼ اعضا او کارکونکي لري

دنوموړي شورا په دنده اوشعارکې دا ټکي ځای شوی چې سولي او روغي ته به کار کوي او هغه څوک چې دکابل رژیم سره وسلوال مخالفت لري له هغوسره به تفاهم کوي اوجوړي ته به یې رابولي.

دچارو دماهرینو په اند دسولي شورا لاسته راوړني او جوت فعالیت تراوسه نه ده حس شوی اونه په راتلونکي کې ددې خبري امکانات برېښي چي کومه شکاره بریادی ولري، علتونه یې ښکاره اوبرالا دي

ړومبی خبره داده چې د شورا اساس او بنیاد امریکایانو ایښی، چلونکي اومهم غړي یې هغه خلک او اشخاص دي چې دافغانستان لوړو گټو اومصالحو څخه زیات ورته امریکایي گټي او منافع اهمیت اوارزښت لري یعني هغه جگړه چې امریکایانو دلته راوړي اوجاری یې ساتلي دشورا مکلفیت همداده چې نوموړي جگړه مشروعه وښیي اوهغه څوک چې ورسره مخالفت لری اوامریکایي اشغال ته سرنه ږدي هغوي ورته دسولي اوروغي په نوم راخلوي

دویمه خبره داده چې دشورا تمویل او مالي اړتیاوي له الفه تر "ی" پوري دامریکایانو په غاړه او هغوئ حل کولي اوبله بنیادي خبره دا چې دسولي شورا په ترکیب اوسر کې هغه خلک توظیف شوي چې خپل ژوند اوبقا په جنگ اوامریکایي حضور کې ویني

نوچې دیوې اداري اوجریان دغه رنگه موخي وی اودبنسټ ډبره یې په همدې فکر ایښودل شوي وي چې امریکایان حق په جانب اومخالف لوری یې باغیان دي نو بیا به دغه اجیره شورا اوپریوتي خیري په کوم اساس اوامید هغې سولي اوروغي ته چې افغانان ورته تږي اواړتیالري مخلص ووسي اوسه لاسته راوړني دي ولري؟

ویل کیږي چې سولي شورا له تیرو پنځو کلونو راهیسي- ۲۰۰ میلونه ډالر مصرف کړي اوپرون یی رسما اعلان وکړ چې خزانه یې نوره خالي اوصفا شویده

اوس پوښتنه داده چې شورا دغه لوی مقدار رقم دکومي سولي په مخ کې لولپه کړ اوپه نتیجه کې دهیواد په کومه لویشت ځمکه باندي سولي اوامن وزري وغوړولي چې اوس دنورو همدومره ډالرو مطالبه هم کوي ؟

باورلرو چې ۲۰۰ میلونه ډالره هیڅکله دجگړي دختمیدو اودحقیقي سولي دراوستو په لار کې ندي لگیدلي، بلکې یا په هغو نیرنگو مصرف شوي چې جگړه پري پراخیږی اوتودیږي اویاهم دغه لسگونه میلونه ډالر دسولي په نامه دسولي معلوم الحاله شوکمارو په بډه وهلي

خودایوه خبره اوس سخته ښکاره او څرگنده ده چې دکابل رژیم دسولي شورا اصلي اواوسني مشر- " ټرمپ" داسې یوڅوک ده چې په امریکایي ډالرو باندي یې زړه چووي اولاله وړاندي یې اعلان کړی چې یوډالر به هم نور دکابل رژیم غلو اومفسدو چارواکو ته ورنکړي

نوویره شته چې دسولي شورا خورجین اوخزانه همداسې تشه او خوارو زاره پاتي شي.



د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري

امام عبدالرحمن ابن الجوزي رحمة الله علیه

لیکنه: مفتي محمدالیاس «فاتح»

هغه له ځان وروسته د زرګونو کتابونو علمي زیرمه اسلامي نړۍ ته په میراث پرېښوده.

د شپږمې سپوږمیزې پېړۍ سترعالم ، محدث،فقیه، مفسر، مؤرخ، شاعر اولیکوال حافظ ابن الجوزي رح اصلي نوم عبدالرحمن و، چې د علي زوی د محمد لمسی د علي بن عبیدالله کړوسی و او دنسب لړۍ یې حضرت ابوبکر صدیق رض ته رسېږي. نوموړی په ۱۰ ۵ هـ.ق کال د بغداد په « درب الحبیب » کلي کې نړۍ راغی.

دشیخ عبدالرحمن رح کنیه ابوالفرج او لقب یې ابن الجوزي و؛ دده نسبت دجوز (چارمغز)هغې ونې ته شوی دی چې د « واسط » په ښار کې د دوی د کور په منځ کې ولاړه وه، چې په ټول ښار کې داسې بله لویه ونه، نه وه. ابن الجوزي رح درې کلن ماشوم و، چې د پلار سوری یې له سره پورته شو او پالنه ، روزنه یې د ګرانې مور او مهربانې ترور ته ور غاړې شوه . کله چې نوموړی په ښو او بدو پوی شو؛ نو ددیني زده کړو لپاره یې دجومات ملا امام (شیخ ابن ناصر رَحِمَهُ اللَّهُ ته وسپاره.

د ابن جوزي کوچنیتوب دنورو په څېر نه و، دده دماشومتوب دوره د زهد او دینداری څخه ډکه وه ، د وخت د ضایع کېدو له ډاره یې د هیڅا ملګرتیا او مخ کېدل نه خوښول ، هغه خواړه به یې نه خوړل چې شبهه به ورکې وه،له ماشومانو سره به یې لوبې نه کولې او له جمعې لمانځه پرته به هیڅ له کوره نه وت.

علامه ابن جوزي رح لومړی دقران کریم حفظ ، بیا دوخت له نامتو قاریانو څخه د تجوید او قرائت علم زده کړ او له هغې وروسته یې له مشهورو امامانو او فقهاوو څخه د مروجو علومو او نبوي احادیثو زده کړې ترلاسه کړې . دنوموړي له استاذانوڅخه : قاضي ابوبکر الانصاري، ابوالقاسم الحریري، علي بن عبدالواحد الدینوري ، ابوالحسن ابن الزاغوني، اسماعیل بن ابي الصالح المؤذن ،ابومنصور القزاز، علامه ابی الوقت او ابوالقاسم علي بن یعلی العلوي دبېلګې په توګه یادولای شو.

علامه ابن جوزي د ملکوتي غږ څښتن او ددرس او وعظ شاهکار او د زیات شهرت خاند و، هغه د وخت د پاچا په اجازه په جامع المنصور کې درس او وعظ پیل کړ او خاصو ، عامو ته یې ګټه رسیدله. بیاچې کله عباسي خلیفه المستنجد بالله عباسي دخلافت په تخت کېناست ،دلوی صوفي او بزرګ عالم عبدالقادر جیلاني او د وخت د نورو عالمانو ، عارفانو په ملګرتیا یې په یو ه لویه جلسه کې علامه ابن الجوزي رح ته یو ځل بیا د فضیلت پګړۍ ورپه سرکړه او د شاهي قصر په جامع جوماتکې یې د درس ، تدریس ، وعظ او خطابت مسؤلیتونه ور وسپارل؛ هماغه وه چې شهرت یې په ټوله اسلامي نړۍ کې خور شو. د نوموړي د وعظ او تقریر ونو غونډو ته به بادشاهان ، وزیران ، خلفاء ، امیران او لوړ لوړ شخصیتونه حاضریدل اوپه زرګونه

خلک به ورته راغونډېدل آن تردې چې په ځینو غونډو کې به تر یولک زیات خلک راټول شوي وو.

د نوموړي دوعظونو او کتابونو له برکته په زرګونه خلک داسلام په مبارک دین مشرف او په لکونه انسانان له ګناهونو څخه توبه ګار شوي دي . هغه دعمرپه وروستیو کلونو کې پخپله ویلي :((ما په خپلو ګوتو زرګونه جلده کتابونه ولیکل، زما په لاس لکونو خلکو توبه ووېستله او زماپه لاس شل زره کسان په اسلام مشرف شول)

.ابن جوزي په ٦کلنۍ کې دحدیثو سماع شروع او په ۱۷ کلنۍ کې یې دتصنیف په لیکنې شروع کړې وه . نوموړي به هره ورځ څلور کتابچې لیکلې چې هرکال به یې پنځوس اویا شپیته جلده کتابونه برابرول. هغه په هرعلم کې ازاد لاس درلود، دخپل مذهب سترامام و، د خپل پېر ادیبان او شاعران یې دخپل ځانګړي ادبي سبک پر وړاندې په ملا خم کړي وو. د مناظرو په نړۍ کې ترهر چامخکې تللی او په تفسیر اوحدیث کې یې پخپله زمانه کې ساری نه درلود. په نړۍ کې یې داسې هېڅ فن او علم پرېنښود، چې په لوړه کچه لیکنه یې پکې کړې نه وي. هغه دبېلابېلو علومو ګرځنده کتابخانه وه او له ځان وروسته یې دزرګونو کتابونو لویه علمي زیرمه اسلامي نړۍ ته په مېراث پرېښوده .

تالیفات او تصنیفات یې:

دحافظ ابن جوزي رح دکتابونو کره شمېر نه دی معلوم ، په دې اړه حافظ امام ذهبي رح داسې وایي : ماته داسې عالم نه دی معلوم ، چې د حافظ ابن الجوزي په څېر یې دومره زیات تعداد تصانیف کړي وي.

شیخ ابن تیمیه رح وایي : ما د حافظ ابن الجوزي رح (۱۰۰۰)زر تصانیف ولیدل ، مافکرکاوه چي نور به یې نه وي بیامې هاغه تصانیف دده ولیدل چې پخوامې نه وو لیدلي. رښتیا هم د حافظ ابن جوزي تصانیف ډېرزیات دي چې کابو له شمار څخه وتلي دي.

استاذ عبدالحمید العلوجي د ده په تصنیفاتو یو ځانګړی کتاب لیکلی او په ۱۹۶۵ ز کال په بغداد کې له چاپه راوتلی دی، دنوموړي د کتابونو شمېر پکې ۳۷٦ ته رسیدلی ،چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- ✓ زاد المسير في علم التفسير
- ✓ نواسخ القرآن
- ✓ الوفاء فی فضائل المصطفی صلی الله علیه وسلم
- ✓ شرف المصطفی صلی الله علیه وسلم
- ✓ سيرة الرسول صلی الله علیه وسلم
- ✓ التبصرة في الوعظ
- ✓ احكام النساء
- ✓ حكام الاشعار باحكام الاشعر
- ✓ اخبار مكة
- ✓ درر الجواهر من كلام الشيخ عبد القادر
- ✓ اخبارالنساء
- ✓ الارج فی الموعظة
- ✓ الاريب فی تفسير الغريب
- ✓ اسباب النزول
- ✓ اعمار الاعيان
- ✓ أنس الفريد وبغية المريد
- ✓ الا انصاف فی مسائل الخلاف
- ✓ ايقاظ الوسنان فی الموعظة
- ✓ اعلام الاحياء باغلاط الاحياء
- ✓ اسماء الضعاف
- ✓ الباز الاشهب المنقض علی مخالفي المذهب
- ✓ بستان الواعظين
- ✓ البغلة فی الفروع
- ✓ بستان الصادقين
- ✓ بحرالدموع
- ✓ تحفة الواعظ ونزهة الملاحظ
- ✓ التحقيق فی احاديث الخلاف
- ✓ تذكرة الاريب فی التفسير
- ✓ تذكرة المنتبه بيعون المشتبه فی متشابه القرآن
- ✓ تلبيس ابليس
- ✓ تلقيح فهوم اهل الاثر فی التاريخ والمغازي والسير

- ✓ تنبيه النائم الضمرعلى مواسم العمر
- ✓ تحفة المودود فى احكام المودود
- ✓ تقرير القواعد فى علم الاصول
- ✓ ترياق الذنوب
- ✓ الثبات عندالمات
- ✓ جامع المسانيد والالقاب
- ✓ جواهرالمواعظ
- ✓ الجليس الصالح والانيس الناصح
- ✓ الحدائق لاهل الحقائق
- ✓ حسن السلوک فى مواعظ الملوک
- ✓ درء اللؤم والضيئم فى مدح يوم الغيم
- ✓ دور الاثر
- ✓ دواء ذوي الفضلات
- ✓ ذم الهوى
- ✓ الذهب المسبوک فى سيرالملوک
- ✓ ذيل طبقاة الحنابلة
- ✓ الردلى المعتب المانع من ذم يزيد
- ✓ روح الارواح
- ✓ روضة المريدين
- ✓ رسالة فى برالوالدين
- ✓ الزهر
- ✓ الائق
- ✓ سلوة الاحزان بما روى عن اهل العرفان
- ✓ سيرة العمرين
- ✓ سيرة المستغني
- ✓ شذور العقود فى تاريخ العهود
- ✓ صبا نجد فى الموعظة
- ✓ صفة الصفوة

- ✓ صيد الخاطر
- ✓ الطب الروحاني
- ✓ عجائب النساء
- ✓ عجالة المنتظر فى شرح حال الحضر
- ✓ عجيب الخطب
- ✓ عمائق المرافق
- ✓ العلل المتناهية فى الاحاديث الواهية
- ✓ عمدة الدلائل فى مشهور المسائل
- ✓ عيون الحكايات
- ✓ غريب الحديث
- ✓ فضائل المدينة المنورة
- ✓ فنون الفنان فى علوم القرآن
- ✓ قصص الانبياء عليهم السلام
- ✓ كتاب الاذكياء
- ✓ كتاب الاالقاب
- ✓ كتاب الحمقى والمغفلين
- ✓ كتاب الفروسة
- ✓ كشف مشكل الصحيحين
- ✓ كمسات الزهر وفريدة الدهر
- ✓ كنزالذاكرين
- ✓ كتاب فى الحث على طلب العلم
- ✓ كتاب البروالصلة
- ✓ اللألي فى الخطب والمواعظ
- ✓ لطائف المعارف فيها للموسم العام من الوظائف
- ✓ اللطف فى المواعظ
- ✓ لفتة الكبد فى نصيحة الولد
- ✓ لقط الجمان
- ✓ اللقط فى حكايات الصالحين
- ✓ لقط المنافع فى الطب

- ✓ اللؤ اللؤة فى المواعظ
- ✓ المجتبى فى انواع من العلوم
- ✓ المختارمن لقط المنافع فى الطب
- ✓ مثير الغرام لساكن الى اشرف الامكان
- ✓ المدهش فى علم ومحاضرات من المواعظ
- ✓ مرافق الموافق
- ✓ المذهب فى المذهب
- ✓ مسبوک الذهب فى المذهب
- ✓ المصفى بأ لف اهل الرسخ من علم الناسخ والمنسوخ
- ✓ المغني فى التفسير والمواعظ
- ✓ مناقب الامام احمدحنبل رح
- ✓ مناقب عمربن عبدالعزيز رضى الله عنه
- ✓ مناقب معروف الكرخي رحمة الله عليه
- ✓ مناقب عمربن الخطاب رضى الله عنه
- ✓ المنتخب فى النؤب
- ✓ المنتظم فى تاريخ الامم
- ✓ المنثور فى المواعظ
- ✓ منظومة فى الحديث
- ✓ المنعش مختصر المدهش
- ✓ منهاج اهل الاصابة فى صحبة الصحابة
- ✓ منهاج العابدين على اسلوب الاحياء علوم الدين للغزالي
- ✓ منهاج الوصول الى علم الصول

- ✓ منهاج النظر وجنة الفطر
- ✓ المواعظ والمجالس
- ✓ الموضوعات الکبری
- ✓ مولد النبي صلی الله علیه وسلم
- ✓ الناسخ والمنسوخ فی الحدیث
- ✓ نخب المنتخب
- ✓ نرجس القلوب الدال علی طریق المحب
- ✓ نزهة الاعین النورظرفی علم الوجوه والنظائر فی معاني مفردات القرآن
- ✓ نسیم الریاض فی المواعظ
- ✓ نسیم السحر فی المواعظة
- ✓ النطق المفهوم من اهل الشمت المعلوم
- ✓ النفیس فی الموعظة
- ✓ نظم الجهان
- ✓ نفی النقل فی الحدیث
- ✓ نور الغش فی فضائل السود والجیش
- ✓ یاقوتة المواعظ والموعظة
- ✓ لفتة الکبد إلی نصیحة الولد
- ✓ تاریخ بیت المقدس
- ✓ صید الخاطر

علامه ابن جوزي رح دشیعه رخه گرو دمنافقت لامله په پنځه اویاکالني عمر پنځه کاله د زندان ازموېښت هم تېر کړ او بالآخره دزرګونو کتابونو لیکوال دپنځه ورځې ناروغی پس د روژې مبارکې میاشتې په دولسمه دجمعې شپې دمابنام اوماخوستن ترمنځ په خپل کور کې داجل داعي ته لبیک ووایه او دتل لپاره یې له دې نړېدونکې نړۍ سره خدای پاماني وکړه . انا لله وانا الیه راجعون

دده د مرګ اوازې په خپرېدو سره ټول بازارونه وتړل شول ، د جنازې مراسم یې په تاندو سلګیو او ترمو اوښکو په بدرګه په داسې حال کې ترسره شول چې ورځ هم ډېره ګرمه وه ، آن تردې چې خلکو ځانونه په اوبوکې واچول او ډېرو خلکو روژې وخوړلې، دومره زیاته ګڼه ګوڼه وه چې خلکو به دا ورځ ، د حشر ورځې سره تشبه کوله . او دا علمي خزانه په (باب حرب) کې دامام احمدبن حنبل رح ترڅنګ خاورو ته وسپارل شوه. الله تعالی دې په جنتي نعمتونو ونازوي. آمین.

د پیر روښان غوره ویناوې

محمدآصف مسعود

- که دهرکارپه پیل کی له لږ فکراوعقل څخه کارواخلی هیڅکله به له ماتی اوخنډ سره مخامخ نه شي
- بی فکره کارتباهی ده.
- ډیرفکراوژورفکرانسان له بدیوڅخه ژغوری.
- دخدای ج په ذات کی فکر زه وهغی اندازی ته ورسولم چی نورمی ځان هیرکړ اویوازی می خدای لیدلی.
- په ځآن کی فکر ددی لپاره مه کوی چی ځنګه یاست ددی لپاره یی وکری چی تاسوخدای ځنګه پیداکړیاست.
- دخدای په شان کی فکر تر هر ډول فکر ډیری ښه دی.
- ترټولوښه فکرهغه فکر دی چی دنورودهوسایی لپاره وی.
- ما ددی لپاره دخدای فکرپرینبود او د خلکو په فکر کی سوم چی دهر خالق په خپل مخلوق خوابدیږینو ما د خدای دمخلوق حال بد ولید او توری ته می لاس کړ او د هغه د مخلوق په فکر کی شوم.
- بی احترامه هرځای ترټلی او خوار وی.
- دځان احترام کول دخدای احترام کول دی.
- دبشر مشکل دادی چی په نوره نړۍ کې خدای پلټی په داسی حال کی چی خدای خپله دده په جسم کی دی.
- بشربه هغه وخت یونیکمرغه موجود وای چی نفس اوشیطان یی ملګری نه وای.
- اې بشره! دهغه خالق عبادت اوبنده ګی وکړه چی ته یی اشرف المخلوقات وګرځولی.

غزل

شاعر: عرفان الله عرفاني

د زړه پر دښته مې ګلونه کرم
د حقیقي مینې تخمونه کرم

د تخیل په دنیاګۍ کې ګرځم
پر ګودرونو چنارونه کرم

چې د پردو پر کروندو ګډ نه شي
خپل نوي نسل ته فصلونه کرم

تږي نرګس ته وږم اوبه لپه کې
ځم د لونګو نهالونه کرم

آبادومه بیا د عشق رنګ کلی
مات شویو زړونوته ټپونه کرم

ما د جُنُون بشپړ کتاب لوستی دی
د چم مئینو ته نازونه کرم

تیارې ترمه د رڼا په زنځیر
د سپینوستورو مشالونه کرم

(عرفاني) راکړه له معنا ډک توري
زه مې جانان ته غزلونه کرم

ښه موکه

شاعر: سیف مومند

دغلیم دپرځولو ښه موقعه ده
دخپل پور دنغدولو ښه موقعه ده

نوردړنګ کمرپر سربانديې ولاړدئ
دمغرب دغورځولو ښه موقعه ده

په سنتو پسی ورکو لارویانو
نن دفرض ژوندی کولوښه موقعه ده

دکوثر دمیو تګیو مینانو
دارمان دریږ ولو ښه موقعه ده

سپین بیرغ لکه سپین باز داسیازړه کی
یوځل بیادر پولو ښه موقعه ده

شهیدانوېئ کړې لارې قالین فوشی
دسپرلیو دراتللو ښه موقعه ده

جنت خلاصه غیبره مخامخ موجود دئ
په یوګام کی دورتللو ښه موقعه ده

ډک ټوپک اوغزالان دغره لمن کی
(سیفه) دادښکار کولو ښه موقعه ده

SHAHAMAT

دا هغه عالمانه، فاضلانه او د علمي محتوا نه ډک کتاب دی، چې پکې د اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه‌الله لخوا د هيواد د ازادۍ ننګياليو مجاهدينو ته د اسلامي شريعت دحکمونو په رڼا کې مهمې او ګټورې لارښوونې شوي او هغوی يې خپلو اسلامي او افغاني مسئوليتونو ته متوجه کړي.

ياد کتاب په وروستيو کې د افغانستان اسلامي امارت فرهنګي چارو کميسيون دتأليف او ترجمې څانګې لخوا په (۱۱۴) مخونو کې په ښکلي صحافت، راښکونکي ډيزاين او په اعلی کاغذ کې (۵۰۰۰) تيراژ له چاپه وتلی؛ د مجاهدينو او عامو مسلمانانو ته يې لوستل علمي، سياسي او جهادي ګټې لري.